# غزه

## د ایمان مضبوط او مقاوم سنگر

مؤمن او منافق، صادق او کاذب ئې جوت کړل

**حکمتیار**

# غزه

**د ایمان او آزادۍ مضبوط او مقاوم سنګر**

د کفر او نفاق ګډې جبهې تر سختو بریدونو او محاصرې لاندې
که امت نن له غزې او لومړۍ قبلې دفاع ونه کړي
سبا له حرمین هم دفاع نه شي کولی
د فلسطین وروستۍ پېښې، په اړه ئې غرضي قضاوتونه
په اشغالي فلسطین کې د صهیونست قلابي دولت جوړیدا شالید

## حکمتیار

### د حزب اسلامي افغانستان امیر

## د کتاب پېژندنه:

نوم: غزه د ایمان مضبوط او مقاوم سنگر

لیکوال: حکمتیار

لومړی طبع: میزان ١٤٠٤

د چاپ شمېره: ١٠٠٠ توکه

قیمت: ٤٥ افغانۍ


**د چاپ ټول حقوق محفوظ دي**


د میثاق ایثار نشراتي اداره

کابل - دارالامان

Tel: ۰۷۷۰۴۰۱۰۱۷

# فهرست


عنوان صفحه

مقدمه ---------------------------------------------------------- ۱

غزه د ایمان مضبوط او مقاوم سنگر ------------------------------ ۵

د آزادۍ لپاره د فلسطیني مجاهدینو خوځښتونه او قربانۍ ------ ۵

لومړی پاڅون چي د انتفاضې په نامه یاد شوی ------------------ ۶

دوهمه انتفاضه څنګه پیل شوه ------------------------------- ۱۰

د حماس ۷ اکتوبر عملیاتو شالید --------------------------------- ۱۲

د ۷ اکتوبر او د ۱۹٦۷ کال ٦ ورځني جنګ مقایسه ------------ ۱۵

د فلسطیني مقاومت په اړه د ځینو ناسمه رأی ------------------ ۲۳

او د قتال په اړه د دوی غلطه فتوی! ---------------------------- ۲۳

د امریکا سفیر او په محکمه کي د نتنیاهو حمایت -------------- ۳۷

فلسطینیانو او اسلامي امت ته د عدم مقاومت غلطه مشوره -- ۳۸

له دښمن سره سوله کله جائز ده او کله ناجائز؟ ---------------- ٤۳

له دښمن سره تر هغه له تصادم ډډه چي توازن رامنځته شي!!- ٤٦

د ۷ اکتوبر عملیاتو تفصیل ------------------------------------ ٤۷

د حماس مجاهدینو د عملیاتو اساسي اهداف ------------------ ٤۹

د ۷ اکتوبر برید او د ۱۹٦۷ کال جګړي ته له بل اړخ کتنه ----- ۵۲

مذهبي جنون، د یهودانو عام وژني او په ډله ایز ډول ایستني-- ۵۵

د یعقوب علیه السلام اولاد ولي د یهود په نامه مشهور شول؟-- ۵۹

امریکا له یهودانو سره څه کړي -------------------------------- ۵۹

امریکا یهودانو ته څه ورکړل؟ ------------------------------------ ٦١
امریکا ولي صهیونست پاله تګلاره غوره کړې؟------------------- ٦٥
امریکا ولي په خپلو مستعمراتو کې یهود مهاجرین ونه شړل؟ --- ٧١
د اسرائیل اوسنی دولت کله او د چا له لوري جوړ شو؟ -------- ٧٣
او یهودان کله او له کومو هېوادو ورانتقال شول؟-------------- ٧٣
د اسرائیلي دولت د جوړېدو شالید: ---------------------------- ٧٣
یهودان کله او له کومو هېوادو فلسطین ته راوستل شول؟------ ٧٥
د فلسطینیانو د هجرتونو دردناک تاریخ ------------------------ ٧٦
د ١٩٦٧ شپږ ورځنۍ جګړه او د فلسطینیانو دوهم هجرت ---- ٧٧
د جمال ناصر کودتا او دې ته ورته کودتاګانو لړۍ -------------- ٧٨
د مصري کودتا مشر محمد نجیب څوک وو؟------------------- ٧٨
د امریکا او شوروي تر منځ سوړ جنګ کې د فتح ګوند لوری --- ٨٥
له ایراني چارواکو سره لیدني ------------------------------------ ٨٨
جمال ناصر او د اخوان المسلمین ځپل ------------------------- ٨٨
جمال ناصر او له اسرائیل سره د ١٩٦٧ کال ٦ ورځنۍ جګړه---- ٩٤
د امریکا او اسرائیل سریع او سخت غبرګون ------------------- ٩٧
د عربي ائتلاف ماته د فلسطینیانو لپاره بله فاجعه ------------ ١٠٠
درېیم ډلهییز هجرت (٢٠٢٣-٢٠٢٤) او د غزې ستره فاجعه -- ١٠١
د حماس برید د اسرائیل غرور مات کړ ----------------------- ١٠٤
نن اسرائیل دوه بدیلونه په مخ کې لري: ---------------------- ١٠٦
اسرائیل ولي د اوربند معاهده نقض کړه؟ --------------------- ١٠٦
کله او څنګه د اوربند حالت کې جګړه بیا پیل شوه؟ ---------- ١٠٧
امریکا او اسرائیل ولي اوربند او د حماس شرائط ومنل؟ ------- ١٠٨
د نتنیاهو ګواښونه چې غزه نیسي او د ټرمپ مبهم غبرګون --- ١١٠
د مظلوم مسلمان په وړاندي د مسلمانانو دیني وجائب------- ١١٥
غلطي فتوی ګاني او ناسم تحلیلونه ------------------------- ١٢٠

له غلط شوو مفتیانو څو پوښتني ---------------------------- ۱۲۸
د غزې په جنګ کې د امریکا ونډه ---------------------------- ۱۴۵
په دوحه کې د حماس مشرانو د وژلو توطئه افشاء شوه ------- ۱۴۶
امریکا په کوم لوري روانه ده؛ په څوړ که په لوړ؟------------ ۱۴۹
له ټرامپ سره په رسټورانټ کې څه وشول؟--------------------- ۱۵۳
تتمه ----------------------------------------------------- ۱۵۵
د فلسطینیانو د آزادۍ او ژغورني بدیلونه --------------------- ۱۵۵

بسم الله الرحمٰن الرحيم

## مقدمه

دا ثابت او نه بدلېدونکی الهي سنت دئ چې ستر، ظالم او مفسد ځواکونه به د خپل غرور او بدمستۍ په اوج کې؛ د هغه چا په لاس نسکورېږي چې تر ټولو زيات مظلوم، مقهور او مستضعف پاته شوی؛ د نړۍ ستر فرعون به د بني اسرائيل په څېر مظلوم قوم؛ هغه چې زامن ئې ذبح کېدل او له لوښو ئې وينځې جوړېدې؛ زوال مومي؛ تل او د زمانې په هر پړاو کې به؛ همداسې کېږي، موږ په يوې پېړۍ کې د دوو زبر ځواکونو؛ بريتانيا او شوروي؛ ماته او زوال په خپلو سترګو وليدو او د درېيم بې رقيب ځواب ماته او له افغانستان تش لاس او شرمناك وتل. نړۍ به هيڅ کله له داسې يوه مؤمن او مجاهد ټولې خالي نه وي چې له حق دفاع کوي، د ظلم او ظالمانو خلاف د مبارزې سنګر پرانيزي، مظلومان ئې په خوا کې راټولېږي، عدالت غوښتونکې او آزادي غوښتونکې ئې ملګرتيا کوي، بريا ئې په برخه کېږي؛ د تاريخ مسير بدلېږي، د ظلم او استبداد ماڼۍ نسکورېږي. که پرون افغان جهاد د دې الهي سنت مصداق وو نن ئې د فلسطين مؤمن مجاهدين حماس او جهاد اسلامي مصداق دئ.

د حماس له لوري د ۲۰۲۳م کال اکتوبر ۷ مې عملياتو نړۍ حيرانه کړه؛ په داسې حال کې چې د فلسطين قضيه په هېرې شوې سړې او زړې قضيې بدله شوې وه، ټول فلسطين د تل ابيب تر هيمنت لاندې وو؛ د تش په نامه خپلواکې ادارې په شمول، غزه له زمکې، فضاء او بحر د اسرائيل له لوري په بشپړ ډول محاصره وه، عمليات ډېر دقيق، ناڅاپي،

ستړ او بریالي وو؛ د صهیونستانو پښې ئې ولړزولې، حیثیت ئې په خاورو ولړلو؛ د هېواد دننه او بهر ئې وشرمولو، ۲۳ میاشتې ئې خپل ټول زور ځواك وكارولو، له هیڅ جنایت ئې ډډه ونه كړه، په دې موده كې ئې تر ۶۰۰۰۰ زیات ښځې، ماشومان او ملكي وګړي ووژل، هره ورځ ئې حد اوسط ۳۲۰ تنه وژلي او ټپي كړي، ۹۰ سلنه غزه ئې ورانه كړه، خو ونه توانېدل د غزې مجاهدین وځپي، خپل اسیران آزاد كړي، د حماس پټ سنګرونه او تر زمكې لاندې تونلونه كشف او تخریب كړي؛ د غرب او په سر كې ئې د امریكا بشپړ او پراخ حمایت او مرسته ورسره وه، په فضاء كې سپوږمكۍ او پر زمكې پراخ او پېچلی استخباراتي جال؛ خو نه ئې د اسرائیلي اسیرانو د ساتنې محل پیدا كړ او نه د مجاهدینو تر زمكې لاندې تونلونه.... په پای كې مجبور شول داسې اوربند ته غاړه كښېږدي چې د حماس ټول مهم شرائط په كې منل شوي وو؛ لكه له غزې د ټولو اسرائیلي ځواكونو وتل، د هر اسرائیلي اسیر په بدل كې ۵۰ فلسطیني زندانیان آزادول، خپلو مېنو ته د فلسطیني مهاجرینو ستنېدل او د اسكان لپاره ئې لازم تسهیلات برابرول؛ په دې معاهدې عمل پیل شو، څو ځله اسیران هم تبادله شول؛ ډېر مهاجرین هم ستانه شول؛ خو صهیونستي ځواكونو ناڅاپي، له اعلان پرته او په یو اړخیز ډول؛ ستړ عملیات پیل كړل چې لړۍ ئې تر ننه روانه ده؛ دا عملیات تر وړاندې ډېر شدید او پراخ او تلفات ئې تر دوه ځله زیات ول. له دې هم تل ابیب نه یوازې څه لاسته راوړنه نه درلوده؛ بلكې د كور دننه او بهر په پراخه پیمانه وغندل شو؛ اوس ګواښونه كوي چې غواړي ټوله غزه یا د غزې ټول ښار ونیسي؛ د رسنیو راپورونه متناقض دي؛ د نتنیاهو امنیتي كابینې هم دا پرېكړه تأیید كړه؛ د دې پرېكړې په وړاندې نړۍوال غبرګون؛ په ځانګړې توګه د اروپايي هېوادو او له امریكا پرته د اسرائیل د ټولو غربي حامیانو عكس العمل ډېر توند، جدي او فوري وو؛ په كلكه ئې وغندله او ډېرو وویل: د فلسطین مستقل دولت به رسماً ومني.

فلسطین په دوو برخو وېشل شوی؛ ۱- هغه برخه چې انګرېزانو له

فلسطین بېله کړي او صهیونستي دولت ئې په کې جوړ کړی؛ ۲- هغه برخي چي صهیونستي دولت د ۱۹٦۷م کال ٦ ورځنۍ جګړي په ترڅ کي ونیولې؛ د غزې ترانګه او د اردن سند غربي غاړه؛ دواړه یوه له بلي بېلي او تر منځ ئې نژدې دري دېرش کیلومتره د اسرائیل تر بشپړ واك لاندي پرته سیمه، که څوك وغواړي له غزې غربي غاړي ته ولاړ شي نو د اسرائیل له لاري به لومړی اردن ته ځي، بیا مصر ته او له هغه لاري به غزې ته ځي؛ دا دوه اشغال شوې سیمي د اوسلو موافقې له مخي نیمه خپلواك فلسطیني ادارې ته سپارل شوې، چي په سر کي ئې د فتح ګوند مشر محمود عباس دئ؛ هغه د حماس خلاف له تل ابیب سره همغږي لري، له حماس سره ئې عداوت او کینه تر اسرائیلیانو هم زیاته ده؛ څو ځلي ئې له اسرائیل او حامیانو ئې غوښتي چي حماس له غزې وباسي او واك ئې ده ته وسپاري!! د اوسلو معاهدې له مخي د غزې او غربي غاړي تر منځ د زمکني تګ راتګ لپاره خوندي لاره ټاکل شوې وه، خو په (۱۹۹۹-۲۰۰۰) کلونو کی د انتفاضې له پاڅون وروسته؛ دا لار بنده شوه؛ تل ابیب د معاهدې له ډېرو نورو برخو سره هم دې ته ورته چلن کړی، یوازي هغه برخي ئې عملي شوې چي د تل ابیب په ګټه وې.

ما هغه مهال د دې لیکني ضرورت احساس کړ چي د ۷ اکتوبر عملیاتو په غبرګون کي مي د حماس خلاف د داعش ډلي د یوه ویاند اعلامیه واورېده چي د تور بیرغ خوا کي ولاړ دئ او په زور شور سره ئې د حماس په ضد د جنګ اعلان وکړ؛ ورپسې مي د مصري سلفیانو غلطي اسلام ضد او د مروت خلاف تبصرې او فتوی ګاني واورېدې؛ او ځینو نورو داسي لیکني، قضاوتونه او تحلیلونه درلودل چي د قرآني لارښوونو له مخي د منافقینو ویناوو ته ورته وو. هغه مهال مي په څو لنډو لیکنو اکتفاء وکړه؛ خو کله چي د یوه پاکستاني لیکوال داسي لیکنه د ځوابولو لپاره چا راولېږله چي په هغې کي فلسطیني مجاهدینو ته د مشورې او خواخوږۍ په بڼه کي ویل شوي وو: فلسطینیانو او اسلامي امت ته په کار ده تر هغه صبر وکړي، د صهیونستانو خلاف له وسله والي مبارزې او

نښتو ډډه وکړي، له الله تعالی سره خپل تعلق مضبوط کړي، .... او انتظار وکړي چي الله تعالی پخپله وضعیت بدل کړي؛ تر دې وړاندي چي د دښمنانو او مسلمانانو تر منځ د نظامي ځواك او جنګي تجهیزاتو له پلوه توازن نه وي رامنځته شوی؛ وسله واله مبارزه ځان وژنه او په تهلکه کې ځان غورځول دي چي قرآن تري ممانعت کړی... نو دا هغه څه وو چي له امله ئې ما د تفصیلي لیکني پرېکړه وکړه؛ ځکه دا د قرآن د څرګندو لارښوونو خلاف، تحریف ته ورته قضاوت او فتوی او د هغو سرکاري مفتیانو رأی ده چي غواړي د فلسطین په اړه د خپلو حکامو ناسم او د اسلام او مروت خلاف دریځ توجیه کړي.

ما هڅه کړې د فلسطین قضیه په لږ تفصیل سره وڅېړم، وښیم چي دا لانجه څنګه او کله رامنځته شوې؟ صهیونستي دولت کله او د چا له لوري او د کومو موخو لپاره جوړ شوی؛ یهودان د چا د منصوبې مطابق د نړۍ له ګوټ ګوټ فلسطین ته راانتقال شوي؟ حامیان، مدافعان او مرستندویان ئې څوك دي، له دې دفاع او مرستو څه ترلاسه کول غواړي؟ فلسطینیانو د اشغال خلاف څه کړي، د خپلواکۍ ترلاسه کولو لپاره ئې کومي تګلاري آزمویلې، له کومو کومو پړاوونو تېر شوي او اوسني حالت ته رارسېدلی؟ په داسي حالت کې چي فلسطینیان پرون او نن ورسره مخامخ دي؛ د دوی دیني وجیبه او مسئولیت څه دئ؟ د دوی په وړاندي د ټول اسلامي امت شرعي دنده او فریضه څه ده؟ ما ته غزه او دردناك وضعیت ئې یوه ستره الهي آزموینه برېښي؛ په دې سره مؤمن او منافق، د ایمان په دعوی کې صادق او کاذب، د اسلام او مسلمانانو پټ او څرګند دښمنان؛ او اسلام ته ژمن ډلي او شخصیتونه پېژندل شوي او تفکیك شوي. د فلسطینیانو د واقعي او عاجلي بریا لپاره دعاء کوم او له الله تعالی د خپلو ایماني مسئولیتونو اداء کولو توفیق او سعادت غواړم. آمین

حکمتیار

## غزه د ایمان مضبوط او مقاوم سنګر

### د آزادۍ لپاره د فلسطیني مجاهدینو خوځښتونه او قربانۍ

په فلسطین کې د انګرېزانو په لاس د صهیونستي دولت د تأسیس له ورځې بیا تر ننه؛ په دې ۷۷ کلونو کې؛ د خپلواکۍ او استقلال لپاره؛ د فلسطینیانو اوږد، له کړاوونو، لوړو ژورو ډک مقاومت، سرښندنې، صبر، ثبات او استقامت؛ د تاریخ زرین او مثالي باب دئ؛ په ارزښت او اهمیت ئې یوازې هغه ښه پوهېږي چې قضایاوو ته د ایماني معیارونو په رڼا کې ګوري؛ داسې څېړونکو او قضاوت کوونکو ته د مؤمنو، مجاهدو او مقاومو فلسطینیانو د اوږدې مبارزې هر پړاو او هره تګلاره او دریځ؛ د مضبوط ایمان نښه او د خپلواکۍ په څېر سپېڅلو آرمانونو لپاره هرې قربانۍ ته د دوی چمتو والی ښیي؛ له مختلفو پړاوونو تېر شوي، ډله ایزو هجرتونو ته اړ شوي، له هر لوري؛ زمکې، فضاء او سمندر محاصره شوي، د امت حکامو او په ځانګړې توګه ګاونډیانو یوازې پرېښې، داسې سختې ورځې پرې راغلې چې ډېرو انګېرلې د دوی مقاومت ځپل شوی، نه ئې بیا پیل ممکن دئ او نه دوام؛ خو لا لنډه موده نه ده تېره شوې چې بیا پاڅېدلي، له کلك هوډ او عزم سره میدان ته راوتلي، تر وړاندې لا زیات ډاډ او اطمئنان او پر خپل رب لا زیات توکل او اعتماد سره؛ صفوف ئې مزدحم او پر حتمي بریا ئې یقین کلك، مضبوط او غیر متزلزل.

که د فلسطیني مجاهدینو د مقاومت دریو وروستیو پړاوونو ته دقیقاً ځیر شو نو همدا حقیقت زموږ مخې ته راځي؛ لومړۍ انتفاضه (له ۱۹۸۷ تر ۱۹۹۳ پورې)، دوهمه انتفاضه (له ۲۰۰۰ تر ۲۰۰۵ پورې)، او په ۲۰۲۳ م کال د اکتوبر په ۷ د حماس ستر او تاریخي عملیات؛ د

دې حقیقت څرګند ثبوت دئ؛ ښيي چې په ۳٦ کلونو کې هغوی درې ځله پاڅېدلي، کله ئې د دښمن خلاف او د خپلواکۍ ترلاسه کولو لپاره یو ډول او کله بل ډول مبارزه کړې؛ په پای کې ئې دښمن خپلو شرائطو منلو ته اړ کړی؛ هر ځل ئې هغه څه کړي چې ورته مقدور وو او هدف ته د رسېدو مناسبه او رغنده لار ورته معلومه شوې؛ د خپلو انساني حقوقو او خپلواکۍ ترلاسه کولو په ارتباط ئې تر هغه غوره بل بدیل نه دئ موندلی؛ د فلسطین اوږد مهاله اشغال، د فلسطینیانو ظالمانه ځورونې، بد اقتصادي حالت، د دوی خلاف بې رحمانه نژادي او مذهبي تبعیض، له ټولو انساني حقوقو محرومیت، د سیاسي حل نشتون، په اشغالي سیمو کې د یهودانو لپاره ښارګوټي جوړول او فلسطینیان له خپلو زمکو او مېنو وتلو ته اړ کول، .. دوی مجبور کړي کله په یوې بڼې او کله په بلې؛ د مثبت تغییر هڅه وکړي؛ د ظلمونو او تېریو خلاف عکس العمل وښيي او خپلواکۍ ترلاسه کړي. راشئ دا درې واړه له نظر تېر کړو:

## لومړی پاڅون چې د انتفاضې په نامه یاد شوی

لومړۍ انتفاضه له هغه وروسته پیل شوه چې یوې اسرائیلي لارۍ ګڼ شمېر فلسطیني کارګران ووژل، د غزې د بیت حانون سرک پر یوې څنډې؛ یوې اسرائیلي پوځي لارۍ؛ د فلسطینیانو له یوه ملکي موټر سره ټکر وکړ؛ په موټر کې ناست۴ فلسطیني کارګران ووژل شول او لږ تر لږه ۹ نور ټپیان شول؛ د سیمې خلکو دا یوه عمدي پېښه وګڼله؛ او دا ځکه چې یوه ورځ وړاندې یو اسرائیلي سوداګر د یوه فلسطیني لخوا وژل شوی وو، فلسطینیانو دا عمدي ټکر د غچ اخیستلو پېښه وګڼله؛ د جنازې په مراسمو کې زرګونو کسانو شرکت وکړ؛ ورپسې پراخې مظاهرې وشوې، د مظاهرو څپې له جبالیا ټولې غزې ته او بیا لوېدیځې غاړې ته خپرې شوې، نژدې شپږ کاله ئې دوام وکړ او په ۱۹۹۳م کې د اوسلو پر موافقې منتج شوه؛ له څو کلونو سختو مظاهرو، ملکي سرغړونو، اسرائیلي فوځي ګاډي په تیږو ویشتلو،... وروسته، د اسرائیل او فتح ګوند

د استازو تر منځ؛ د ناروې په اوسلو کې په پټه لیدنې پیل شوې؛ په ۱۹۹۳م کال د سپټمبر په ۱۳مه؛ په واشنګټن کې د اوسلو موافقه لاسلیک شوه؛ چې له مخې ئې د فلسطین خپلواکه اداره جوړه شوه او همدې ادارې د اسرائیل شتون په رسمیت وپېژاند؛ د یاسر عرفات فتح ته د همدې تنازل له امله د فلسطیني ادارې مشري وسپارل شوه. دا خائنانه تجربه یوازې په فلسطین کې نه؛ بلکې د آزادۍ په ټولو خوځښتونو کې؛ د افغانستان په شمول په وار وار تکرار شوې؛ هم شوروي اتحاد د وتلو په وخت کې اقتدار یوې داسې معامله ګرې ډلې ته وسپارو چې د جهاد په دوران کې ئې له شوروي سره پټې سازشونه کړي وو او د اصلي مجاهدینو خلاف ئې د روسانو ملګرتیا کوله؛ او امریکا د وتلو په وخت کې همدا کار وکړ؛ له ټولو افغاني ډلو ئې یوازې هغه غوره کړه او اقتدار ئې وروسپارو چې د امریکا شرائط ئې ومنل او ژمنه ئې وکړه چې د امریکا مخالفینو ته به اجازه نه ورکوي د افغانستان خاوره د امریکا او د هغې د دوستانو خلاف وکاروي؛ که دا د امریکا سیمه ایز او نړۍوال سیالان دي او که افغان جهادي- سیاسي ډلې.

د (فتح) ګوند په انتفاضه کې نه یوازې هیڅ ونډه نه درلوده؛ بلکې مخالفت ئې کولو؛ په پټو سازشونو لګیا وو؛ د اوسلو معاهده د همدې پټو معامله ګریو نتیجه وه؛ لومړۍ انتفاضه (۱۹۸۷م) په غزې کې د خلکو عام پاڅون وو؛ د هغه حماس له لوري پیل شو چې بنسټګر ئې شهید شیخ احمد یاسین وو؛

شیخ احمد یاسین رحمه الله د فلسطیني جهاد او مقاومت فکري لارښود او بنسټګر وو، د ده ونډه د عملي مقاومت په پیلولو کې ډېره لوړه او ځلانده وه؛ د هغه ټول ژوند او شهادت د فلسطیني تاریخ یوه مهمه او ځانګړې زرینه پاڼه ده. په ۲۲ مارچ ۲۰۰۴م؛ د غزې ښار کې هغه مهال شهید شو چې د فجر له لمانځه وروسته؛ له جومات د وتلو په حال کې؛ اسرائیلي الوتکو د هغه پر موټر درې توغندي وتوغول؛ په دې برید کې چې د اسرائیل صدر اعظم آریل شارون په مستقیم امر

ترسره شو؛ شیخ احمد یاسین او څو ساتونکي ئې شهیدان او لسګونه نور پلویان ئې ټپیان شول؛ دا مهال ئې عمر شاوخوا ۶۷ کاله وو؛ په ځوانۍ کې ئې د ملا تیر صدمه لیدلې وه چې له کبله ئې ځیني غړي فلج شوي او ټول عمر د ویل‌چیر (ټیر لرونکې لاسي کراچۍ) کارولو ته اړ شوی وو؛ د سترګو لید ئې هم صدمه لیدلې وه؛ سره له دې ټولو سختو صحي ستونزو؛ یو اغیزمن ویاند او د ژور فکر او لید لوري خاوند او د حماس فکري او معنوي لارښود وو؛ جهاد او مقاومت ته د فلسطینیانو په چمتو کولو کې د ده ونډه ډیره ځلانده او پراخه وه. د هغه شهادت د حماس لپاره د ملاتړ څپه لا پیاوړې کړه او دوهمه انتفاضه (انتفاضة الأقصى) ئې لا ډیره څپانده کړه.

شهید احمد یاسین په فلسطین کې او د اسرائیل د صدر اعظم په امر شهید شو؛ خو یاسر عرفات په همدې کال ۱۱ نومبر ۲۰۰۴م، فرانسې ته د علاج لپاره تللی وو؛ په داسي حال کې چې فرانسه د اسرائیل ستر حامي او د هر اسلامي خوځښت نه پخلا کېدونکی دښمن پاته شوی؛ هملته په پرسي فوځي روغتون (Percy Military Hospital) کې ومړ! ټوله شتمني ئې فرانسوۍ مېرمني ته پاته شوه؛ مشهوري رسنۍ ئې شتمني له یو تر درې ملیارد ډالرو پوري ارزوي؛ Forbes د عرفات د شتمني اندازه شاوخوا ۳۰۰ میلیونه ډالره اټکل کړې، خو امریکایي چارواکي بیا دا تر ۱ میلیارد ډالرو پوري؛ CBS News ئې شخصي شتمني د ۱ او ۳ میلیاردو ډالرو ترمنځ بولي،Time Magazine لیکلي: په نولس کلونو کې عرفات شاوخوا ۳ میلیارد ډالر شتمني درلوده، خو د مرګ په وخت کې کېدی شي یو میلیارد ډالر پاته وو. ده په ټولو فلسطیني مېرمنو کې داسي مېرمن ونه موندله چې د خپل ژوند د ملګرې او د خپل اولاد د مور او د خپلو شتمنیو د وارثې په توګه ئې غوره کړي!! فرانسه په اسلام دښمنۍ کې اوږده او ډیره توره سابقه لري؛ د صلاح الدین ایوبي له دور نیولې تر ننه ئې دوام کړی؛ هغه مهال ئې هم ښایسته پېغلې د خبریالانو په پوښښ کې د امنیتي او استخباراتي مأموریتونو لپاره لېږلې؛ د افغانستان

په جهاد کې ئې هم دا کار کړی؛ بې فرهنګ، بې هدف او سپېڅلو آرمانونو ته غیر متعهد افراد ئې په لومو کې نښتي او د اسلام او جهاد په ضد ئې ترې استفاده کړې. ښايي سوها عرفات هم له دې ډلې وه.

دا پېښه هم په يادولو ارزي چې ياسر عرفات په ۱۹۹۲م کال کې له سوډان تونس ته د تګ په دوران کې؛ الوتکه ئې د طوفان له امله د ليبيا په صحرا کې بېړنۍ ناستي ته اړه شوه؛ څو ساعته په شګلن ډاک کې له ارتباط پرته پاته وو او هيڅوك ئې له برخليك خبر نه وو؛ خو د امريکايي سپوږمکيو په مرسته ئې ځای مشخص او وژغورل شو!! يعني چې د هغه مرګ نه بلکې ژغورنه د امريکا په ګټه وو!! له پلويانو پرته؛ د ټولو څېړونکو؛ په ځانګړې ډول د فتح د مخالفينو تعبير همدا وو.

د فتح ګوند نه په لومړۍ او دوهمې انتفاضې کې څه ونډه درلوده او نه د حماس په عملياتو کې؛ تل ئې د پټو سازشو له لاري قدرت ته د رسېدلو ناولې هڅې کړې؛ د آزادۍ د تحريك د کورني او پټ دښمن په توګه ئې عمل کړی؛ په پای کې ئې د ملت او هېواد له دښمنانو سره؛ د آزادۍ ولسي تحريك خلاف ګډ دريځ او تګلاره غوره کړې؛ په عملي ډګر کې فلسطيني ولس او د دوی له متن راپاڅېدلې ډلې؛ حماس او اسلامي جهاد؛ د خپلواکۍ لپاره جنګېدلي او قربانۍ ئې ورکړې؛ ليبرالانو او سيکولرانو؛ هم په فلسطين او هم په افغانستان او نورو هېوادونو کې؛ ورته دريځ او کړنې درلودې؛ فلسطينيان ئې بايد له خپلو افغاني وروڼو زده کړي او افغان مجاهدين ئې له فلسطيني وروڼو.

که فلسطيني مبارزين؛ په يوې خاصې مرحلې کې؛ د فتح په ليکو کې تنظيم شوي؛ د آزادۍ په خوځښت کې ئې ونډه وه؛ خو فکري او اعتقادي ضعف، د مقاومت معنوي اړخ ته عدم اعتناء، ليبرالي تګلاره او سياستونه د دې باعث شو چې معامله ګره ډله ترې جوړه شي؛ په ټوله کې د مبارزې اوږدېدا، له ولس تجريد او منزوي کېدا، په ولس کې د اسلامي جهادي ګوندونو پراخ نفوذ او د انتفاضې په څېر برياليي خوځښتونه او په پای کې د حماس وروستي عمليات؛ د فتح ډله د دښمن په دام کې لوېدو ته

وهځوله. د ۱۹۹۳م اوسلو تړون هم له همدې عواملو زیږېدلی او د نیمه خپلواکې فلسطیني ادارې مشري فتح ته سپارل هم.

حماس، اسلامي جهاد، د مقاومت نوري مستقلې فعالې ډلې، د فلسطین عام ولس؛ د دې تړون مخالف وو او هغه ئې د تسلیمۍ سند گڼلی او په کلکه ئې غندلی.

د اوسلو تړون له مخې؛ جوړه شوې موقته فلسطیني اداره داسې وه چې واک ئې تر ډېره د اسرائیلو تر څار لاندې وو؛ یعنې اسرائیلي حکومت او فلسطیني مأمورین. اسرائیل او لوېدیځ هیڅکله حاضر نه وو چې سیاسي واک حماس او د فلسطین جهادي مشرتابه ته وسپارل شي.

فلسطینیان ځکه د موافقې له پایلو ناخوښ وو چې نه اشغال پای ته ورسېدو، نه مهاجرین خپلو مېنو ته ستانه شول او نه قدس د فلسطینیانو د مرکز په توگه ومنل شو.

د موقتې ادارې تر نامه لاندې د اسرائیلي پوځ سلطه؛ پر ملکي ادارې د دوی زیاتېدونکی اغېز؛ چې ډېرو خلکو ته دا یوازې د اشغال بله بڼه ښکارېده، د کلونو کلونو بندیزونو، اعتصابونو او تاوتریخوالي دوام او تشدید باعث شو چې د فلسطینیانو اقتصادي وضعیت نور هم خراب او د نه زغملو شي او بل پاڅون او انتفاضې ته لار هواره کړي.

## دوهمه انتفاضه څنگه پیل شوه

دوهمه انتفاضه (۲۰۰۰-۲۰۰۵) هغه مهال پیل شوه چې د کمپ ډېوډ د سولې خبرې ناکامې شوې؛ د اریل شارون لخوا د الاقصی جومات لیدنه د خلکو احساسات راوپارول؛ فلسطینیانو فکر کاوه چې سوله‌ییزه لاره نتیجه نه ورکوي. نژدې پنځه کاله ئې دوام وکړ؛ په ۲۰۰۵م کې ئې د تاوتریخوالي کچه کمه شوه؛ شاوخوا ۳،۰۰۰ فلسطینیان شهیدان او لسگونه زره ټپیان شول؛ تر ۱،۰۰۰ زیات اسرائیلیان ووژل شول. د تاوتریخوالي او دښمنۍ کچه لوړه شوه او د دواړو لوریو ترمنځ بې‌باوري لا زیاته شوه؛ پایلې ئې دا وې:

- د سولې بهیر (اوسلو پروسه) په عملي ډول ودرېده.
- اسرائیل په یوه اړخیز ډول اعلان وکړ چې د غزې په ترانګې کې خپل مراکز تخلیه کوي او ځواکونه باسي؛ دواړه په ۲۰۰۵م کې بشپړ شول.
- د فلسطین سیاسي ډګر کې د فتح تحمیلي سیطره پای ته ورسېده او حماس د مقاومت د مخکښ ځواک په توګه راڅرګند شو او د ولس پراخ ملاتړ ئې ترلاسه کړ، په داسې حال کې چې فتح د پټو او ننګینو معامله ګریو له امله او د سولې ناکامې معاهدې په سبب؛ د فلسطیني ولس له لوري د رټلو او تجرید تریخ خوند وڅکلو.
- صهیونستانو د جلاوالي هغه دېوال جوړول پیل کړل چې د لوېدیځې غاړې ډېری سیمې د فلسطین له ښارونو بېلوي.
- د فلسطیني ښارونو محاصره تشدید شوه.

د تګ راتګ محدودیتونو او محاصرو؛ ورځنی ژوند ستونزمن او د فلسطین اقتصادي حالت لا زیات خراب کړ؛ بې‌روزګاري او فقر لوړي کچې ته ورسېدل.

- د سولې د سیاسي پروسې د بیا پیل هیله، امکانات او ملاتړ کم رنګه شول.
- په فلسطیني ټولنه کې د مقاومت او وسله‌والې مبارزې د تګلارې ملاتړ په پراخه پیمانه زیات شو.

د انتفاضې په اړه د یاسر عرفات او فتح ګوند دریځ له پیل تر پای؛ نه د اصولو، ملي او دیني ارزښتونو له مخې بلکې د سیاسي لوبو؛ فوځې او نړۍ‌والو او کورنیو فشارونو تر اغېز لاندې ټاکل شوی او بېلې بېلې بڼې ئې غوره کړې. تل ئې دا هڅه کړې چې د نړۍ‌وال ملاتړ جلبولو په موخه له انتفاضې د وسیلې په توګه استفاده وکړي؛ که ئې له انتفاضې موقتاً او د یوه مطبوعاتي بیان په کچه حمایت کړی نو د فلسطینیانو د خواخوږي ترلاسه کولو په موخه؛ او که ئې د مخالفت لار غوره کړې نو موخه به ئې دا وه چې نړۍ‌والې ټولنې ته وښیې د وسله وال مقاومت

مخالف دئ، د معاملې او راکړې ورکړې پر سیاست باور لري؛ معتقد دئ چې د فلسطین بحران له دې پرته له بلې لارې نه شي حل کېدی.

کله چې مسجد الاقصی ته د سپکاوي له پېښې وروسته دوهمه انتفاضه پیل شوه، عرفات په علني ډول د دې ولسي پاڅون ملاتړ وکړ؛ خو د پټو تماسونو له لارې ئې هڅه کوله نړۍوالې ټولنې او د اسرائیل حامیانو ته وښیي چې له روان پاڅون او تاوتریخوالي سره موافق نه دئ. که څه هم اسرائیل دی تورن کړ چې په تاوتریخوالي کې لاس لري خو ده په رسمي اعلامیو کې ځان د سولې غوښتونکی معرفي کاوو. له دې لارې ئې هڅه کوله چې له انتفاضې په نړۍواله مستوی سیاسي استفاده وکړي. په دوهمې انتفاضه کې عرفات د دواړو لوریو په منځنۍ کرښې کې ولاړ وو؛ نه ئې وسله وال پاڅون تأییدولو او نه ئې د پاڅون خلاف هغه څه کول چې اسرائیل ترې غوښتل.

## د حماس ۷ اکتوبر عملیاتو شالید

د فلسطین او فلسطینیانو دردناك وضعیت، د صهیونستانو بې انتهاء مظالم، د مخکینیو ډول ډول سیاسي هڅو او عملي تحرکاتو عدم مؤثریت، اوږد مهاله محاصره، د قدس او الاقصی مسجد پر له پسې هتك حرمت، د فلسطیني اسیرانو بد حالت او له هغوی سره ناوړه او غیر انساني چلن؛ په اشغالي سیمو کې یهودانو ته نوي ښارګوټي جوړول، له دغو سیمو د فلسطینیانو ایستل... د دې باعث شو چې حماس په خپلو مخکینیو تګلارو کې تجدید نظر وکړي؛ د "طوفان الاقصی" په نوم اغېزمن، بې ساري، ستر او هیښوونکي نظامي عملیات ترسره کړي؛ په دې ستر اقدام کې ئې دغه ټول عوامل دخیل وو.

نو ویلی شو چې د فلسطینیانو لومړۍ انتفاضه؛ ولسي پاڅون وو، نژدې شپږ کاله ئې دوام وکړ؛ د ۱۹۸۷م کال دسمبر په ۸ مه پیل شوه او تر ۱۹۹۳م کال سپټمبر میاشتې د اوسلو تړون پورې روانه وه؛ یوه جالبه ځانګړتیا ئې دا وه چې فلسطیني ماشومانو او تنکیو ځوانانو هم د

صهیونستانو ټانکونه او فوځي ګاډي په تېرو ویشتل؛ دا صحنې ډېرې جالبې وې؛ په رسنیو کې پراخ انعکاس؛ هم فلسطیني ولس هڅولو او هم ئې د نړۍوالو پر ذهنیت او خواخوږیو پارولو کې ژور اغېز درلود؛ دې پاڅون د فلسطین قضیه احیاء کړه، د نړۍوالو توجه او خواخوږي ئې جلب او وجدان ئې راویښ کړ.

دوهمه انتفاضه چې د الاقصی انتفاضه هم ورته ویل کېږي، د ۲۰۰۰م کال سپټمبر په ۲۸مه له هغه وروسته پیل شوه چې اریل شارون په پاروونکې ډول د الاقصی جومات انګړ ته ننوت؛ او د ۲۰۰۵م تر فبروري پورې نژدې ۵ کاله ئې دوام وکړ؛ او د شرم‌الشیخ غونډې په اوربند پای ته ورسېده. دا انتفاضه؛ نیمه ولسي، نیمه مسلح او له تاوتریخوالي ډکه وه. ویلی شو چې دغه پاڅون د اکتوبر عملیاتو ته لار هواره کړه.

د ۷ اکتوبر عملیات؛ ډېر دقیق، منظم، بې ساري، ناڅاپي او ستر فوځي عملیات ول؛ اغېز ئې ډېر ژور، پراخ او نړۍوال وو؛ مثال ئې په تاریخ کې نه شو موندلی؛ په دې کې صهیونست رژیم په لومړي ځل تر اغېزمن برید لاندې راغلی، جنګیالي له فضا او زمکې د دوی تر سلطې لاندې سیمې ته ننوتي؛ تلفات ئې وراړولي او اسیران ئې ترې نیولي؛ او خوندي ځایونو ته ئې انتقال کړي؛ په نړۍواله کچه ئې د صهیونست رژیم حیثیت داسې مجروح کړی چې جبران ئې ورته ممکن نه دئ. نه یوازې له دې پلوه د تل ابیب حیثیت ته لوی ګوزار وو چې ونه توانېدل له داسې او پراخ نظامي اقدام خبر شي او مخه ئې ونیسي، بلکې له دې پلوه هم چې په تېرو ۲۳ میاشتو کې ونه توانېدل خپل اسیران آزاد کړي او د حماس پټنځایونه، تر زمکې لاندې تونلونه او د زندانیانو د ساتنې ځایونه کشف او تخریب کړي.

څوك چې د فلسطینیانو د اوږدې مبارزې، تګلارو، تکتیکونو، ولسي پاڅون، او وسله وال مقاومت په اړه د قضاوت، څېړنې، تحلیل، تبصرې، فتوی او مشورې جرأت کوي؛ نو عقلاً او شرعاً مکلف دئ دا ټول عوامل

او د عملیاتو شا لید په پام کې ولري؛ که نه نو قضاوت به ئې هغو ته ورته وي چې قرآن ئې داسې معرفي کوي:

**... وَيَقۡذِفُونَ بِٱلۡغَيۡبِ مِن مَّكَانِۭ بَعِيدٖ۝٥٣** سبإ

... او له لرې واټن په غیاب (نه لیدو حالت کې) ویشتل کوي.

یعني د دوی مثال هغه چا ته ورته دئ چې له لرې واټن د داسې هدف په لورې غشې ولي چې ترې پټ دئ، هغه چا ته ورته دي چې په تیاره کې او په پټو سترګو د نامعلوم هدف په لورې کاڼي شړي، د پښتو او فارسي متل دئ چې بې خریطې ډزې کوي؛ آیا داسې کس هدف په نښه کولی شي؟! آیا هغه چې نه د فلسطین له تاریخ او مبارزاتو خبر دئ او نه ئې یوه ورځ په سنګر کې تېره کړې؛ د عملي مبارزې هیڅ تجربه نه لري؛ کولی شي د فلسطین، افغانستان او بل هېواد جهادي تحریك وڅېړي، په اړه ئې قضاوت وکړي او فتوی صادره کړي؟! د دوی ئې له داسې قضاوت او فتوی سره څه؟! هغه چې ټول عمر ئې د مفسدو حکومتونو او ظالمو حکامو تر واك او سلطې لاندې تېر کړی؛ هره ورځ ئې ظلمونه او فسادونه لیدلي خو نه ئې مخالفت کړی او نه ئې د مخنیوي هڅه؛ ساړه او ساکت پاته شوي او د داسې څه له ویلو او کولو ئې ډډه کړې چې ستونزې ورته زېږوي او آرام ژوند ئې ناآرامه کوي؛ دوی نه په سنګر کې د ناستو مجاهدینو احساسات درك کولی شي او نه ئې د درېځونو او تګلارو د تفسیر او تعبیر وړتیا او اهلیت لري. هغه چې د خیر پر غونډۍ ناست وي او له لرې د مجاهدینو په اړه قضاوتونه کوي؛ هغه ته ورته دي چې له د اور په لمبو کې د سوزېدونکي کور ننداره کوي؛ ناڅاپه ئې د کور غولي کې پر یوه داسې کس سترګې لګېږي چې ترپکې وهي، نه له کور د وتلو هڅه کوي او نه آرام ودرېږي؛ ناپوه او سفیه ورته بربښي؛ ګمان کوي چې که دی د هغه پر ځای وی؛ نو حتماً به ئې له اور د وتلو لار موندلې وه؛ خو له دې خبر نه دئ چې هغه د اور لمبو داسې محاصره کړی چې وتل ورته ممکن نه دي؛ په وار وار ئې د وتلو هڅه کړې خو

نه دئ موفق شوی؛ او ترپا ئې له دې امله ده چې تر پښو لاندې زمکه ئې د سرې تبې په څېر دومره سره ده چې پښې ئې بې اختیاره خوځې.

مجاهدینو ته د ځینو ناستو او قاعدینو مشورې او د دوی د تګلارې او دریځ په اړه ئې قضاوتونه او تبصرې همداسې وي؛ د مرستې، حمایت او تأیید پر ځای داسې څه وایي چې د هغوی همت سست کړي او شور و شوق ئې له منځه یوسي؛ ځینې ئې داسې دي چې د فلسطین له اوږدې او خونړۍ غمیزې هیڅ خبر نه دي؛ خو سره له دې تحلیلونه کوي او فتوی ګانې ورکوي.

## د ۷ اکتوبر او د ۱۹٦۷ کال ٦ ورځنې جنګ مقایسه

د۷ اکتوبر عملیات د دوست او دښمن او هر چا تر انتظار لوړ عملیات وو؛ نه یوازې د صهیونستي دولت غرور ئې مات کړ، موساد ئې وشرماوو، رعب ئې له منځه یووړ، ونه توانېدو له دومره سترو عملیاتو؛ له وړاندې خبر شي او مخنیوی ئې وکړي، په ۲۳ میاشتو بې انتهاء وحشت او له بې شمېره او بې سابقې جنګي جنایاتو او نسل وژنو سره ونه توانېدو خپل اسیران آزاد کړي، د حماس تونلونه کشف او تخریب کړي، په داسې حال کې چې په ۱۹٦۷ کې ئې درې ځواکمن عربي هېوادونه؛ مصر، اردن او سوریه؛ په ٦ ورځو کې سخت وځپل او له شرمناکې ماتې سره ئې مخ کړل؛ خو په نژدې دوه کلونو کې؛ ونه توانېدل غزه فتح او مقاومت وځپي، هو؛ غزه ئې په بې رحمانه توګه ورانه کړه، د فلسطین او ملل متحد اړوند ادارو د ارقامو له مخې په تېرو ۷۰۰ ورځو (څه باندې ۲۳ میاشتو) کې ۷۳ زره ۷۳۱ فلسطینیان وژل شوي چې په دې کې شاوخوا ۲۰ زره ئې ماشومان، ۱۲ زره ئې مېرمنې، ۱٦۷۰ د صحي برخې پرسونل او ۲٤۸ خبریالان دي؛ پرته له هغو چې تر ورانو چتونو لاندې پاته شوي او اجساد ئې نه دي ترلاسه شوي؛ تر ۱٦۲ زره زیات ژوبل شوي چې په دوی کې د ډېرو د بدن غړي یا قطع شوي یا فلج شوي او یا ړانده شوي. همدا راز له هغې ورځې چې اسرائیل او امریکا د نړۍوالو فشارونو له امله؛ مجبور شول په خپلې بشپړې محاصرې کې یوازې دومره استثناء ومني چې محدود مقدار خوراکي توکي غزې ته انتقال شي؛ او په

رياكارانه ډول ئې د اسرائيل- امريكا د مرستو ګڼ مركز؛ GHF: Gaza Humanitarian Foundation؛ رامنځته كړ؛ د مرستو د وېش مركزونو خوا ته تر ننه ۲۲۱۸ بې وزلې او محتاج فلسطينيان وژل شوي او ۱٦ زره ٤۳٤ ژوبل شوي!! ډېرى ئې د همدې GHF مركزونو خوا ته د وحشي صهيونستانو تر بريدونو لاندې راغلي.

نو تر ننه د مرګ ژوبلې متوسطه شمېره هره ورځ لږ تر لږه ۳۱۸ تنه ده؛ سره له دې بې انتهاء جنګي جناياتو، نسل وژنې، د ټولې غزې ورانولو، پر ملكيانو، د دوى پر كورونو، جوماتونو، مدرسو، روغتونونو، ماركيټونو، پر هر هغه ځاى چې خلك په كې راغونډ شوي، حتى د ملل متحد له لوري د انساني مرستو د وېش پر غونډو او ... بې درېغه بم او راكټ ورولو؛ نه يوازې د غزې مجاهدينو په ماتولو بريالي نه شول؛ بلكې د اوربند په لومړۍ معاهدې كې ئې د حماس ټول شرائط ومنل؛ لكه: له ټولې غزې د اسرائيلي ځواكونو وتل، د هر اسرائيلي اسير په مقابل كې پنځوس فلسطيني زندانيان آزادول، خپلو سيمو ته د مهاجرينو ستنېدل، د هغوى د اسكان لپاره لازمي مرستې او ... ؛ يقيناً چې حماس په دې عملياتو او ورپسې د مقاومت دوام سره هومره لاسته راوړنې درلودې چې فلسطيني مقاومت په خپل اوږده تاريخ كې هيڅكله نه درلودې؛ د فلسطين نيم ژوانده او هېره شوې قضيه ئې راژوندۍ كړه، دومره نړۍوال ولسي حمايت چې د فلسطينيانو د خپلواك هېواد په ارتباط نن رامنځته شوى؛ مثال ئې تر نن وړاندې نه شو موندلى؛ د نړۍ په لسګونو لويو ښارونو كې؛ د واشنګټن، نيويارك، لندن، پاريس، برلين په شمول؛ د فلسطينيانو په حمايت كې په لكونو خلك؛ مخصوصاً ځوان نسل؛ نجونې او هلكان؛ سړكونو ته راووتل، د صهيونستانو او د دوى د حاميانو جنايات ئې وغندل، همدا اوس د نړۍ ډېرو هېوادونو؛ د انګلستان په شمول چې د صهيونستي دولت مؤسس او لومړنى حامي وو؛ پرېكړه كړې چې د فلسطين مستقل دولت به په رسميت وپېژني؛ امريكا د تل ابيب د حمايت له كبله منزوى او يوازې پاته شوې.

آبله ورځ نفتالی بنت، د اسرائیل مخکیني صدر اعظم؛ د واشنګټن او نیویارک له ۱۰ ورځني سفر وروسته؛ تر دې سرلیك لاندي یو پیغام خپور کړ: (واقعي خبرداری... اسرائیل اوس د نړۍ په نظر کي یو منفور، کرکجن او منزوي هېواد ګرځېدلی)؛ ... هغه اعتراف کړی چي د نړۍ په ډېرو مهمو سیاسي، فرهنګي او ټولنیزو محافلو کي د اسرائیل نوم اوس له کرکي، جګړو، ظلم او اشغال سره تړلی دئ؛ په ځانګړې توګه د غزې په جنګ کي د زرګونو فلسطینیانو د ملکي وګړو وژني د نړۍوالو ذهنیت بدل کړی. نفتالي بنت وایي: د امریکا د خلکو غبرګون ورته ډېر حیرانوونکی وو؛ له عامو خلکو نیولې تر سیاستوالو، د پوهنتون محصلینو، اجتماعي فعالانو او حتی ځینو یهودي ټولنو پوري، زیات شمېر امریکایان د اسرائیل د سیاستونو مخالف دي؛ په تېره بیا د غزې د جګړې له امله. نوموړي دا هم ویلي چي په نړۍوال سیاست کي د اسرائیل موقف او حیثیت سخت زیانمن شوی. د ډېرو هېوادو له خوا ئې د ملاتړ کچه کمه شوې او حتی ځیني اروپایي هېوادونه غواړي د اسرائیلي چارواکو پر ضد د بشري جنایتونو دوسیې پرانیزي. د نړۍ یو شمېر کمپنۍ، پوهنتونونه او تنظیمونه له اسرائیل سره اقتصادي او علمي همکاري ختموي. د "بایکاټ" او مقاطعې دا نړۍوال کمپاین پراخ شوی؛ او د اسرائیل نړۍوال حیثیت ئې خراب کړی. دا اعترافات د اسرائیل یو مخکینی صدر اعظم کوي؛ او دا ښیي چي اسرائیل د غزې د جګړي او په هغې کي د جنایاتو له کبله څومره منفور او منزوی شوی او تر درنو فشارونو لاندي دئ؟! نفتالي بنت دا خبره له خپل هېواد سره د خوا خوږۍ او له بد حالت د ژغورني په موخه کړې؛ مجبور شوی حقائق ووایي؛ په خپل پیغام کي ئې دا هم لیکلي: د داسي چا په توګه چي دلته اوسم او تجارت کوم او کلونه کلونه کېږي چي د اسرائیل لپاره په تبلیغاتو بوخت یم؛ کولی شم په قاطعیت سره ووایم: د اسرائیل وضعیت هیڅکله دومره بد نه وو لکه نن چي دئ؛ نور نو اسرائیل د یوه منفور هېواد په توګه پېژندل شوی. هغه په دې ارتباط چي له اسرائیل د امریکا سیاسي

حمايت هم په کمېدو دئ وويل: د امريکا ديموکرات گوند اوس عملاً له مورږ بېل شوی؛ همدا راز جمهوري غوښتونکی گوند چې تر نن وړاندې مو د هغه پر حمايت حساب کولو؛ اوس ئې له لاسه ورکوو.

څوك چې د فلسطيني قضيې په اړه د څه ويلو، ليکلو او کوم تحليل او تبصرې اراده کوي؛ نو تر هر څه وړاندې بايد هم د صهيونستي دولت د جوړېدو مخينه، شاليد، د مؤسسينو پتې او ځرگندې موخې او هم د مظلوم فلسطيني ولس د مقاومت سوابق، لوږې ژورې، قربانۍ، ستونزې، محاصرې، هجرتونه، د گاونډيو جفاگانې، د اسلامي امت بې اعتنائي، له تل ابيب د لويو طاقتونو بې دريغه او ظالمانه سياسي، نظامي او مالي حمايتونه په پام کې ولري؛ په ځانگړې توگه هغه ليکوالان، شنونکې، مفتيان، خطيبان او سياستوال چې اسلام ته د ژمنتيا ادعاء کوي؛ مکلف دي له حق په دفاع، له مظلوم حمايت، د ظالم مخالفت او مقابله او عادلانه قضاوت او دقيق تحليل کې؛ خپل ايماني مسئوليت اداء کړي؛ د حق وينا په کولو کې له الله تعالی پرته نه له بل چا هيڅ طمع ولري او نه هيڅ وېره؛ په شفاف ذهن سره او له کافي تحقيق او دقت وروسته؛ د قضاوت، فتوی او څه ليکلو جرأت وکړي؛ که د فلسطين مجاهدينو ته کومه مشوره ورکوي؛ نو بايد متوجه وي اسلام مورږ ته دا لارښوونه کړې چې په لمانځه کې د هغه چا فتحه د اورېدو او منلو وړ ده چې په لمانځه کې له امام سره شريك وي؛ نه د هغه چا فتحه چې په صف کې په لمانځه ولاړ نه دئ؛ که امام د داسې چا فتحه قبوله کړي لمونځ ئې فاسد شوی. نو د فلسطين مجاهدينو ته يوازې د هغه چا فتوی او مشوره د منلو وړ ده چې جهاد ئې کړی، په سنگرونو کې پاته شوی، د جهاد په طفيل الله تعالی د هدايت دړې د هغه مخې ته پرانيستلې او د الله تعالی معيت ئې په برخه شوی؛ او دا د قرآن لارښوونه ده چې فرمايي:

وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا لَنَهۡدِيَنَّهُمۡ سُبُلَنَاۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَمَعَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ۝٦٩ العنکبوت

او هغه چې زموږ لپاره ئې جهاد کړی حتماً به خپلې لارې ورونښيو او یقیناً چې الله له دغو محسنینو سره دئ.

د جهاد په اړه د غیر مجاهد مشاور او مفتي رأی، فتوی، مشوره او فتحه د اوریدو او منلو وړ نه ده؛ همغسې لکه د غیر ډاکټر مشوره یوه مریض ته، د بې سواد رأی د یوه لیکوال په اړه. د همدوی له ډلې ځینې داسې انګیري چې اسرائیل یو تاریخي حقیقت دئ؛ منل ئې ضروري، لابدي او حتمي دي؛ ځینې ئې د ۷ اکتوبر پر عملیاتو د بحث او څېړنې حق ځان ته ورکوي او د خیر پر غونډۍ ناست؛ په داسې حال کې د غزې مؤمنو او سرتېرو مجاهدینو ته مشورې ورکوي او پر سیاستونو او تګلارو ئې ملاحظات وړاندې کوي چې نه د دې عملیاتو له څرنګوالي خبر دي او نه د اسرائیلي ځواکونو او فلسطیني مجاهدینو تر منځ د نښتو او مبارزاتو له اوږدې مخینې او تاریخ؛ ټوله معلوماتي پانګه ئې د بي بي سي، امریکا غږ، فیسبوک او ټویټر څو غرضي تبصرې او سطحي پستونه دي؛ ځینې ئې سرکاري مفتیان او اجیر لیکوالان دي؛ په هرې فتوی او تبصرې سره اجوره ترلاسه کوي.

فلسطین په تېرې پېړۍ کې هم او نن په ۲۱ مې پېړۍ کې هم؛ د نړۍ تر ټولو دردوونکې، خونړۍ او زړه قضیه ده؛ د انسانیت په بدن کې ژور پرهار او د ظلم او جنایت وېروونکی داستان؛ د وجدان او شرافت خاوندانو او هغو ته چې په سینه کې ئې د انسان زړه دئ نه د ځناورو؛ د نه زغملو، د هغه انسان ډوله ابلیس د شیطاني منصوبو زېږنده چې خپل زور ځواک ئې د شرارتونو، جګړو، وژنو او ویجاړیو په لار کې کارولی؛ وړوکی هېواد او وړوکی قوم وو؛ خو کله چې باروت په لاس ورغلل؛ متې ئې بر وهلې، بدمستي ئې پیل کړه، د باروت په زور ئې د نورو هېوادو د نیولو خونړۍ لړۍ پیل کړه، د اروپا له شمال وخوځېدو، آسیا او افریقا کې ئې د جګړو اورونه بل کړل، په شرق کې ئې آسټرالیا او په غرب کې ئې امریکا ونیوله، هر ځای چې ئې نحس او نجس ګام ایښی؛ د فتنو او جګړو تخم ئې شیندلی، د هغو په وینو ئې لاسونه سره شوي چې له خپل

هېواد، عزت او خپلواکۍ ئې دفاع کړې، هغوی ئې وژلي، رټلي، شړلي، د دوی شتمنۍ ئې لوټ کړې، لندن ته ئې انتقال کړې، غله، مفسدین او سپك وطنپلورونکي ئې پرې مسلط کړي، کله چې بریتانیا پر فلسطیني خاورې د اسرائیلو حکومت جوړولو؛ باید وګورو چې له دې منصوبې ئې موخه څه وه او هغه مهال ئې د فلسطین په شمول پر کومو نورو عربي هېوادونو عملاً تسلط او هلته ئې نظامي او سیاسي حضور درلود؟

هغه مهال چې بریتانیا د یوه یهودي دولت جوړولو پرېکړه کړې وه؛ په ځانګړې ډول په ۱۹۱۷م کې او د بالفور له اعلامیې تر ۱۹٤۸م پورې چې د اسرائیل دولت اعلان شو، بریتانیا د عربو پر ډېرو مهمو هېوادونو عملاً او له هره پلوه واکمنه وه او د دغو هېوادونو هر څه په بشپړه توګه د دوی له لورې اداره کېدل، پاچایان، فوځي او سیاسي مشران ئې دوی ورته ټاکل او د کورني او بهرني سیاستونو اساسي کرښې دوی ورته ترسیمولې. هېوادونه دا دي:

۱. د عثماني خلافت له سقوط او له لومړي نړۍوال جنګ وروسته؛ (له ۱۹۲۰تر ۱۹٤۸پورې)؛ د ملګرو ملتونو له لورې؛ پر فلسطین د بریتانیا واکمني ومنل شوه او اداره ئې د ملګرو ملتونو تر اشراف او نظارت لاندې بریتانیا ته وسپارل شوه؛ دقیقاً همغسې لکه د امریکا او ناټو په لاس د افغانستان له اشغال وروسته؛ د ملل متحد تر پوښښ لاندې د ایساف (ISAF) اداره جوړه شوه؛ په داسې حال کې چې د هېواد ټولې چارې د امریکا تر مشرۍ لاندې د ناټو په واك کې وې؛ خو ایساف ورته نړۍوال مجوز او مشروعیت ورکولو.

د فلسطین ټوله اداره او کورنۍ او بهرنۍ چارې د برتانوي فوځ په واك کې وې؛ دوی د یهودي کډوالو د راوستلو، په خاصو او حساسو سیمو کې ځای پر ځای کولو، د زمکو پېرلو او یهودي کورنیو ته ئې سپارلو او د صهیونیستي جوړښتونو د پراختیا له منصوبو بشپړ ملاتړ کولو. یقیناً چې په فلسطین کې د ملل متحد تر پوښښ لاندې واکمني دقیقاً داسې وه لکه د ایساف تر نامه لاندې په افغانستان کې د امریکا او ناټو واکمني. او د

دې معنی دا ده چې ملل متحد د لویو ځواکونو په لاس کې داسې وسیله ده چې کولی شي د دوی استعماري بریدونه توجیه او د کمزورو هېوادونو اشغال ته کاذب او جعلي مشروعیت مهیا کړي!! یعني (په فلسطین کې برتانوي انتداب) داسې وو لکه د (ایساف (ISAF) ماموریت په افغانستان) کې؛ دواړه سره ورته دي؛ یو ډول نړۍوال پوښښ، خو تر شا ئې اصلي واک د لویو قدرتونو په لاس کې. دواړه؛ برتانوي انتداب او استازیتوب او امریکایي ایساف؛ د زبرځواکو ستراتیژیکي پروژې وې. بریتانیا د انتداب تر نامه لاندې یهودي کډوال راوستل او د صهیوني دولت د بنسټونو جوړولو ملاتړ ئې کولو؛ او امریکا د ایساف تر نامه لاندې خپل نظامي، سیاسي، استخباراتي او اقتصادي اهداف پر مخ بېول، لکه د فوځي اډو جوړول، د سیاسي جوړښت اداره او د خپلو ملگرو حاکمیت تثبیتول. په دواړو ماموریتونو کې د هېواد اصلي خاوندان (فلسطینیان او افغانان) د خپل برخلیک له ټاکلو محروم کړی شوي ول.

٢. اردن چې د فلسطین ختیځه برخه وه، بریتانیا ترې بېله او تر خپل اداري کنټرول لاندې راوستله؛ په ١٩٢١م کې ئې د شریف حسین زوی؛ امیر عبدالله د واك پر گدۍ کښېنولو او تر برتانوي سلطې لاندې ئې (امارت) جوړ کړ، تر ١٩٤٦م پورې د بریتانیا د نفوذ تر سیورې لاندې په واك کې پاته شو.

٣. مصر چې ظاهراً ئې په ١٩٢٢م کې خپلواکي ترلاسه کړه؛ خو په حقیقت کې بریتانیا هلته ځواکمن (فوځي حضور) درلود؛ په ځانگړې ډول د (سویز کانال) اداره او ساتنه ئې په واك کې وه. برتانوي فوځ د مصر د فوځ، پارلمان او پاچا پر پرېکړو خپل ژور اغېز او نفوذ درلود.

٤. عراق هم له لومړۍ نړۍوالې جگړې وروسته؛ له (١٩٢٠ تر ١٩٣٢) پورې؛ بریتانیا د "لیگ آف نېشنز" (League of Nations په نیابت اداره کولو؛ هغه مهال د ملگرو ملتونو اوسنی جوړښت په همدې نامه یادېدو؛ چې غوره پښتو ژباړه ئې د (ملتونو د یووالې اتحادیه) ده. که څه هم عراق ته په ١٩٣٢م کې ظاهري خپلواکي ورکړی شوه؛ خو

خپلواکۍ هسې یو غولوونکی شعار وو؛ په حقیقت کې د انګلیسانو نظامي حضور، هوايي اډې او استخباراتي شبکې په فعاله او اغېزمنه توګه شتون درلود او د هېواد اداره ئې په واک کې وه.

انګرېزانو د هاشمي سلطنت (حجاز، اردن او عراق کې) حمایت کولو او د دې سلطنت هر سیاسي مخالفت ئې ځپلو.

۵. یمن او ستراتیژیک بندر ئې "عدن" له ۱۸۳۹م راهیسې د انګلیسانو تر ولکې لاندې وو او برتانوي فوځ هلته قوي حضور درلود. دا ساحلي سیمه تر ۱۹۶۷م پورې د انګلیسانو تر استعماري سلطې لاندې وه.

۶. خلیجي هېوادونه (کویت، بحرین، قطر، امارات)؛ د رسمي معاهدو له مخې د بریتانیا تحت الحمایه (protectorates) وو؛ برتانوي مشاورین، فوځیان او سیاسي استازي په مستقیم ډول د دغو هېوادو داخلي او خارجي سیاستونه مدیریت کول.

نو کله چې بریتانیا په فلسطین کې د اسرائیل د جوړولو پلان پلي کولو؛ پر ټولو دغو ستراتیژیکو هېوادونو (فلسطین، مصر، اردن، عراق، یمن او د خلیج اماراتو) مسلطه وه؛ هیڅا ئې مخالفت نه شو کولی؛ دا برتانوي بشپړه سلطه او ځواکمن حضور باعث شو چې یهودي دولت په ډېرې اسانتیا سره جوړ شي او عرب هېوادونه ئې عملي مخنیوی ونه شي کړی.

د دې دردناکې تراژیدي لویه وجه د صلیبي ځواکونو په لاس د عثماني خلافت سقوط او نسکورېدا وه؛ چې له کبله ئې د خلافت تر واك لاندې ټوله پراخه سیمه؛ په وړو وړو هېوادو؛ او د غربي یرغلګرو ځواکونو تر منځ ووېشل شوه؛ صلیبي ځواکونو د خپلو سرتېرو او وسلو په زور؛ عثماني خلافت نه دئ نسکور کړی؛ عرب قومپالو، شیعه متعصبینو او داخلي منافقینو؛ د دوی مرسته کړې؛ که د دوی شرارتونه نه وی؛ په صلیبي ځواکونو کې د عثماني خلافت د مقابلې توان نه وو؛ د اروپا ډېرو واکمنو خلافت ته جزیې ورکولې.

بریتانیا د خپل زور، ځواك او مستي په اوج کې؛ دا صهیونستي هېواد په اشغالي فلسطین کې جوړ کړ، له هره پلوه ئې په منظمه او مستمره توګه وپالو او داسي پړاو ته ئې ورسولو چې نن ټول عربي هېوادونه په ګډه؛ د دغه کوچني، تقلبي او تحمیلي دولت له مقابلې عاجز دي؛ دې پړاو ته ئې په رسولو کې امریکا، فرانسې او نورو هغو غربي هېوادونو هم خپله خپله ونډه درلوده؛ چې د سیمې پر آسیایي او افریقایي هېوادونو ئې حکومت کړی، هم ئې د دوی مادي شتمنۍ لوټ کړې او هم ئې معنوي شتمنۍ، استقلال او خپلواکي؛ صهیونستي دولت ئې په دې موخه رامنځته کړی چې د نیابتي جنګ د یوه بې مهاره لوبغاړي، کرایي جنګیالي او ژاندارم په توګه ترې استفاده وکړي، د سیمې هېوادونه پرې وګواښي او انقیاد او سر ټیټولو ته ئې اړ کړي.

## د فلسطیني مقاومت په اړه د ځینو ناسمه رأی

## او د قتال په اړه د دوی غلطه فتوی!

ځیني دا رأی وړاندې کوي او ځیني په دې باور او نظر دي چې "فلسطینیانو او ټول اسلامي امت ته په کار ده د صبر او انتظار لار غوره کړي، د اسلام پر معنوي او اخلاقي برخو ترکیز وکړي، د علم په میدان کې مخکې ولاړ شي او ترقي وکړي، تر هغه له وسله وال جهاد (قتال) او د صهیونستي ځواکونو خلاف له عملي مزاحمت ډډه وکړي چې الله تعالی پخپله اوسنی عالمي نظام بدل کړي او اسلامي امت له نظامي پلوه له دښمنانو سره د سیالۍ جوګه شي!!

د دې رأیي په حمایت او تأیید کې په ناسمه توګه د قرآن په ځینو آیتونو استناد هم کوي او وایي: کله چې د الله رسول او صحابه له مکې وایستل شول نو الله تعالی ورته امر وکړ چې: (كُفُّوْٓا اَيْدِيَكُمْ: خپل لاسونه

راتم کړئ) او ګواکې د دې لارښوونې معنی دا ده چې قرآن تر هغه له جنګ د اجتناب سپارښتنه کړې چې په هغه کې د مؤمنانو بریا یقیني نه وي او امکان ئې څرګند او زیات؛ که نه نو دا جنګ به د ځان وژنې مترادف وي!! له ځان وژنې ئې مراد د قرآن دا فقره وي چې وايي: وَلَا تُلۡقُواْ بِأَيۡدِيكُمۡ إِلَى ٱلتَّهۡلُكَةِ: او په خپل لاس ځان په هلاکت کې مه اچوئ.

دا د دغو ښاغلیو خپله رأی کېدی شي؛ خو قرآن ته ئې منسوبول ناسمه او د حقیقت خلاف ادعاء ده؛ نه خو په ټول قرآن کې داسې څه صراحتاً یا اشارتاً مومو چې له دښمن سره د قتال لپاره باید د قوت او وسائلو تر توازن پورې انتظار وکړو، نه د (كُفُّوٓا اَيْدِيَكُمْ) معنی هغه ده چې دوی ترې اخیستې؛ دا فقره د النساء د سورې د دې آیت برخه ده:

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ قِيلَ لَهُمۡ كُفُّوٓاْ أَيۡدِيَكُمۡ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقِتَالُ إِذَا فَرِيقٞ مِّنۡهُمۡ يَخۡشَوۡنَ ٱلنَّاسَ كَخَشۡيَةِ ٱللَّهِ أَوۡ أَشَدَّ خَشۡيَةٗۚ وَقَالُواْ رَبَّنَا لِمَ كَتَبۡتَ عَلَيۡنَا ٱلۡقِتَالَ لَوۡلَآ أَخَّرۡتَنَآ إِلَىٰٓ أَجَلٖ قَرِيبٖۗ قُلۡ مَتَٰعُ ٱلدُّنۡيَا قَلِيلٞ وَٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لِّمَنِ ٱتَّقَىٰ وَلَا تُظۡلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٧٧﴾ النساء

هغو ته دې ونه کتل چې ورته وویل شو: لاسونه مو راتم کړئ، لمونځ وکړئ او زکات ورکړئ؛ خو کله چې جهاد پرې فرض کړی شو نو یوه ډله ئې له خلکو داسې وېرېده لکه له الله او یا تر دې هم سخته وېره؛ او ویل ئې: اې زموږ ربه! ولې دې پر موږ جنګېدل فرض کړل؟ ولې دې تر یوې نژدې نېټې ونه ځنډولو؟ ورته ووایه: د دنیا متاع خو وړوکی شيء دئ او آخرت غوره دئ؛ د هغه لپاره چې تقوی ئې اختیار کړه او د بڅرکي په اندازه به پر تاسو تېری ونه شي.

د آیت له متن په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دې ډلې یوه غوښتنه درلوده؛ په ځواب کې ئې دوی ته ویل کېدل: له دې مطالبې مو ډډه وکړئ او لاسونه مو درتم کړئ؛ په لمانځه او زکات اکتفاء وکړئ؛

ورپسې د دوی په اړه ویل شوي: خو کله چې جهاد پرې فرض کړی شو نو یوه ډله ئې له خلکو داسې وېرېده لکه له الله تعالی او یا تر دې هم سخته وېره؛ له دې وینا په ټول وضاحت سره معلومېږي چې د دوی مطالبه د قتال په اړه وه؛ او کله چې د دوی غوښتنه منل شوې او قتال پرې فرض شوی؛ نو له دښمن دومره وېرېدل چې له الله تعالی دومره نه وېرېدل؛ د دوی یوه ډله د دې پر ځای چې له دښمن سره قتال او جنګ ته چمتو شي؛ ویل ئې: اې زموږ ربه! ولې دې پر موږ جنګېدل فرض کړل؟ ولې دې تر یوې نژدې نېټې ونه ځنډولو؟ له دې وینا (یوه ډله ئې له خلکو داسې وېرېده لکه له الله وېره) معلومېږي چې دا مطالبه د دوو ډلو له لوري وه: ۱- هغه چې په خپلې غوښتنې کې صادق ول او د قتال له فرض کېدو وروسته ئې خپل صداقت ښودلی؛ ۲- خو بله ئې همدا وه چې له دښمن دومره وېرېده لکه له الله تعالی وېره او تر دې هم زیاته وېره؛ نو د كُفُّوٓاْ أَيۡدِيَكُمۡ معنی هغه نه ده چې دا ښاغلي انګېري او وایي: دا به د مکې دور مربوطه لارښوونه وي؛ عجیبه ده؛ د خپلې غلطې او له ځان جوړې شوې فتوی د اثبات په موخه د یوه آیت په یوې فقرې استناد کوي؛ خو په دې هم نه پوهېږي چې دا آیت کله نازل شوی!! د دوی د زعم او ادعاء خلاف؛ دا د النساء سورې آیت دئ چې په مدینه کې نازله شوې؛ د سورې له مضامینو معلومېږي چې دا به دقیقاً په هغې مرحلې کې نازله شوې وي چې:

- قتال فرض شوی وو.
- د سِرِیو د لېږلو تر څنګ د مخامخ جګړو مرحله هم رارسېدلې وه او الله تعالی د دې اجازه هم ورکړې وه.
- مسلمانان د یتیمانو او کونډو له ستونزي سره مخامخ وو او دا هغه مهال چې په نښتو کې ځیني مجاهدین په شهادت رسېدلي او له دوی کونډې او یتیمان پاته شوي وو؛ او دې مسئلې له مسلمانانو د حلولو غوښتنه کوله.
- یهودان لا په مدینه کې موجود وو او له دوی سره د نښتو لړۍ نه

وه پیل شوې.

- د جنگ ډېر بحراني حالت وو، مسلمانانو ته ویل شوي وو چې تل خپل احتیاطي تدابیر په پام کې ولرئ، له دښمن غافل نه شئ، بې ضرورته وسله له ځانه لرې نه کړئ، هره شېبه د دښمن له لوري د یوې ناڅاپي حملې احتمال ورکړئ.

له دغو خبرو دا اټکل کولی شو چې دا مبارکه سوره له مدینې د بني نضیر د یهودي قبیلې له ایستلو مخکې او د احد د جګړې شاوخوا موده کې نازله شوې. دا ځکه چې له یوې خوا دا بحراني حالت د احد له جګړې وروسته راپیدا شو او له بلې خوا د یتیمانو او کونډو ستونزه هم د بدر او احد له جګړو وروسته رامنځته شوه او له یهودانو سره د نښتو لړۍ هم د بني نضیر له ایستلو وروسته پیل شوه.

څوك چې د عملي جهاد او د اسلام له دښمنانو سره د مخامخ نښتو تجربه لري هغوی پوهېږي چې ځیني خلك داسي وي: له دښمن سره د جګړو د وخت له رارسېدو مخکې په جګړې ټینګار کوي او وایي: باید له دښمن سره د یوې پرېکنده نښتي له لاري خبره پای ته ورسوو او ستونزه د تل لپاره حل کړو؛ دا رأی کله د ډېرو مخلصو او رښتینو مجاهدینو له لوري وي او کله د داسي چا له لوري چې دا ټینګار ئې له قوي ایمان او د الله په لار کې د قربانۍ له جذبې نه وي راولاړ شوی؛ بلکې له بیمار زړه راخوټېدلی وي؛ په دې بې‌وخته ټینګار سره غواړي ځان مخلص او انقلابي وښیي او پر خپلو غلطو کړنو، غلطو باورونو او ویناوو پرده واچوي او خلکو ته وښیي چې که اوس او د سختي ورځي له رارسېدو مخکې هغوی څه قصور لري؛ په عمل کې تر نورو شا ته پاته دي او د خپلو دیني او مذهبي دندو په اداء کولو کې لټي کوي؛ کله چې په دې اړه ورباندي اعتراض وشي نو وایي: که له دښمن سره د نښتي او له دین د دفاع وخت راورسېدو نو موږ به تر ټولو مخلص وموځ، زموږ په اخلاص او صداقت به هلته پوه شئ چې په لومړي خط کې مو توره په لاس او مټې بروهلې وګورئ!! وبه وینئ چې تر هر چا مخکې یو او په لومړي خط کې د دښمن

مقابله کوو!! خو کله چې د جګړې اصلي وخت راورسېږي او په دې اړه صريح او واضح فيصله وشي او د قرآن صريح او واضح حکم د هغه غوښتنه وکړي؛ نو دا کسان به داسي ومومئ چې سخته وېره به ئې په څېرو او ويناوو کې څرګنده وي، خړي سترګې؛ د هغه چا په څېر چې د مرګ له وېري او هيبته بې هوشه شوی، له خلکو به داسي وېرېږي لکه له الله او حتى له خلکو به ئې وېره هومره وي چې له الله به دومره نه وېرېږي!! بيا به وايي: اوس خو د جګړې مناسب وخت نه دئ، ضروري وسائل نه دي برابر شوي، د ځواك او وسائلو له پلوه بايد زموږ او دښمن تر منځ توازن تأمين شي، څه نور وخت ته ضرورت لرو، بايد جګړه وځنډېږي!!

دوی جګړه او له دښمن سره مخامخ کېدل داسي ګڼي لکه د مرګ په لوري چې خوځول کېږي، لکه مرګ چې تيار دوی ته خپل کومی پرانيستی وي او د مرګ نېټه ئې رارسېدلې وي!! وايي به: خدای ولي موږ ته د څه نوري مودې لپاره د ژوندي پاته کېدو موقع رانه کړه او داسي ژر ئې له جګړو سره مخامخ کړو!! لکه چې قرآن فرمايي:

يُجَٰدِلُونَكَ فِي ٱلۡحَقِّ بَعۡدَ مَا تَبَيَّنَ كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ إِلَى ٱلۡمَوۡتِ وَهُمۡ يَنظُرُونَ ۝٦ الأنفال

د همدې حقيقت په اړه ئې له هغه وروسته له تا سره (اې پيغمبره!) لانجه کوله چې څرګند شو، داسي لکه چې د مرګ په لوري بېول کېږي او دوی (ئې په خپلو سترګو) ګوري.

دې خلکو ته فقط يو ځواب په کار دئ او هغه دا چې: له دنيا سره افراطي مينه مو له مرګ وېروي، آخرت مو هېر کړی، دنيا ته پر آخرت ترجيح ورکوئ، له همدې کبله له مرګ وېرېږئ او له جنګ ډډه کوئ. د الله په عدالت باور نه لرئ، ګمان کوئ چې الله به د مسلمانانو هلې ځلې او قربانۍ ضائع کړي؛ حال دا چې الله د وړې ذرې په اندازه هم په خپلو بندګانو ظلم نه کوي.

په دې پوه شئ چې په کور کې ناستي سره او کلکو مورچلو او دنګو کلاګانو ته په پناه وړلو سره هم له مرګ نه شئ خلاصېدی؛ په هر صورت به د مرګ داعي ته لبیك وایئ.

همدا مطلب په دې آیتونو کې په مزید وضاحت سره داسي بیان شوی:

وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَوۡلَا نُزِّلَتۡ سُورَةٞۖ فَإِذَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٞ مُّحۡكَمَةٞ وَذُكِرَ فِيهَا ٱلۡقِتَالُ رَأَيۡتَ ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ يَنظُرُونَ إِلَيۡكَ نَظَرَ ٱلۡمَغۡشِيِّ عَلَيۡهِ مِنَ ٱلۡمَوۡتِۖ فَأَوۡلَىٰ لَهُمۡ ۝٢٠ طَاعَةٞ وَقَوۡلٞ مَّعۡرُوفٞۚ فَإِذَا عَزَمَ ٱلۡأَمۡرُ فَلَوۡ صَدَقُواْ ٱللَّهَ لَكَانَ خَيۡرٗا لَّهُمۡ ۝٢١ محمد

۲۰- او هغه چي ایمان ئې راوړی وایي: ولې کومه سوره نازله نه شوه (چي د جګړي اجازه ورکړي) خو کله چي پرېکنده سوره نازله شوه او په هغې کې د جګړي یادونه وشوه نو د بیمارو زړونو خاوندان دي لیدل چي ستا لوري ته ئې داسي هك پك کتل لکه د مرګ له هیبته د بې سده کس لیدل، دوی ته خو غوره وه: ۲۱- اطاعت کول او معروفه وینا؛ او کله چي کار مصَمَم شو که ئې له الله سره صداقت کړی وی؛ دا حتماً ورته غوره وو.

د دې مزید تفصیل (د قرآن پلوشې) د محمد سورې تفسیر کې وګورئ.

فخر الدین الرازي د دې آیت په تفسیر کې وایي: «هذا التقسيم بين فريقين يدلّ على أن المطالبة بالقتال لم تكن منحصرة في طائفة واحدة، بل منهم من كان يطلبه صدقاً، ومنهم من كان يطلبه رياءً، فافتُضح المنافقون حينما كتب القتال.»: د دوو ډلو تر منځ دا وېش؛ پر دې دلالت کوي چي د قتال مطالبه په یوې خاصي ډلي پوري مربوطه مطالبه نه وه؛ بلکي له دوی ځیني هغه وو چي په صدق او اخلاص سره ئې دا غوښتنه درلوده او ځیني ئې هغه چي په ریاء سره ئې غوښتل؛ نو دا منافقین هغه مهال رسوا او بربنډ شول چي قتال فرض کړی شو.

ابن عاشور هم همدا خبره کوي او وايي: «... هؤلاء لم يكونوا كلّهم على سواء، بل كان فيهم مخلصون صادقون، وكان فيهم منافقون مراؤون، ففضح الله المنافقين بعد فرض القتال.»

نتيجه دا چې آيت د هغو کسانو په اړه دئ چې د قتال غوښتنه به ئې کوله؛ غوښتونکي دوې ډلي وې: ١- رښتيني مؤمنان؛ هغه چې په خپلې غوښتني کې صادق وو او د قتال له فرض کېدو وروسته ئې عملاً خپل صداقت ثابت کړ. ٢- رياءکار او منافقين: هغه چې غوښتنه ئې دروغجنه او غير صادقانه وه. آيت همدغې دوهمي ډلي ته متوجه دئ، چې د قتال له فرض کېدو سره ئې ماهيت بربنډ شو.

همدا راز د (وَلَا تُلْقُواْ بِأَيْدِيكُمْ إِلَى ٱلتَّهْلُكَةِ) معنى قطعاً داسي نه ده لکه چې دوی ئې انگېري؛ او وايي: له ځواکمن او زورور دښمن سره جنگېدل داسي دي لکه په خپل لاس ځان په تهلکه کې غورځول؛ او گواکي الله تعالى په دې آيت سره مؤمنان له داسي کار منع کړي؛ دا تعبير او تفسير په بشپړه توگه بې بنسټه، تحريف ته ورته او د آيت د حقيقي تفسير خلاف دئ. راشئ د دې آيت په وړاندي لږ مکث او توقف وکړو او وگورو چې صحيح تفسير ئې څه دئ؛ آيت داسي دئ:

وَأَنفِقُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا تُلْقُواْ بِأَيْدِيكُمْ إِلَى ٱلتَّهْلُكَةِ وَأَحْسِنُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٩٥﴾

او د الله په لار کې انفاق وکړئ او په خپل لاس ځان په هلاکت کې مه اچوئ او احسان وکړئ چې الله محسنين خوښوي.

دلته د آيت په سر کې د الله تعالى په لار کې د انفاق امر شوی؛ له (في سبيل الله) مراد د الله تعالى په لار کې جهاد او قتال دئ؛ او ورپسې؛ عدم انفاق داسي گڼل شوی لکه په خپل لاس ځان تباه کول.

د الله په لار کې به د سر او مال له قربانۍ دريغ نه کوئ؛ د عدم قربانۍ له کبله له تباهۍ سره مخامخ کېږئ، په خپل لاس ځان په دې تباهي کې مه غورځوئ، له جهاد او د الله په لار کې له قربانۍ ډډه د

تباهي او هلاکت باعث او د دښمن په لاس د سپکاوي او تذلیل سبب کېږي، په هیڅ پلمه او بهانه به له دې ډډه نه کوئ. عجیبه ده چې ځیني له دې څرګند او کاملاً واضح آیت په زور او په ناحقه توګه داسي څه راباسي چې آیت د همدې ادعاء او تعبیر د رد لپاره راغلی؛ د دوی تعبیر داسي دئ چې له زورور دښمن سره مقابله؛ په خطر کې ځان اچول، له کم عدد او عدة سره د ځواکمن او په وسلو سمبال دښمن مخې ته ودرېدل؛ ځان په هلاکت کې غورځول دي او قرآن هغه تحریم کړي!! او ظالمانو! دا غلط تعبیر مو د آیت له کوم لفظ او کومې برخې راایستلی؟ ولې د خپلې غلطې ادعاء لپاره د قرآن څرګند آیت تحریفوئ، ولې باطلې رأی ته د حق جامه وراغوندئ؛ همغسې چې قرآن فرمايي:

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تَلۡبِسُونَ ٱلۡحَقَّ بِٱلۡبَٰطِلِ وَتَكۡتُمُونَ ٱلۡحَقَّ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ﴿٧١﴾ آل عمران

اې کتابیانو! ولې حق له باطل سره خلطوئ، ( باطل ته د حق جامه وراغوندئ) او حق پټوئ، په داسي حال کې چې پوهېږئ.

یقیناً چې دوی خپلو غلطو ویناوو او فتوی وو ته د حق بڼه ورکوي؛ نه په ناپوهۍ کې بلکې عمداً او په داسي حال کې چې ښه پوهېږي؛ هم ئې رأی او ادعاء غلطه ده او هم ئې استدلال او استناد؛ هم حق څرګند دئ او هم باطل؛ په پېژندو او تفکیك کې ئې څوك اشتباه نه کوي؛ فرعون د موسی علیه السلام په حقانیت پوهېدو او ابوجهل د محمد علیه السلام؛ مخالفت ئې له عقل نه؛ بلکې له هوس او شیطاني اغراضو راټوکېدلی وو.

د دغو ښاغلیو استدلال ډېر ډېر ناسم او غلط دئ، دلته عدم انفاق او له قربانۍ ډډه کول د هلاکت باعث معرفي شوي، له دې دا مفهوم اخیستل چې د زورور او ځواکمن دښمن له مقابلې باید ډډه وشي او یا په دې سره د شهادت طلبانه عملیاتو په ضد استدلال کول؛ ډېر غلط او شرمناك استدلال دئ، نه د ایمان خاوند داسي استدلال کولی شي او نه د

عقل او پوهي خاوند؛ که داسي وی نو قرآن به یو مسلمان د لسو کافرانو پر مقابلې نه مکلف کولو، د مسلمانانو د ترغیب لپاره به ئې د ابراهیم علیه السلام هغه قصه نه بیانوله چي په یوازي سر ئې د نمرودیانو بتان رانسکور کړل، دا به ئې نه ویل:

كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ ٱللَّهِ وَٱللَّهُ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ﴿٢٤٩﴾

البقره

د الله په اذن سره څومره لږکي ټولګي په لوی ټولګي غالب شوي، الله خو له صابرانو سره دئ.

یو کس چي د لسو مقابله کوي په حقیقت کي شهادت طلبانه عملیات کوي، د ده او هغه چا تر منځ هیڅ توپیر نه شته چي بمونه په ځان پسې تړي او د دښمن هغه ځای ته ځان رسوي او داسي ګوزار ورکوي چي له بلي لاري ورته ممکن نه وي.

له ۱۹۵ آیت مخکي ویل شوي چي که څوك پر تاسو تېری وکړي نو تاسو هم بالمثله ځواب ورکړئ:

(فَمَنِ اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ)

دا ښیي چي په ۱۹۵ آیت کي له انفاق مراد د دښمن په ضد جهاد کي مال مصرفول دي. که دا دواړه آیتونه یو ځای او د یوه مضمون د متصلو برخو په توګه په پام کي ولرو نو له دې دوه خبري معلومېږي: لومړی دا چي له انفاق په دې ځای کي د دښمن په خلاف په جهاد کي د مال انفاق مراد دئ او دا مطلب په ګوته کوي چي د جهاد پر سامان او وسائلو د مال د نه مصرفولو عاقبت خطرناك او په خپل لاس ځان مرګ ته سپارل دي او دوهمه خبره دا چي له دښمن سره بالمثله معامله جائزه ده.

د قرآن له ګڼ شمېر آیتونو او د رسول الله صلی الله علیه و سلم له سنت او عملي ژوند او د ډېرو پیغمبرانو علیهم السلام له هغو قصو چي په قرآن کي راغلې؛ د دې رأی خلاف څرګندي لارښووني مومو؛ تر دې

وړاندي چي په دې ارتباط دا لارښووني خپلي مخي ته کښېږدو او قضاوت وکړو؛ باید وګورو چي دا نن په فلسطین کي څه روان دي؛ دا ظلم، وحشت او جنایت چي نن هلته روان دئ؛ په تاریخ کي ئې هیڅ بېلګه نه مومو؛ کله پیل شوی؛ چا پیل کړی، اسرائیل د چا د وسلو، جهازونو، بمونو، راکټونو او پیسو په زور جنګېږي، د کومو هېوادو له سیاسي، مالي او نظامي حمایت برخمن دئ؛ دا یوازي د اسرائیل جنګ نه دئ؛ په حقیقت کي د هغو جنګ دئ چي د اسرائیلي صهیونستانو دا جاني او وحشي حکومت ئې په سیمي کي د دې لپاره تأسیس کړ او د دنیا له ګوټ ګوټ ئې یهودان ورانتقال کړل؛ چي په سیمي کي د دوی ژاندارم ترې جوړ شي؛ عربان پرې ووېروي او د اسرائیل د حامیانو په وړاندي خضوع او سر ټیټولو ته ئې اړ کړي؛ خلیج ته د ټرامپ سفر او له دریو هېوادونو د نژدې ۳,۲ ټریلیون ډالر؛ په امریکا کي د پانګوني او د امریکایي وسلو پېرلو تړونونه ترلاسه کړل؛ او د پټو ډالیو تر څنګ ئې له یوه شاغلي داسي تشریفاتي بوینګ الوتکه هم ترلاسه کړه چي ارزښت ئې ٤٠٠ میلیون ډالر وو؛ دا پر غزې د امریکایي درنو بمونو د ورولو له کبله وو؛ په ډېرو اسلامي هېوادو کي حکومتونو ولسونو ته د غزې په حمایت کي د تظاهراتو اجازه ورنه کړه، خطیبانو ته امر شوی وو چي د فلسطین د پېښو په اړه به له څه ویلو او حتی دعاء کولو ډډه کوي، چا چي جسارت کړی او څه ئې ویلي زنداني شوي او معلومه نه ده چي بېرته به له زندان ژوندي راوځي که نه؛ په استخباراتو پوري تړلې سلفي ډلي، په واز کومي د غزې د مقاومت او د سورېې د مجاهدینو د بریا په وړاندي هغه څه ویلي چي د اسرائیل یهودي مفتیان ئې هم په ویلو شرمېږي!! یقیناً چي تر دوی هغه یهودان ډېر شرف لري چي د نتنیاهو جنایات غندي، نسل وژنه ئې ګڼي، د جنګ فوري خاتمه غواړي؛ تر دغو دین پلورونکو د اروپا او امریکا هغه زلمیان (نجوني او هلکان) ډېر شرف لري چي له مظلومو فلسطینیانو د حمایت او د اسرائیلي جنایاتو د غندني لپاره په وار وار سړکونو ته راوځي، تظاهرات کوي، د فلسطینیانو بیرغونه رپوي، د آزاد

او مستقل فلسطين شعارونه ورکوي؛ د هغو حکامو عکسونه سوزوي چې د نتنياهو ملاتړ کوي؛ نيول کېږي، وهل کېږي، زنداني کېږي، له تحصيل محرومېږي... خو د مظلومو فلسطينيانو له حمايت لاس نه اخلي. په داسي حال کې چې د اروپا، او نورو هېوادونو زلميان او عام ولس په ټولو سترو سترو ښارونو کې دومره ستر ستر؛ حتى ميليوني تظاهرات وکړل چې په تاريخ کې ئې بېلګي نه شو موندلی؛ ولې ټول اسلامي امت؛ په ځانګړې توګه عربي هېوادو يوازي پرېښي، د عربو ډېری هېوادونه د دې پر ځای چې د فلسطينيانو مرسته وکړي؛ په پټه او ښرګنده توګه؛ د اسرائيل مرسته کوي، دا دئ نژدې دوه کاله کېږي چې غزه له زمکې، فضاء او بحر محاصره ده، په دې محاصرې کې ځيني اسلامي هېوادونه عملاً شريك دي، ځيني ساکت دي، ځيني هغه څه کوي چې امريکا ئې ترې غواړي، ډېر ښه ئې هغه دئ چې کله کله د اسرائيل جنايات وغندي!! ولې ځيني ليکوالان د دې جنګ په اړه داسي څه ليکي او په داسي صيغه ئې ليکي چې د جنګ پړه د حماس پر مجاهدينو اچوي؟ مقاومت ئې د ديني لارښوونو او عقلي معيارونو خلاف ثابتولو هڅه کوي؟! په داسي حال کې چې دا جنګ نه نن پيل شوی، نه د اسرائيل د اوسني تحميلي او جعلي هېواد له جوړېدو وروسته؛ بلکې تر ميلاد وړاندي پيل شوی؛ د مسيحيانو سپېڅلي کتاب بايبل کې به وګورئ چې د يهودانو له لوري د فلسطينيانو خلاف څومره خونړۍ جګړې شوې او د دوی مذهبي کتابونو د فلسطينيانو د عام وژني او نسل وژني په اړه څومره کرکجن او وحشيانه هدايات ورکړي؛ دا به وګورئ چې هغوی ته ئې ويلي: کله چې د فلسطينيانو پر سيمي مسلط شئ؛ نو ټول نر، ښځي او ماشومان ئې له تيغ تېر کړئ؛ يوازي پېغلي ئې د ځان لپاره ژوندۍ وساتئ؛ راشئ څو بېلګي ئې له نظره تېري کړو:

۱. اعداد تر دې سرليك (له مديانيانو انتقام) لاندي ليکي: خدای موسی ته وويل: له مديانيانو په دې خاطر انتقام واخلئ چې قوم ئې بت لمانځلو ته وهڅاوو، بيا به ته مرې... موسی له هري قبيلې زر جنګيالي وغوښتل، دولس

زره جنګیالي ئې جنګ ته ولېږل، ... د مدیانیانو ټول سړي ووژل شول، له پنځو پاچایانو او بلعام سره، .. د اسرائیلیانو فوځ ټولې ښځې او ماشومان اسیران کړل، رمې او مالونه ئې تالان، ښارونه، کلاګاني او کلي ئې وران کړل، اسیران او غنایم ئې د موسی خوا ته راوړل، موسی د فوځ پر افسرانو غصه شو چې ولې مو د دوی ښځې ژوندۍ پرېښې، دوی خو همغه خلك دي چې د بلعام نصیحتونه ئې ومنل، چې قوم ئې بت لمانځلو ته تیار کړ او زموږ خلك ئې په بلا او مصیبت اخته کړل، نو ټول زامن او مېړوښې ښځې ووژنئ او یوازې پېغلې د ځان لپاره ژوندۍ پرېږدئ!!

د بایبل دا وینا سل په سلو کې غلطه او د حقیقت خلاف ده؛ خو نتنیاهو او د صهیونستانو نور سیاستوال او د دوی متعصب مذهبي مشران؛ په همدې غلطې، غیر انساني او دیني لارښوونو خلاف وینا استناد کوي او د فلسطینیانو خلاف خپل جنایتونه توجیه کوي. دلته څو خبرې په پام کې ولرئ:

- د قرآن له وینا معلومېږي چې اسرائیلیانو د موسی علیه السلام په ژوند کې جهاد نه دئ کړی، کله چې ده جهاد ته بللي؛ دوی د رد ځواب ورکړی.
- د بایبل له نورو برخو هم معلومېږي چې دوی څلوېښت کاله په صحرا کې لالهانده ژوند کړی. بایبل لیکلي چې خدای لوړه کړې وه چې د اسرائیلیانو دا نسل به پرې نږدې موعود زمکې ته داخل شي.
- په دې اساس په یقین سره ویلی شو چې د اعداد دا قصه بې بنسټه، سراسر جعلي او د بایبل د مخکینیو ویناوو خلاف ده.
- څنګه ممکنه ده چې د موسی علیه السلام په څېر یو ستر پیغمبر به د زرهاوو ښځو او ماشومانو د وژلو فیصله کوي؟!
- اعداد څو سطره وروسته لیکي چې ټول افسران موسی علیه السلام ته راغلل او وئې ویل: موږ خپل ټول جنګیالي وشمېرل، له موږ په دې جنګ کې یو کس هم نه دئ وژل شوی!! دا خبره کافي ده چې ووایو: دا قصه له ځانه جوړه شوې او حقیقت نه لري؛ څنګه به دا منو چې په دومره

ستر جنګ کې د اسرائیلیانو یو تن هم نه دئ وژل شوی؟!

- اصلاً د بایبل لیکونکی په دې جعلي قصې سره اسرائیلیانو ته دا درس ورکوي چې د جنګ په دوران کې هم او له برلاسي وروسته به هم په هیڅ رحم نه کوئ، ټول نارینه، ماشومان او ښځې به وژنئ، یوازې پېغلې به ژوندۍ پرېږدئ، ښارونه او کلي به ورانوئ... ټول هغه کارونه درته جائز دي چې د موسی علیه السلام په وخت کې ستاسو فوځ له مدیانیانو سره وکړل. صهیونستان چې نن له مظلومو فلسطینیانو سره څه کوي؛ د دغې جعلي قصې یوه بېلګه ده!!
- کوم بلعام چې د اعداد په وینا ئې نورو ته هره ښېرا او دعاء منل کېده او د دریو قومونو د برخلیك په اړه ئې وړاندوینې کړې وې، دلته ئې د موسی علیه السلام له قوله مشرك او بت لمانځونکی معرفي کوي!! او بیا وایي چې پخپله په دې جنګ کې ووژل شو!!
- د اعداد کتاب په پای کې ټول مخکینی بحث په اختصار سره رااخلي او خلاصه ئې وړاندې کوي او بیا د موعود زمکې حدود او د اسرائیلیانو د هرې قبیلې برخه ټاکې او په همدې سره پای ته رسي.
- ما د اعداد کتاب د بایبل په ټولو کتابونو کې تر ټولو مسخره، له تناقضاتو ډك او په خرافاتې خبرو لړلی کتاب وموند، خو ښایي د بایبل منونکو ته به تر ټولو جالب او غوره کتاب همدا وي!!

د بایبل دا قصه هم ولولئ: سامسون (د بایبل یهودي اتل) څه موده وروسته یو سېرلی د هدیې په توګه له ځان سره واخیست او د خپلې (فلسطیني) مېرمني کور ته ورغی، خو سخر (خسر) ئې کور ته د ننوتلو اجازه ورنه کړه او ورته وئې ویل: ما ګمان وکړ چې ته ترې کرکه لرې نو ځکه مې بل چا ته په نکاح ورکړه... د هغې خور ترې ښایسته ده، کولی شې هغه په نکاح کړې!! سامسون نارې کړې!! اوس چې پر فلسطینیانو کومه بلا راولم ملامت به نه وم!! بهر ولاړ، درې سوه ګېدړان ئې ونیول، جوړه جوړه ئې له لکیو سره وتړل، د هرې جوړې منځ کې ئې یو مشعل کېښود، بیا ئې اور وراچاوو او د فلسطینیانو په فصلونو او پټیو کې ئې

پرېښودل او په دې کار سره د فلسطینیانو ټول فصلونه او د زیتون باغونه وسوزېدل... فلسطینیانو له یوه بل پوښتل: دا کار چا کړی؟ ... ورته معلومه شوه چې سامسون کړی... نو دوی هغه ښځه او پلار ئې ژوندي وسوزول!! کله چې سامسون له دې پېښې خبر شو، لوړه ئې وکړه چې هرو مرو به د دې غچ اخلم...پر فلسطینیانو ئې برید وکړ او ډېر ئې ترې ووژل...بیا په سوري کې پټ شو... فلسطینیانو سیمه محاصره کړه... د سیمي خلك مجبور شول چې سامسون ونیسي او لاس تړلی ئې فلسطینیانو ته وسپاري...سامسون ورته وویل: صحیح ده خو تاسو مې مه وژنئ...نو په دوو پړو ئې وتړلو او له ځانه سره ئې روان کړ...کله چې د رامة لیحي کلي ته ورسېدو؛ فلسطینیانو د ده په لیدو سره چیغې وهل پیل کړل ... په دې وخت کې د خدای روح پر سامسون کښېنستله او پړي داسي وشړېدل لکه نري تارونه چې وسوزي او سره بېل شي...نو په دې وخت کې ئې د یوه مړه خره د ژامي هډوکی راواخیست او په دې سره ئې زر تنه فلسطینیان ووژل!! بیا ئې دا سرود وواېو: د خره د ژامي په هډوکي مې، له مړو ډېرانونه جوړ کړل، د خره د ژامي په هډوکي مې، یو زر سړي ووژل.. بیا ئې هډوکی لري واچاوو... زه گمان کوم چې د لیحي معنی ژامه ده؛ په عربي کي ژیري ته لحیة ویل شوي چې پر ژامي راشنه کېږي او د رامة معنی د عربي رمي ته ورته؛ لري غورځول دي؛ نو دا کلی ځکه په عبري کې رامة لیحي یاد شوی چې سامسون همدلته د خره د ژامي هډوکی لري غورځولی وو.

بايبل به له خرافي، جعلي او درواغجنو قصو ډك ومومئ، داسي قصې لکه چې وایي: سامسون په داسي حال کې د یوه معبد دوه ستني د لاس په زور ونړولې چې په سترگو ړوند وو، لاس او پښې ئې تړلې وې، د دواړو ستنو تر منځ درول شوی وو، په دغو ستنو داسي چت ولاړ وو چې درې زره فلسطینیان ترې لاندي راغونډ شوي وو، ده دواړو ستنو ته زور ورکړ، ونړېدې، چت راپرېوت او ټول خلك د ده په شمول ترې لاندي ووژل شول!!

نن چې نتنیاهو او اسرائیلي سرتېري په غزه کې کوم جنایتونه کوي؛ د بایبل د دغو دروغجنو او جعلي قصو عملي مصداق دئ او ښیي چې دوی همدغو جنایاتو ته د مذهبي دود او خصلت په سترګه ګوري.

## د امریکا سفیر او په محکمه کې د نتنیاهو حمایت

آیا عجیبه نه ده چې څوك دا ټول جنایات له پامه غورځوي، له غندلو ئې ډډه کوي، هغه صهیونستان نه محکوموي چې د دوی د جهازونو، بمونو، توغندیو او ټانکونو په زور دا جنایات کوي؛ ښځې، ماشومان، په روغتون کې بستر بیماران، په صنف کې ناست متعلمین، په جومات کې راغونډ شوي لمونځ کوونکي، د بشري مرستو ترلاسه کولو لپاره راغونډ شوي وږي ماشومان او مېرمني وژني؛ بمونه پرې وروي او ډزي پرې کوي. د ملګرو ملتونو د بشري حقونو اداره په خپل راپور کي ویلي: په ۶ اوونیو کې شاوخوا ۸۷۵ فلسطینیان؛ د مرستو د وېش ځایونو خوا ته وژل شوي، د مرستو مرکزونو ته د رسېدو پر لارو هم ډزي پرې شوې او بمونه ورېدلي. یوازي د جولای په ۱۶مه نېټه، په خان یونس کې د امریکا او اسراییل ملاتړ لرونکي "Gaza Humanitarian Foundation" د مرستې مرکز کې د خوراکي مرستو د وېش په جریان کې لږ تر لږه ۲۱ فلسطینیان وژل شوي. نړۍواله محکمه نتنیاهو د جنګي جنایتکار په توګه پېژني او د نیولو پرېکړه ئې کوي؛ د اسرائیل حامي امریکا د دغي محکمې قاضیان تحریموي!! د اسرائیل یوه محکمه؛ بنیامین نتنیاهو د فساد په تور محکمې ته احضاروي؛ خو په تل ابیب کي د امریکا سفیر مایک هکابي (Mike Huckabee) د قاضي په وړاندي له هغه دفاع کوي؛ او د محکمې د تحقیر لپاره له ځان سره سوی ته ورته، د اوږدو غوږونو او راوتلو غاښونو نانځکه وړي؛ نانځکي ته ئې د سوپر مین (پیاوړی او ستر سړی) جامه وراغوستې وه؛ پر سر ئې د قاضیانو خاصه خولۍ ایښې؛ دا سوپرمین ګواکي نتنیاهو دئ، دی باید اصلي او ځواکمن قاضي وګڼل شي نه مجرم او تر محکمې لاندي؛ دا یقیناً د محکمې او قاضیانو سخت

سپکاوی او تحقیر وو؛



دا عمل د ډېرو رسنیو، حقوقپوهانو، قاضیانو او مدني ټولنو له سخت غبرګون سره مخ شو، دا ئې نه یوازې د محکمې سپکاوی وګڼلو بلکې د یوه بهرني سفیر له خوا د یوه خپلواک هېواد په عدلي نظام کې ئې ښکاره مداخله تعبیر کړه. سفیر غوښتل قاضیانو، ټول ولس، فوځ او د نتنیاهو حکومت ته وښیي چې امریکا له دې حکومت او له جنګي سیاستونو ئې په بشپړه توګه حمایت کوي او نه پرېږدي څوك ئې محاکمه کړي.

## فلسطینیانو او اسلامي امت ته د عدم مقاومت غلطه مشوره

هغه ښاغلي چې پر مظلومي غزې د صهیونیستي ځواکونو د وحشیانه بریدونو په دوران کې وایي:"فلسطینیان او ټول اسلامي امت ته په کار ده چې د صبر لار غوره کړي، له الله سره مینه وپالي، خپل اخلاق سم کړي، د علم په میدان کې مخکې ولاړ شي او ترقي وکړي، غاصب صهیونستان پر خپل حال پرېږدي، د صهیونستي ځواکونو خلاف تر هغه له عملي مزاحمت او جهاد ډډه وکړي چې الله تعالی پخپله اوسنی عالمي نظام بدل کړي"!! هغوی ته وایو:

- ستاسو د دې مشورې معنی فقط دا ده: فلسطینیانو اشتباه کړې چې د اسرائیل خلاف ئې د صبر پر ځای د مقاومت لار غوره کړې او ټول عرب حکومتونه چې له څه کولو ئې ډډه کړې، نه ئې د فلسطینیانو

مرسته کړې او نه ئې د صهيونستانو جنايات غندلې؛ دوی سم او د تعقل مطابق دريځ او تګلاره غوره کړې؛ ستاسو د شاذ او نادري مشورې مطابق ئې عمل کړی؛ چې صهيونستان ئې خپلې مخې ته پرېښي!! لعنت پر داسې قضاوت.

• له چا دا انتظار لرئ چې دا کچه او سرکاري فتوی له تاسو سره ومني؟! مګر دا غلطه فتوی د قرآن د دې څرګندې لارښوونې سل سلنه خلاف نه ده چې فرمايي:

أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَٰتَلُونَ بِأَنَّهُمۡ ظُلِمُواْۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ نَصۡرِهِمۡ لَقَدِيرٌ ٣٩ ٱلَّذِينَ أُخۡرِجُواْ مِن دِيَٰرِهِم بِغَيۡرِ حَقٍّ إِلَّآ أَن يَقُولُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُۗ وَلَوۡلَا دَفۡعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعۡضَهُم بِبَعۡضٖ لَّهُدِّمَتۡ صَوَٰمِعُ وَبِيَعٞ وَصَلَوَٰتٞ وَمَسَٰجِدُ يُذۡكَرُ فِيهَا ٱسۡمُ ٱللَّهِ كَثِيرٗاۗ وَلَيَنصُرَنَّ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ٤٠ الحج

۳۹- هغو ته اجازه ورکړی شوې چې په خلاف ئې جنګ کېږي، د دې لپاره چې پر هغوی ظلم شوی او يقيناً چې الله د دوی پر نصرت او بريا ښه توانا دئ. ٤٠- هغه چې له کوم حق پرته له خپلو کورونو ايستل شوي، (له دې پرته ئې کوم جرم نه وو چې) ويل ئې: زموږ رب الله دئ!! او که د خلکو ځيني په ځينو نورو سره د دفع کولو الهي سنت نه وی نو حتماً به صوامع (د رهبانانو عبادت ځايونه)، بيع (د نصرانيانو معبدونه)، صلوات (د يهودو معبدونه) او مساجد (د مسلمانانو جوماتونه) چې د الله نوم په کې زيات زيات يادېږي ټول وران شوي وو؛ او الله به هرو مرو هغو ته نصرت ورکوي چې د ده ملتيا کوي، يقيناً چې الله عزتمن ځواکمن دئ. ٤١- هغه چې که په زمکې کې تمکين ورکړو، لمونځ قائموي، زکات ورکوي، په معروف ګمارل او له منکراتو مخنيوی کوي او د چارو پايله الله ته ده.

د دې مبارکو آيتونو مهمې مهمې لارښوونې دا دي:

- الله تعالی د شر او فساد ظالم ځواکونه یوازې هغه مهال ځپي او اقتدار ئې پای ته رسوي چې پخپله مظلومان یا د دوی یو مجاهد ټولی د هغوی خلاف پاځي؛ د ظلم او فساد خلاف مبارزې ته ملا وتړي؛ په دې اړه د الله تعالی ثابت او نه بدلېدونکی سنت د قرآن په همدې څرګندو لارښوونو کې واضح شوی.
- د کومو مظلومانو په خلاف چې جنګ پیل شوی، الله تعالی هغوی ته له ځان د دفاع حق او اجازه ورکړې، دا د دې لپاره چې پر هغوی ظلم شوی، الله تعالی دا نه خوښوي چې د ده پر بې وزلو او مظلومو بندګانو ظلم وشي، دغو مظلومانو ته ئې نه یوازې له ځان د دفاع اجازه ورکړې بلکې له دوی سره ئې د نصرت او مرستې وعده کړې او هغوی ته ئې اطمئنان ورکړی چې الله تعالی د دوی مل او دوی ته پر خپلو دښمنانو د برلاسي او بریا په ورکولو ښه توانا دئ. د دفاع دا اجازه او د نصرت او بریا دا وعده له هغو مظلومانو سره شوې چې له کوم حق پرته له خپلو کورونو ایستل شوي، له دې پرته کوم جرم نه لري چې وایي: زموږ رب الله دئ!!
- دا ثابت، دائمي او نه بدلېدونکی الهي سنت دئ چې د خلکو د یوې ډلې ظلم او تېری د بلې په لاس دفع کوي، مظلومانو ته دا اجازه او توفیق ورکوي چې د ظالمانو او تېري کوونکو طغیان د دوی په لاس دفع کړي او د ظلم ټغر ټول کړي. که دا الهي سنت نه وئ نو حتماً به ټول هغه معبدونه وران شوي وو چې د الله تعالی نوم په کې یادېږي، که دا له خلکو لرې په غرونو او ځنګلو کې د رهبانانو عبادت ځایونه دي، که د یهودو او نصرانیانو معبدونه دي او که د مسلمانانو جوماتونه، د دې الهي لارښوونې معنی دا ده چې کوم ولسونه ظالمانو ته تسلیم شي، له خپلو حقوقو د دفاع لپاره د ظالمانو په خلاف د مقاومت لار غوره نه کړي، له خپلو انساني حقوقو او دیني اقدارو دفاع ونه کړي، د ظالمانو مخې ته ونه درېږي، د زور په ضد زور او د وسلې په خلاف وسله ونه کاروي؛ نو نه یوازې دا چې خپل حقوق به ترلاسه نه کړي بلکې معبدونه

به ئې هم وران شي.

- دا آیت په پرېکنده توګه اعلان کوي چې الله تعالی له دیني شعائرو، مقدساتو او سپېڅلو ځایونو؛ په دې توګه دفاع کوي چې یوه ډله په بلې ډلې دفع کوي، د خدای پالونکو په لاس هغه خلك دفع کوي چې غواړي عبادت ځایونه وران کړي، کله چې له شعائرو د دفاع لپاره خدای پالونکي ملا وتړي نو الله تعالی ئې مرسته کوي او پر دین دښمنه ځواکونو برلاسي ورکوي، که دا الهي سنت نه وی نو د عبادت ټول مخکیني او اوسني ځایونه به وران شوي وو!! د دې معنی دا ده چې الله تعالی په خارق العاده توګه د خلکو له دیني ارزښتونو، مقدساتو او عبادت ځایونو دفاع نه کوي، له انسانانو پرته ئې په خپلو نورو لښکرو نه ساتي، په انسانانو ئې هم یوازې هلته ساتي چې دوی ئې ساتنې ته ملا وتړي. تر هغه چې د الهي نصرت لپاره ښایسته او وړ خلك راپیدا نه شي؛ الله تعالی خپل نصرت او تائید نه نازلوي. که داسې نه وی نو کعبه به په طبیعي پېښو کې نه ورانېده او په داخلي جګړو کې به تاوان نه وررسېدو.
- الله تعالی به هرو مرو هغو ته نصرت ورکوي چې د ده ملتیا کوي، دا د هغه الله قطعي او حتمي وعده ده چې عزتمن ځواکمن دئ، نه د چا زور او ځواك د ده د پرېکړو د پلي کېدو مخنیوی کولی شي او نه د چا ضعف او کمزوري د ده د وعدو د عدم تحقق سبب کېدی شي.
- الله تعالی د مظلومو باایمانه مجاهدینو جهاد داسې ګڼي لکه څوك چې د ده ملتیا کوي، یعني د ظالمانو په ضد جنګ د الله تعالی له لوري جنګ دئ او په دې جنګ کې مجاهد د الله تعالی داسې سپاهي دئ چې غواړي د خپل رب ملتیا وکړي او د هغه چا په ضد وجنګېږي چې الله تعالی د هغه د ځپلو او ماتولو اراده کړې.
- د الهي نصرت او تأیید دا وعده له هغو مجاهدینو سره شوې چې که الله تعالی هغوی ته په زمکې کې تمکین ورکړي، نو لمونځ قائموي، زکات ورکوي، په معروف ګمارل او له منکراتو مخنیوی کوي، یعني د دوی لومړنی کار د لمانځه قائمول دي، له دې وینا په ډېر وضاحت سره

معلومېږي چې په اسلامي نظام کې د واکدارانو لومړنۍ او تر ټولو ستره وظیفه د لمونځ قائمول دي. همدا د یوې غوره اسلامي ټولنې په جوړولو کې تر ټولو زیات اغېزمن کار دئ. که اسلامي حکومت پدې وتوانېدو چې جوماتونه له معنوي لحاظه آباد کړي، د جومات امامت صالح، متقي او په دین پوه داعي ته وسپاري، خلك له جومات سره عادت کړي او جومات چې د خلکو په فکري، معنوي، اجتماعي او سیاسي روزنې کې کوم اغېزمن کار کولی شي هغه ترسره شي، کولی شي د ټولنې ټولې ناخوالې سمې او ټول مشکلات حل کړي. دا په دې شرط چې د لمانځه تر څنګ له شتمنو زکات ترلاسه کړي او په خپلو شرعي مواردو کې ئې ولګوي، ښېګڼو ته وده ورکړي او د منکراتو مخنیوی وکړي.

د دې لارښوونو په پای کې ویل شوي چې د چارو پایله الله تعالی ټاکي، دا پرېکړه د ده له لوري کېږي چې څوك له کوم برخلیك سره مخامخ کړي او د چا پر کارونو کوم نتائج مرتب کړي، د الله د لارې مجاهدین باید ډاډه او مطمئن وي چې هلې ځلې او قربانۍ ئې هدر نه ځي او بې نتیجې نه پاته کېږي؛ لکه چې قرآن فرمایي:

فَلَا تَهِنُواْ وَتَدۡعُوٓاْ إِلَى ٱلسَّلۡمِ وَأَنتُمُ ٱلۡأَعۡلَوۡنَ وَٱللَّهُ مَعَكُمۡ وَلَن يَتِرَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ ٣٥ محمد

نو مه سست کېږئ؛ او روغې جوړې ته بلنه مه ورکوئ، په داسې حال کې چې تاسو لوړ یئ او الله له تاسو سره دئ او هیڅکله به ستاسو عملونه درته ضائع نه کړي.

دا مبارك آیت موږ ته لارښوونه کوي چې وهن او سستي، صلحې او روغې جوړې ته د دښمن بلل، د دښمن په وړاندې د حقارت او ضعف احساس، له الهي تأیید او نصرت یأس او ناهیلي، په دې اړه ټینګ او ثابت باور نه درلودل چې د الله تعالی په لار کې هیڅ عمل او هیڅ هڅه او هاند نه ضائع کېږي، د نفاق هغه سپېرې نښې دي چې باید په کلکه ترې ډډه وکړو

دا آیت لاندي اساسي مطالب افاده کوي:

- د دښمن په وړاندي د ضعف او ناتوانۍ احساس مه کوئ، د دښمن په ضد د خپلي مبارزې شور او شوق هیڅکله له لاسه مه ورکوئ، لټي او کسالت مه کوئ.
- دښمن ته د صلحي او روغي جوړي پیغامونه مه لېږئ او تفاهم او سازش ته ئې مه رابلئ.
- تاسو لوړ یاست، لوړ تر دې چي د دښمن په وړاندي د ضعف او کمزورۍ احساس وکړئ او د سازش او روغي جوړي لاس وراوږد کړئ.
- هیڅکله او په هیڅ حالت کې ګمان مه کوئ چي تجرید شوي یئ او دښمن توانېدلی تاسو محاصره او تجرید کړي او له ولس مو منزوي کړي، ګمان مه کوئ چي یوازي پاته شوي یئ، د یوازیتوب احساس باید تاسو له دښمن سره جوړ جاړي ته اړ نه کړي، د زمکي او آسمانونو لوی رب له تاسو سره او ستاسو مل دئ.
- ګمان مه کوئ چي له روغي جوړي پرته به ستاسو ټولي هلي ځلي هدر شي، قربانۍ به مو ضائع شي او هغه نتائج به پرې مرتب نه شي چي الله تعالی ئې له تاسو سره وعده کړې، الله تعالی به هیڅکله ستاسو قربانۍ ضائع نه کړي او ستاسو هلي ځلي به بې نتیجې پرې نږدي.

## له دښمن سره سوله کله جائز ده او کله ناجائز؟

لکه چي ګورئ په دې آیت سره مؤمنانو ته امر شوی چي دښمن ته به د روغي جوړي او مصالحې لاس نه اوږدوئ، خو د الانفال په سورې کې ویل شوي چي که دښمن روغي جوړي ته متمایل شو تاسو هم متمایل شئ او پر الله توکل وکړئ... راشئ وګورو چي دا د صلحي په اړه بېل بېل او متفاوت احکام څنګه تلفیق کولی شو؟ او په کوم یوه به کله عمل کوو؟ کله له دښمن سره صلح کول جائز دي او کله ناجائز؟ آیا دا قضیه د نهضت مشرانو ته پرېښودل شوې چي مصلحت ته په پام سره مناسب تصمیم ونیسي؟ آیا دا سمه ده چي ووایو: د دې آیتونو په حکم

سره مسلمانان له دې منع شوي چې دښمن ته د روغې جوړې پیغامونه ولېږي، خو که د صلحې پیغام د دښمن له لوري وي او تفاهم او جوړ جاړي ته تیارى وښيي بیا نو مسلمانان کولی شي مثبت ځواب ورکړي؟ ښايي ځينو ته دا استدلال معقول وبرېښي او د آيت له ظاهر سره ئې سم وګڼي!! خو دا انتباه په څو دليله سمه نه ده:

١- د دې استدلال له مخې چې د صلحې وړانديز د دښمن له لوري وي نو مسلمانان کولی شي روغه جوړه وکړي، پرته له دې چې وګوري د دښمن وړانديز د ضعف له دريځه دئ که د قوت او برلاسي له دريځه او پرته له دې چې وګوري مسلمانان د قوت په دريځ کې دي که د ضعف او کمزورۍ په دريځ کې!! که دا استدلال سم او د منلو وړ وی نو پيغمبر عليه السلام به حتماً په مکي دور کې د دښمن د صلحې او مداهنت وړانديزونو ته مثبت ځواب ويلی وو!! حال دا چې د مکې دور په ديارلسو کلونو کې او د مدينې په شپږو کلونو کې د حديبيې تر صلحې پورې ئې نه له دښمن سره روغه جوړه وکړه، نه ئې انعطاف او نرمي وښوده او نه خبرو ته کښېناست، په داسي حال کې چې د قريشو سردارانو تل د هغې غوښتنه کوله او ډول ډول وړانديزونه ئې لرل. قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کې دې حقيقت ته اشاره کوي.

٢- که له دښمن سره د روغې جوړې مربوط آيتونو د نزول ترتيب ته لږ ځير شو وبه ګورو چې د مقاطعې، عدم انعطاف، له مداهنت ډډه کول او روغې جوړې ته د نه رابللو آيتونه په هغې مرحلې کې نازل شوي چې د مکې ديارلس او د مدينې شپږ لومړني کلونه احتواء کوي. همغه مرحله چې دښمن د برلاسي احساس کاوو او نهضت ئې ضعيف او کمزوری ګاڼو. خو کله چې نهضت له تدافعي حالته ووت، د دښمن ټول بريدونه ئې په شا وټمبول او په ټولو نښتو کې ئې خپله وړتيا او قوت اثبات کړ، اوس د دښمن په پرتله د برلاسۍ او قوت احساس کوي، دغه وخت دئ چې له دښمن سره د تفاهم او روغې جوړې اجازه ورکول کېږي. د قرآن په آيتونو کې د غور په نتيجه کې به دا وګورئ چې د (وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ

فَاجْنَحْ لَهَا) آیت د بدر په جګړي کي له بریا وروسته نازل شوی، حال دا چي له تفاهم او روغي جوړي د اجتناب آیتونه ټول تر دې وړاندي نازل شوي، د حدیبیې صلح هغه وخت وشوه چي د دښمن وروستی لوی برید د خندق په جګړي کي له ماتي سره مخامخ شو او له ماتي وروسته پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: له دې وروسته به قریش د حملې توان ترلاسه نه کړي. ګورئ چي د حدیبیې صلح د نهضت د قوت او برلاسي او د دښمن له مسلسل ماتو وروسته د حرم خوا کي د دښمن تر سلطې لاندي سیمي کي امضاء شوې.

د دې آیتونو په رڼا کي او د هر یوه د نزول د زمانې شرائطو ته په پام سره په وضاحت او آسانۍ سره دا حقیقت درك کولی شو چي صلح د نهضت د قوت او ځواکمنۍ د وخت کار دئ، د هغه وخت کار چي دښمن د عجز او ضعف احساس وکړي او نهضت عملاً خپله برلاسي او ځواکمني ثابته کړي، هغه وخت چي دښمن صلحي ته اړ شوی وي او له دې پرته بله چاره نه ګوري چي د مسلمانانو شرائطو ته تسلیم شي. عجیبه ده چي څوك دا ټول حقائق له پامه غورځوي او صلح د ضعف او ناتوانۍ د مرحلې کار ګڼي او ادعاء کوي چي نهضت کولی شي د ضعف په وخت کي له دښمن سره روغه جوړه وکړي!!

څوك په دې حقیقت نه پوهېږي چي د دوو ښکېلو خواوو تر منځ روغه جوړه تل د برلاسي او غالب لوري د شرائطو په اساس رامنځته کېږي، د غالب لوري شرائط منل کېږي او مغلوب لوری د ده د شرائطو منلو ته غاړه ږدي، یوازي په دې صورت کي ده چي د صلحي معاهده د دوو خواوو تر منځ امضاء کېږي، اسلام هیڅکله مسلمان ته د دې اجازه نه ورکوي چي ذلت ته سر ټیټ کړي، د دښمن شرائطو ته تسلیم شي، د همدې لپاره د ضعف او ناتوانۍ په وخت کي عدم مداهنت او صلحي ته په عدم دعوت تأکید کوي، خو د برلاسۍ په وخت کي اجازه ورکوي چي تفاهم وکړي او د صلحي بلني ته مثبت ځواب ووایي. کوم کسان چي د قرآنکریم په تفسیر کي د آیتونو شأن نزول او د هر آیت د نزول شرائطو

ته پام نه کوي او هر آيت بېل بېل او له نورو سره ئې تړاو ته له پام پرته تر بحث لاندې نيسي، کله چې د يوې قضيې په اړه دوه متباين احکام ګوري او په توجيه کې ئې له ستونزې سره مخامخ کېږي او له تلفيق ئې عاجز کېږي نو د دې پر ځای چې ووايي: د يوه حکم په يوې مرحلې پورې او بل ئې په بلې پورې مربوط دئ، برعکس د دغو پورتنيو آيتونو په څېر ئې تعبيروي! يا ئې يو ناسخ او بل منسوخ ګڼي!!

د دوی د تعبير له مخې مسلمانان مکلف دي چې د دښمن له لورې د صلحې وړانديز ته له ځنډ پرته مثبت ځواب ووايي، ګواکې مسلمانان له دښمن سره له روغې جوړې نه؛ بلکې يوازې له دې منع شوي چې دښمن ته پخپله د روغې جوړې وړانديز وکړي، خو که دا ابتکار د دښمن له لورې وو او د روغې جوړې پيغام هغه ورولېږو نو بيا کولی شي له ځنډ پرته روغه جوړه وکړي!! په داسې حال کې چې مسئله کاملاً د دې عکس ده، د قرآن آيتونه او عملي مصاديق ئې د پيغمبر عليه السلام په ژوند او له دښمن سره ئې په معامله کې په ډېر وضاحت سره ښيي چې صلح ځان ته خاص وخت او شرائط لري، له دښمن سره صلح او تفاهم د قوت او ځواکمنۍ د مرحلې کار دئ نه د ضعف د مرحلې، د مدني مرحلې کار دئ نه د مکي مرحلې.

## له دښمن سره تر هغه له تصادم ډډه چې توازن رامنځته شي!!

څوك چې د جهاد تجربه لري؛ هغه د همدې جهاد له امله هم د قرآن په لارښوونو د ښه پوهېدا وړتيا ترلاسه کوي او هم پوهېږي چې په لږ شمېر مجاهدينو او نظامي امکاناتو کولی شي ځواکمن حکومتونه نسکور کړي او ستر مغرور ځواکونه له ماتې سره مخامخ کړي؛ افغانانو دوو زبرځواکونو؛ شوروي او ورپسې امريکا او ناټو ته؛ يو په بل پسې ماته ورکړه؛ او له افغانستان ئې وتلو ته اړ کړل؛ شوروي په زوال محکوم شو؛ داسې چې نن د نړۍ په جغرافيه کې د شوروي اتحاد په نامه هيڅ هېواد نه شته؛ د امريکا د شرمناکې ماتې وضعيت داسې دئ چې د امريکا

اوسنی جمهور رئیس، د کانگریس مهم غړي، د پنتاګون او سي آی اې مهم مخکیني او اوسني مسئولین او مشهور ډیپلوماټان وايي: له افغانستان وتل داسي شرمناکه پېښه وه او د امریکا حیثیت ته ئې دومره صدمه رسولې چي جبران ئې ممکن نه دئ؛ ځیني ئې افغانستان ته د بیا تګ او د خپل حیثیت جبرانولو وړاندیزونه کوي. د دوحې مذاکراتو لپاره ئې ځکه یوازي طالبان غوره کړل او له هغوی سره ئې د خپلي خوښي معاهده لاسلیك کړه چي له یوې خوا پټمن وتل تضمین کړي او له بلې خوا د افغانستان په راتلونکي کې د خپل اغېزمن حضور او د رقیبانو عدم حضور تضمینات ترلاسه کړي؛ د طالبانو هیئت د دوی ټولي دا غوښتني ومنلې؛ خو نه معاهده عملي شوه، نه ئې دا تضمینات ترلاسه کړل او نه پټمن وتل.

د طوفان الاقصی په نامه د حماس جهادي ګوند؛ حیرانوونکي او بې مخینې عملیات چي د ۲۰۲۳م کال د اکتوبر په اومه ترسره شول؛ نتائج، لاسته راوړني او دوام ئې وښوده چي لږ شمېر مؤمن، هدفمن، هوښیار او صابر جنګیالي کولی شي سترو مجهزو او مغرورو ځواکونو ته ماته ورکړي؛ همغسي چي قرآن فرمايي:

...كَم مِّن فِئَةٖ قَلِيلَةٍ غَلَبَتۡ فِئَةٗ كَثِيرَةَۢ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ﴿٢٤٩﴾ البقرة

... له لږکیو ټولګیو څومره ئې د الله په اذن سره پر ډېرکي ټولګي غالب شوي؛ الله خو له صابرانو سره دئ.

## د ۷ اکتوبر عملیاتو تفصیل

دا یو له هغو عملیاتو وو چي نه یوازي د اسرائیلي ځواکونو لپاره بلکي د ټولي نړۍ لپاره یوه غیر مترقبه او د انتظار خلاف پېښه وه. دا عملیات د اکتوبر په ۷مه سهار وختي پیل شول؛ په دې کي د حماس نژدې ۲۵۰۰ جنګیالیو د عملیاتو په لومړي پړاو کي برخه واخیسته، لومړی ئې

د غزې له ترانګې؛ د اسرائيل په جنوبي سيمي کې د مهمو فوځي اهدافو په لور تر ۳۰۰۰ زيات توغندي وتوغول؛ بريد کوونکو مجاهدينو د اسرائيل سرحدي خنډونه او امنيتي سيستمونه او تأسيسات مات کړل او ترې تېر شول؛ د موټر سايکلونو، موټرو، وړو الوتکو (پارا ګلايډرونو)، او پلې تګ سره د اسرائيل داخل ته ننوتل؛ د څو ساعتونو په لنډ وخت کې ئې د اسرائيل يو شمېر ښارګوټي؛ لکه سدرات، نتيفوت، باري او اوفاکيم ونيول، د اسرائيلي سرچينو په اعتراف له ۱۲۰۰ تر ۱۴۰۰ پوري اسرائيليان وژل شوي؛ شاوخوا ۲۵۰ تنه اسرائيلي سرتېري او نور اتباع ئې اسير او غزې ته انتقال شوي؛ اسرائيلي فوځ نه دئ توانېدلی چي تر ننه له دغو اسيرانو يو تن هم د عملياتو په ترڅ کې ترلاسه او آزاد کړي؛ د عملياتو په لومړۍ ورځ د حماس د شهيدانو شمېر د لسګونو شاوخوا کې دئ؛ د جګړي له پيل تر ننه؛ د ۲۰۲۵ کال جولای مياشتي تر ۲۵ مي پوري چي ۶۷۲ ورځي تېري شوې؛ اسرائيل ادعاء کوي چي په دې موده کي ئې د حماس شاوخوا ۱۷تر۲۰ زره جنګيالي وژلي، دا ادعاء هيڅ مستقله مرجع نه مني، ځيني دا څه باندي ۷۰۰ او ځيني ئې د اسرائيليانو د ادعاء ۱۰٪ تر ۲۰٪ پوري (له ۲۰۰۰ تر ۴۰۰۰) پوري بولي.

او دا ښيي چي اسرائيلي ځواکونه د زمکنيو عملياتو هيڅ وړتيا او همت نه لري؛ ټول کمال ئې هوائي ځواك او پر کورونو، اپارټمانونو، جوماتونو، مدرسو، روغتونونو، د مهاجرينو پنډغالو او هر هغه ځای ړانده توغندي او بمونه ورول دي چي عام وګړي په کې راغونډېږي؛ په نژدې دوو کلونو کې ئې هيڅ داسي عمليات نه دي کړي چي له نظامي پلوه يوه بريا او لاسته راوړنه محسوب شي او د انساني معيارونو له مخي محکوم او مردود نه وي. حقيقت دا دئ چي که د غزې مجاهدين يوازي نه وی پرېښودل شوي؛ د ګاونډيو عربي هېوادونو يوه ئې په صادقانه توګه د دوی مرسته کړې وی؛ يا ئې د دوی په محاصرې کې د اسرائيل ملاتړ نه وی کړی؛ د زمکې، بحر او هوا اکمالاتي لاري نه وی پرې تړل شوې؛ تل ابيب او حاميانو به ئې لا ډېر وړاندي د حماس ټولو شرائطو

منلو ته غاړه ایښې وه.

## د حماس مجاهدینو د عملیاتو اساسي اهداف

د حماس مجاهدینو د ۷ اکتوبر عملیاتو اساسي اهداف او موخې دا وې:

- د صهیونستانو له لوري د اقصی جومات پر له پسې بې‌حرمتیو ته جدي او ځواکمن غبرګون ښودل.
- د غزې اوږدې محاصرې، اقتصادي بندیزونو او د اسرائیل ظلمونو او وحشتونو ته کلك ځواب ورکول.
- د فلسطیني اسیرانو خوشي کول.
- د فلسطین د خپلواکۍ هېره شوې او سړه شوې داعیه احیاء کول.
- د صهیونستانو غرور او بدمستي ګواښل، هیبت او حیثیت ئې له منځه وړل، غیر انساني او وحشیانه ماهیت ئې ټولي نړۍ ته بربنډول.
- د مقاومت نوې نظامي تګلاره آزمویل؛ له هغه وروسته چي نورو ټولو سیاسي او نظامي تګلارو هیڅ نتیجه نه درلوده.

د عملیاتو فوري نتایج دا وو:

۱. د اسرائیلي استخباراتو سخته او شرمناکه ناکامي: "موساد" او "شین بیت" هغه دوه هیبتناکي او د غربي نړۍ د استخباراتو په لاس جوړي شوې امنیتي او استخباراتي ادارې دي چي پر ایران وروستي برید کي ئې ځواکمني او اهمیت په ښه توګه څرګند شو؛ که توانېدلي وی؛ د عملیاتو په شپه ئې د نورو ګڼ شمېر مهمو شخصیتونو تر څنګ د ایران رهبر خامنه ای هم ترور کړی وی؛ نو معلومه نه ده چي ایران به له څومره سخت حالت سره مخامخ شوی وو؛ څنګه او کله به توانېدو چي ځان سمبال او وضعیت مهار کړي او د نظام د شړېدو مخه ونیسي؛ دا په حقیقت کي د بریا درشل ته رسېدلې کودتا وه چي بشپړي بریا ته ئې یوازي یو ګام پاته وو. حماس په خپل تاریخي بریالي برید سره همدې

موساد ته له شرم ډکه ماته ورکړه؛ معلومه ده چې حماس به څو کالونه پر دې منصوبې کار کړی وي، جنګیالي روزل، وسائل برابرول، د ځمکې لاندې داسې تونلونه جوړول چې موساد او د اسرائیل فوځ تر ننه نه دي توانېدلی هغه پیدا او ویجاړ کړي، دا یقیناً ډېر ګران او ستر کار وو او له دوی ئې کافي وخت غوښتو؛ دا کارونه په داسې حال کې شوي چې غزه له ځمکې، بحر او فضاء په بشپړه توګه محاصره وه، نه یوازې په سلګونو فلسطیني جاسوسان به د موساد په خدمت کې وو؛ بلکې د محمود عباس تر مشرۍ لاندې تش په نامه فلسطیني حکومت او په حقیقت کې تل ابیب ته منقاد او خاضع اداره؛ هم د حماس په خلاف د اسرائیل مرسته او ملګرتیا کوله؛ او دا ئې غوښتل او غواړي چې دا فعال او د فلسطیني ولس له پراخ حمایت برخمن رقیب ئې د اسرائیل په لاس وځپل شي؛ محمود عباس تل ویلي چې حماس باید خلع سلاح شي؛ باید غزه ده ته وسپارل شي؛ د همدې جنګ په دوران کې ئې د حماس په اړه داسې سپکې او ګنده خبرې له خولې وتلې چې ډېر منحط او سپك انسان ئې هم په ویلو شرمېږي؛ حماس وتوانېدو په همداسې سختو ظروفو او شرائطو کې دومره ستر او اغېزمن بریالي عملیات ترسره کړي؛ دا یقیناً چې د موساد او د اسرائیل د ټولو حامي استخباراتي شبکو لپاره یو ستر او نه جبرانېدونکی پېغور وو؛ او د حماس لپاره له افتخار ډکه بریا.

د حماس بریالي عملیات؛ د وحشتناکو سترو ډمونو په وړاندې د دوی استقامت او ثبات، د کلکې محاصرې او پر غزې تحمیلي قحطي، پر مظلوم ولس ئې د هر راز غذائي موادو د رسېدو کلك بندیز، د غذائي موادو د وېش پر مرکزونو او راغونډ شوو فلسطینیانو ډزې کول او ډمونه پرې ورول، دا هر څه زغمل او له مقاومت لاس نه اخیستل؛ له یوې خوا د دوی په نسبت د نړۍوالو خوا خوږي او حمایت اوج ته رسولی؛ دومره چې په ټول بشري تاریخ کې د هیڅ مظلوم او مقاوم ولس په اړه دومره ژوره او پراخه نړۍواله خوا خوږي نه ده لیدل شوې؛ له بلې خوا ئې اسرائیل او په دې وحشیانه جنګ کې د هغه بې رحمه حامیان؛ په دومره

پراخه پیمانه منفور کړي چي مثال ئې په تاریخ کې نه شو موندلی؛ د اسرائیل دننه هم د دې وحشتونو په وړاندي مخالفتونه انتهاء ته رسېدلي. حماس په همداسي حالت کې له اسرائیلي اسیرانو سره د شرافت او اخلاق دومره لوړه اخلاقي معامله او انساني سلوك کړی چي هر شریف او باضمیره انسان اړ کوي په دواړو لاسونو دوی ته سلام او درناوی وکړي؛ د یوه آزادي غوښتونکي خوځښت د حقیقي او معنوي بریا لپاره همدا کفایت کوي.

نو یقیناً چي د حماس له لوري د ۷ اکتوبر عملیات یو تاریخي او ستراتیژیک اقدام وو چي بدمست اسرائیل او د هغه مغرور حامیان ئې له عسکري، استخباراتي، سیاسي او اخلاقي پلوه سخت وشرمول. سره له دې چي غزه ورانه شوې، ولس ئې مسلسل هجرت او له یوې سیمي بلي ته په وار وار تګ او پناه وړلو مجبور شوي، له شدید انساني بحران، تحمیلي لوږي او قحطي سره مخ شوي، خو له یوه وحشي او ځناور دښمن د ژغورني لپاره له مقاومت پرته بل بدیل او بله لار نه لري؛ د مقاومت دوام او پر ستونزو او کړاوونو ئې صبر؛ یوازینی سم انتخاب دئ؛ افغانانو د شوروي خلاف جهاد کې پنځه میلیون مهاجرین درلودل او د امریکا خلاف شل کلن مقاومت کې ئې ٦ میلیون بهر ته مهاجر او ۳ میلیون د هېواد دننه مسلسل او پر له پسې بې ځای شوي؛ د حماس تاریخي عملیاتو وښوده چي د آزادي او خپلواکي لپاره مؤمن او سر لوړي فلسطینیان هري قربانۍ ته چمتو دي، د نړۍ هیڅ ځواك غلامي نه شي پرې تپلی، مرګ مني خو غلامي او اسارت نه مني، د اشغال، اسارت او محاصرې په وړاندي ئې مقاومت په سم مسیر روان دئ؛ نړۍ ته ئې وښوده چي د اشغال خلاف مقاومت او د خپلواکۍ لپاره جګړه ئې لا ژوندۍ او ځپانده ده او تر وړاندي لا زیاته مضبوطه، منظمه او پیاوړې او جنګیالي ئې د لوړ همت او کلك عزم خاوندان؛ شمېر ئې تر مخکي لا زیات او څو برابره شوی؛ اسرائیل اعتراف کوي چي همدا اوس او له دوه کاله جنګ وروسته د حماس جنګیالي تر مخکي زیات او نژدې ٤٠٠٠٠

زره ته رسېدلی!!

تر نن پورې لږ تر لږه ۶۰۰۰۰ فلسطینیان وژل شوي؛ چې غوڅ اکثریت ئې ښځې، ماشومان او نور ملکیان دي او نژدې ۱۴۳،۰۴۵ ټپي شوي؛ تر ۱۰۰۰ زيات شهيدان هغه مظلومان دي چې د خوراکي توکیو د وېش محل ته د مرستو ترلاسه کولو لپاره راغونډ شوي خو د اسرائيلي وحشي ځواکونو تر برید لاندې نیول شوي.

امریکا، فرانسې او بریتانیا په پراخه توګه او عملاً او د سرتېرو او تجهيزاتو په لېږلو سره د اسرائيل مرسته کړې او د توغندیو په وړاندې د اسرائيلي ښارونو په حفاظت کې ئې فعاله برخه اخیستې؛ د ایران د راکټي بریدونو په وړاندې؛ پر تل ابیب او نورو اسرائيلي ښارونو او مهمو ځایونو د اوسپنيزې ګنبدې په نامه؛ فضائي ډال رامنځته کولو کې ټول شریك ول؛ خو نن فرانسه او بریتانیا د خپلو ولسونو د مخالفت او د نړۍوالو فشارونو له امله نه یوازې له حمایت په شا شوي بلکې د تل ابیب وروستي جنګي جنایات غندي. د فرانسې جمهور رئیس وويل: د ملل متحد په ناستې کې به د فلسطین خپلواك هېواد په رسمیت وپېژني! هسپانیې او کاناډا هم دا پرېکړه کړې، د دغو هېوادو شمېر هره ورځ زیاتېږي، داسې معلومېږي چې امریکا به منزوې او یوازې پاتې کېږي.

## د ۷ اکتوبر برید او د ۱۹۶۷ کال جګړې ته له بل اړخ کتنه

د اسرائيل نظامي ځواك (فوځ) او استخباراتي شبکه (موساد)؛ د ۱۹۶۷ کال له ۶ ورځني بریالي جنګ وروسته؛ د یوه نه ماتېدونکي ځواك په توګه پېژندل کېدو؛ غرور ئې له آسمان سره سر جنګولو، ټول ګاونډیان او د سیمې ټول هېوادونه ترې وېرېدل؛ راشئ د هغې جګړې د څرنګوالي او پایلو په اړه ئې مختصر بحث ولرو:

د ۱۹۶۷ کال شپږ ورځنۍ جګړه (چې د «دریم عرب-اسرائيلي جنګ» یا «د ۱۹۶۷کال جنګ» په نوم هم پېژندل شوی د جون له ۵ نه تر ۱۰ پورې دوام وکړ. دا جنګ د اسرائيل او دریو مهمو عربي هېوادونو (مصر،

سوریه او اردن) تر منځ وو؛ پیل ئې د اسرائیل له لوري وو؛ په ترڅ کې ئې عربو هېوادو ته درانه ځاني، مالي، نظامي او ستراتېژيکي زیانونه واوښتل. د تلفاتو او زیانونو تفصیل داسې وو:

۱. ځاني تلفات:

د مصر شاوخوا ۱۰،۰۰۰ عسکر ووژل شول، تر ۲۰،۰۰۰ پوري نور ژوبل یا بندیان شول. د اردن نژدې ٦،۰۰۰ عسکر ووژل شول، زرگونه نور ژوبل او بندیان شول. د سوریه نژدې ۱،۰۰۰ تر ۲،۵۰۰ پوري عسکر ووژل شول. خو په مقابل کې ئې د اسرائیل نژدې ۷۷٦ عسکر وژل شوي او شاوخوا ۲،۵۰۰ ژوبل شوي.

۲. مالي او نظامي تلفات:

د مصر: هوايي ځواک ته ډېر دروند زیان واوښت، اسرائیل د جنگ په لومړۍ ورځ د مصر شاوخوا ۳۰۰ روسي الوتکي له منځه یووړې؛ ډېری ئې د زمکې پر سر ویجاړې شوې، زرگونه ټانکونه، توپونه او نور نظامي وسائل ئې ویجاړ او تخریب شول. د سوریې او اردن هم ډېري درنې وسلې، ټانکونه، توپونه او هوايي تجهیزات له منځه ولاړل؛ نظامي تأسیساتو او بنسټونو او دفاعي تجهیزاتو او سیستمونو ته ئې دومره زیانونه ورسېدل چې د دوی دفاعي وړتیا ئې صفر ته نژدې کړه او په لنډه موده کې ئې جبران شبه محال شو.

۳. د زمکو له لاسه ورکول: اسرائیل د مصر تر کنټرول لاندې د سینا ټاپو نیمايي تقریباً (٦۰،۰۰۰) کیلومتره مربع ونیوله. له اردن ئې ختیځ بیت المقدس او د اردن سیند ټوله لوېدیځه غاړه (تقریباً ۵،۹۰۰ کیلومتره مربع) ونیوله؛ له سوریې ئې د جولان لوړې (شاوخوا ۱،۲۰۰ کیلومتره مربع) ونیولې.

۴. سیاسي او ستراتېژیک زیانونه: دې شرمناکې ماتې هم د عرب هېوادو عزت، حیثیت او اعتبار په خاورو ولړلو او هم ئې مورال، جرأت او همت ذوب کړ؛ د عرب نړۍ د بیا یووالي او ګډ اقدام امکانات او

احتمالات ئې داسې وځپل چې له هغې نېټې وروسته بیا تر ننه هیڅ عرب زعیم او هیڅ عربي هېواد؛ د جمال ناصر اکتونه او پېښې نه دي تکرار کړې او د ګډ اقدام تش شعار ئې هم نه دئ ورکړی.

دې جنګ د فلسطیني کډوالو شمېر هم زیات کړ، په لکونو فلسطینیان ئې د خپلو کورونو پرېښودو ته اړ کړل، دوی تر دې وړاندې په ۱۹٤۸م کال کې هم د سلګونو زره په شمېر کې هجرت ته مجبور شوي وو.

د ملګرو ملتونو د شمېرنې او تاریخي اسنادو له مخې؛ شاوخوا ۳۰۰،۰۰۰ تر ٤۰۰،۰۰۰ پوري فلسطینیان د ۱۹٦۷م کال د جګړې له کبله مجبور شول چې خپلې مېنې او کورونه پرېږدي او نورو سیمو ته کډه شي. کله چې اسرائیل دا سیمه اشغال کړه؛ شاوخوا ۲۰۰،۰۰۰ فلسطینیان د اردن سیند له لارې اردن ته ننوتل؛ همدا راز د غزې زیات شمېر هستوګن یا خو د دوی پر سیمې د اسرائیلي ځواکونو د برید له کبله مهاجر شوي او یا اسرائیلي ځواکونو د سیمې له تصرف وروسته هغوی په زور ایستلي؛ د تصفیې دا لړۍ په ټولو اشغالي سیمو کې عملي شوې او لړۍ ئې تر ننه روانه ده؛ کله کله داسې کارونه د پټ مخو او مرموزو کړیو له لورې ترسره کېږي؛ د فلسطینیانو کورونو ته اور اچول کېږي او ګاډي ئې سوزول کېږي؛ ځو ورځې وړاندې په همداسې پېښې کې د دوی ٦۰ ګاډي وسوزول شول. او دا همغه کار دئ چې د دوی جعلي افسانوي اتل سامسون کول او بایبل ئې یادونه کړې؛ داسې چې هغه درې سوه ګیدړې ونیولې، دوه دوه ئې له لکیو سره وتړلې، تر منځ ئې مشعلونه کېښودل، بل ئې کړل او د فلسطینیانو په فصلونو او باغونو کې ئې خوشې کړې او په دې توګه ئې د هغوی ټول فصلونه او باغونه وسوزول!! د دوی مذهبي کتابونه له دغسې پاروونکو، د جګړو لورې ته هڅوونکو قصو ډک دي؛ د دوی جعلي اتلانو ته هم د نورو مخالفو ولسونو عام وژنې منسوب شوې او پیغمبرانو ته ئې هم؛ همدا د تحریف شوي مذهب په خم کې رنګ شوي یهودان؛ ځان د خدای اصلي او محبوب

زامن، د زمکې اصلي وارثان او د آدم علیه السلام اشرف او تر نورو غوره او د جنت لپاره پیدا شوي اولاد ګڼل، نورو ته په سپکه سترګه کتل، د دوزخ خس او خاشاك ئې شمېرل؛ او د هغوی خلاف هر څه کول نه یوازي جائز بلکې د ثواب کار او د خپل مزعوم خدای د رضاء ترلاسه کولو وسیله ئې ګڼل؛ همدا شیطاني باورونه د دې باعث شوي چې د هیڅ سیمي او هېواد د هستوګنو په څنګ کې؛ د سولې او انساني وروري په فضاء کې او له شخړو او منازعاتو پرته ژوند کولو نه دي موفق شوي، په ټولې نړۍ کې داسي هېواد نه مومو چې یهودان په کې اوسېدلي خو ولس ئې دې ته نه دئ اړ شوی چې د دوی خلاف پاڅي او له خپلې سیمي ئې وباسي؛ ښايي د دوی د ډله ایزو ایستنو او وژنو په اړه دغه ارقام کافي وي چې پوه شو د دوی مذهبي ډوله قومي او نژادي جنون له کومو بدو پایلو سره مخامخ کړي:

## مذهبي جنون او د یهودانو عام وژني او په ډله ایزه توګه ایستني

که د یهودانو تاریخ ته ځیر شو او له نورو قومونو سره ئې پرتله کړو نو په څرګنده توګه به وګورو چې د نړۍ هیڅ قوم د دوی په پیمانه له بریدونو، جګړو، عام وژنو، په ډله ایزه توګه له خپلو سیمو ایستلو سره نه دئ مخامخ شوی؛ دا ئې څو بېلګې دي:

روم په ۷۰ یم میلادي کال کې پر یهودانو د برید په ترځ کې بیت‌المقدس وران کړ؛ یهودان ئې یا ووژل، یا ئې غلامان کړل او یا ئې له ټولې سیمي وشړل. مؤرخین د **Josephus** جوسیپوس په شمول لیکي چې په دې بریدونو کې شاوخوا یو میلیون یهودان وژل شوي؛ اوسني مؤرخین ئې تخمیناً ۳۰۰،۰۰۰ تر۶۰۰،۰۰۰ پوري ګڼې؛ او د اسیرانو چې غلامان او مریان ترې جوړ شول؛ شمېر ئې شاوخوا ۱۰۰،۰۰۰ وو چې روم ته انتقال شول.

په ۱۳۵م کال کې د یهودانو له لوري د روم خلاف پاڅون وشو؛ چې د (بار کوخبا پاڅون) په نامه یاد شوی؛ د روم واکمن امپراتور هادریان

دا پاڅون سخت وځپلو، څوك چي ژوندي او روغ پاته شوي د رومیانو مریان او غلامان ترې جوړ شوي، پر دوی ئې بندیزونه ولګول؛ ختنه، د یهودي شریعت روژه او نور عبادات ئې ممنوع کړل، د بیت‌المقدس پر ځای ئې د ژوپیتر معبد (د روم د بوتانو معبد) جوړ کړ؛ دا هڅه ئې وکړه چي د یهودانو ټول مذهبي او کلتوري هویت له منځه یوسي او د روم کلتور ته ئې تابع کړي. واقعیت دا دئ چي بایبل د رومي واکمنو په امر او په یوناني ژبې لیکل شوی، هیڅ اصلي عبري نسخه ئې نه شته، اوسنۍ عبري نسخه ئې له یوناني نسخې ژباړل شوې، د یهودانو ټول پیغمبران ئې په سترو سترو ګناهونو او اخلاقي فساد تورن کړي، هیڅ یو ئې روغ نه دئ پرېښی، د یهودانو ټول مذهبي کتابونه د رومي، بابلي او ساساني بریدونو په ترڅ کي په بشپړه توګه له منځه تللي او سوزول شوي او ټول معابد ئې ویجاړ شوي، دوی له خپلو سیمو داسي وتلي چي هیڅ څه ئې له ځان سره نه شو انتقالولی. له دوی سره اصلي تورات، زبور او انجیل نه شته، په دغو نومونو چي څه ورسره دي؛ ټول د رومیانو او یونانیانو په لاس لیکل شوي داسي کتابونه دي چي د الهي کتابونو هیڅ څه به په کي ونه مومئ؛ د مثال په توګه زبور چي داؤد علیه السلام ته ورکړی شوی کتاب دئ؛ له داسي ګنده شعرونو ډك دئ چي هر شریف او غیرتي انسان ئې د خپلي مېرمني، لوڼو او زامنو په وړاندي پر لوستلو شرمېږي.

شمعون بار کوخبا د شاوخوا ۲۰۰ زره یهودي جنګیالیو مشري کوله او نژدې درې کاله ئې د اسرائیلو یوه مستقله سیمه تر خپلي ادارې لاندي درلوده، پلازمېنه ئې د (بیتار) په نامه نومېده. د رومي امپراتور هادریان ځواکونو په ۱۳٥م کال کي د بیتار ښار محاصره او وران کړ؛ بار کوخبا ووژل شو او پاڅون کاملاً وځپل شو؛ د رومي سرچینو له مخي شاوخوا ٥۸۰ زره یهودان ووژل شول، کلي او ښارونه وران او کښتونه وسوزول شول، د بیت‌المقدس ښار ته د یهودانو ننوتل ممنوع شو، او ټول یهودان د فلسطین له سیمو وشړل شول. همدا د یهودانو وروستی نظامي او

وسله وال پاڅون ثابت شو؛ او تر دې وروسته ئې ټوله هڅه په دې کې محدوده او منحصره پاته شوه چي څنگه خپل مذهبي او قومي هويت وساتي؛ د حکومت کولو او بېل مستقل هېواد جوړولو خوب او خيال ئې په بشپړه توگه هېر کړ؛ تر هغه چي غربي ځواکونو په ځانگړې توگه بريتانيا د خپلو خاصو استعماري موخو لپاره په فلسطين کې ځای پر ځای کړل.

همدا کار تر دوی وړاندي بابليانو ورسره کړی، بابليانو تر ميلاد وړاندي په ٥٨٦ ق م کې پر بيت‌المقدس بريد وکړ او هغه ئې ويجاړ او يهودان ئې اسير کړل؛ د وژل شويو شمېر په لسگونو زره ښودل شوی او د اسيرانو شمېر له ۱۰،۰۰۰ تر ۱۸۰۰۰ زره پوري. د يهودانو تر واکمنۍ لاندي ټوله سيمه تخريب او له هستوگنو تخليه شوې.

اسپانيا په ۱۴۹۲م کي نژدې ۲۰۰,۰۰۰ يهودان وايستل

پرتگال په ۱۴۹۷م کي شاوحوا ۷۰,۰۰۰ يهودان وايستل

انگلستان په ۱۲۹۰م کي ۱۶,۰۰۰

فرانسې له ۱۳۰۶م تر ۱۳۹۴م پوري تر ۱۰۰,۰۰۰ زيات وشړل

جرمني (نازي دور) کي له ۱۹۳۳م تر ۱۹۴۵م پوري نژدې ۶ ميليون ووژل او په سلگونو زره ئې يا ايستلي يا ترې تښتېدلي.

رُوسيه / شوروي اتحاد؛ له ۱۸۸۰م تر ۱۹۲۰م پوري ۲ ميليون هجرت او تېښتي ته اړ کړي.

عربي هېوادونو (مصر، عراق، ليبيا، يمن...)؛ د اسرائيل له تأسيس وروسته؛ له ۱۹۴۸م تر ۱۹۷۰م پوري ۸۵۰,۰۰۰ ايستلي يا تښتېدلي.

فارسي ساسانيانو هم په ٦١٤م کال کې بيت‌المقدس ونيولو، دوی د يهودانو خلاف خونړۍ جگړې نه‌درلودې؛ بلکې يهودانو د بازنطيانو پر ضد د ساسانيانو مرسته کړې؛ او په هغې جگړې کې ئې د ساساني جنرال شاهين تر قومندې لاندي شرکت کړی چي بيت‌المقدس ئې ونيولو. په دې جگړې کې تخميناً ٦٠،۰۰۰ تر ۹۰،۰۰۰ مسيحيان وژل شوي. بازنطين

د روم هغه شرقي برخه ده چې مرکز ئې قسطنطنیه (اوسنی استنبول) وو؛ اوسېدونکي ئې مسیحیان ول، نژدې زر کاله ئې (له څلورم میلادي پېړۍ تر ۱۴۵۳م) بېله امپراطوري وه؛ په ۱۴۵۳م کي د عثماني خلافت له خوا فتحه شوه.

د یهودانو د اخراج او ایستلو لړۍ د موسی علیه السلام له رحلت وروسته پیل شوې او تر ۲۰ پېړۍ پوري؛ شاوخوا ۸-۱۰ میلیون یهودان یا وژل شوي یا ایستل شوي او یا تښتېدلي؛ تل ابیب ادعاء کوي چې یوازي جرمني کې او د هتلر حکومت ٦ میلیون یهودان وژلي؛ دا عام وژنه د هولوکاست په نامه يادېږي؛ چې یوه یوناني اصطلاح ده؛ له دوو لفظونو جوړه شوې: (Holo) هولو: یعني ټول او (caust) کاست یعني سوزونه؛ دا د یونانیانو یوه مذهبي قرباني او سوزونه وه؛ یهودانو همدا اصطلاح د جرمني نازیانو په لاس د یهودانو نسل وژني ته غوره کړې.

دې ته مو پام وي چي یهود یو وړوکی قوم دئ؛ همدا نن په ۲۰۲۵ م کال کې؛ د تل ابیب د ادعاء له مخي؛ د نړۍ د ټولو یهودانو شمېر؛ شاوخوا ۱۵.۸ میلیون دئ؛ خو دا شمېرنه قطعاً حقیقت نه لري؛ نه له علمي محاسبې سره اړخ لګوي او نه ئې تاریخي او اجتماعي حقائق تأییدوي؛ دا قوم د یعقوب علیه السلام اولاده ده؛ هغه نژدې ۳۵۰۰ کاله وړاندي تېر شوی، که د دوی د نفوس وده په تخمیني او اوسط توګه د کال ۰,۲ سلنه ونیسو نو نن په ۲۰۲۵ کال کې باید د دوی شمېر شاوخوا ۱٦ میلیون وي؛ خو که دا حقائق په پام کې ولرو چي فرعون د دوی زامن وژل، څو پېړۍ ئې په اسارت او غلامۍ کې تېر کړي، په ټولي نړۍ کې خواره شوي؛ له نورو قومونو سره ئې له نکاح ډډه کړې، شاوخوا لس میلیون ئې په عام وژنو او بریدونو کې وژل شوي (د نازیانو په لاس د ٦ میلیون وژل شوو په شمول)؛ نو اوس باید ۱٦-۱۰ = ٦ میلیون وي. خو د دوی ادعاء دا ده چي اوس شاوخوا ۷ میلیونه یهودیان په إسرائیل کي ژوند کوي او نژدې ۸ میلیون په نورو هېوادونو (امریکا کې ٦ میلیون، فرانسه کې ۴۴۰ زره، کاناډا کې ۳۹۸ زره، برتانیا کې ۳۱۲ زره او نور..) ژوند

کوي. نو یا به د دوی د وژل شوو شمېرې د حقیقت خلاف وي؛ لکه چې دوی د نازیانو له لوري د وژل شوو یهودانو شمېر ٦ میلیون ګڼي او نور ئې نژدې یو میلیون؛ او یا خو د دوی د اوسني نفوس په اړه ارقام ناسم او د حقیقت خلاف دي.

## د یعقوب علیه السلام اولاد ولې د یهود په نامه مشهور شول؟

بني اسرائیل ولې د یهودانو په نامه یاد شوي؟ یهودا خو د یوسف علیه السلام د یوه ورور نوم وو او یهود یعني د همدې ورور زامن، آیا د یعقوب علیه السلام د ۱۱ نورو زامنو اولاد په دوی کې شامل دي؟ ځواب ئې دا دئ: د سلیمان علیه‌السلام له وفات وروسته د بني‌اسرائیلو لوی سلطنت په دوو برخو ووېشل شو:

۱- د شمال سلطنت؛ چې لس قبائل په کې وو، او د اسرائیل په نامه یادېدل؛ دوی د یعقوب علیه السلام د لسو زامنو اولاد وو.

۲- د جنوب سلطنت چې دوه قبائل په کې وو؛ د یعقوب علیه السلام د دوو زامنو یهودا او بنیامین اولاد؛ دوی د یهودا په نوم یاد شوي.

تر میلاد اته پېړۍ وړاندې د اشوریانو له خوا د شمال اسرائیلي سلطنت نسکور او له منځه ولاړ او خلك ئې یا ووژل شول، یا داسې متلاشي شول چې د وخت په تېرېدو سره په نورو قومونو کې مدغم او آثار ئې له منځه ولاړل.

د جنوب سلطنت له شړېدو او نړېدو وژغورل شو؛ د یهودا او بنیامین نسل پاته شو؛ دوی د نورو له لوري د یهود په نامه یاد شول؛ که څه هم په هغوی کې د بنیامین اولاد هم وو او د یعقوب علیه السلام د نورو زامنو اولاد هم. ورو ورو دا نوم د ټولو هغو خلکو لپاره وکارول شو چې د موسی علیه‌السلام دین ئې منلی وو.

## امریکا له یهودانو سره څه کړي

دا هم باید واضح کړو چې امریکا له یهودانو سره څه کړي او ولې

ئې دومره ډېر مهاجر یهودان منلي او پراخ امتیازات ئې ورکړي؟

امریکا د نورو هېوادونو په پرتله له یهودانو سره بېل او امتیازي چلن کړی؛ دا امتیازي چلن خپل خاص وجوهات او دلائل لري چي په پېژندو کي ئې لاندي وضاحتونه زموږ مرسته کولی شي:

• یهودان امریکا ته کله او څنګه راغلل؟: دوی له ۱۵۰۰م کال وروسته او هغه مهال چي له اروپايي هېوادو او هسپانیې تېښتي ته اړ شول او امریکا ته لاړل؛ له ۱۸۰۰م وروسته؛ ډېری یهودیان له روسیې، پولنډ، آلمان او ختیځي اروپا؛ امریکا ته کډه شول.

• یهودان د اوسنۍ امریکا تر جوړېدو (۱۷۷۶م) وړاندي هغو سیمو ته مهاجر شوي وو چي اوس په متحده ایالاتو کي مدغم شوې؛ مهاجرت ئې لا په ۱۶مي او ۱۷مي پېړۍ کي پیل کړی وو، دا هغه ۱۳ سیمي وې چي د برتانیې تر واک لاندي وې؛ ځیني ئې دا وې:

۱- اوسنی نیویارک (New York) چي مخکي د نیو امسټرډام (New Amsterdam) په نامه یادېدو. دا لومړنی امریکایي بندر وو چي یهودان ورغلل. لومړۍ جوپه ئې د پرتګالي استعمار له لاسه په ۱۶۵۴م کال کي تښتېدلې او نیو امسټرډام بندر ته رسېدلې وه.

۲- رود اسلنډ (Rhode Island)؛ هغه مستعمره چي د مذهبي آزادۍ له امله مشهوره وه، همدلته په ۱۷۶۳م کال کي د امریکا تر ټولو مخکینۍ یهودي کنیسه جوړه شوه.

۳- جنوبي کارولینا (South Carolina)؛؛ دلته یهودي مهاجرین له اروپا؛ خاصتاً آلمان او پرتګال راغلل. د دې ایالت چارلستون ښار د امریکا له هغو ښارونو وو چي د یهودیانو تر ټولو لویه ټولنه ئې درلوده.

۴- د پنسلوانیا (Pennsylvania) ایالت په فیلډلفیا ښار کي ډېر یهودان مېشت شوي او دلته یهودي ټولنه ډېره فعاله وه.

۵. په جورجیا (Georgia) کي هغه یهودي مهاجرین مېشت شوي چي د بریتانیا د سلطې په دوران کي له هسپانیا، پرتګال او آلمان راغلي ول.

٦. په ماسچوسټس (Massachusetts) کې مېشت یهودان په پیل کې له سختو محدودیتونو سره مخ ول؛ خو سره له دې دلته پاته شوي.

دوی د مجبوریتونو له کبله او د یوې سرپنا موندلو په هیله دغو سیمو ته مهاجر شوي؛ هلته ئې هم د سوداګرۍ لپاره مناسب شرائط په برخه شوي او هم د مذهبي آزادۍ حق؛ او همدا دوی وروسته د بریتانیا له سلطې د امریکا د آزادۍ په خوځښت کې څه ناڅه ونډه درلوده.

## امریکا یهودانو ته څه ورکړل؟

یهودانو په امریکا کې تابعیت، مذهبي آزادي، په اقتصادي، تعلیمي او مطبوعاتي ډګرونو کې د فعالیتونو او پانګونې حق ترلاسه کړ؛ دومره چې نن د امریکا بانکي نظام، وال سټریټ او د ډېرو تجارتي شرکتونو مشري د دوی په واک کې ده؛ CNN، New York Times، Hollywood، Netflix رسنۍ او فرهنګي مراکز دوی کنټرولوي. په تعلیمي برخي کې د Harvard، Yale، Columbia په شان پوهنتونونو کې پراخ نفوذ لري. په سیاسي برخي کې د امریکا پر دواړو اساسي ګوندونو (ډیموکرات او ریپبلیکن) ژور اغېز لري؛ هر یو په انتخاباتو کې د بریا ترلاسه کولو لپاره د یهودانو ملاتړ ته ځان اړ ګڼې، د امریکا خارجه پالیسي تر ډېره حده د یهودي لابي تر اغېز لاندي جوړېږي په دې کې د اسرائیل پراخ ملاتړ د امریکا ثابت اصل ګرځېدلی. پر دې سربېره د امریکا حکومت یهودانو ته دا امتیازات هم ورکړي:

د اسرائیلو له حکومت سره هر کال میلیارډونه ډالر مرستي.

یهودي مؤسساتو ته د مالیاتي معافیتونو امتیازات.

د Antisemitism تر نامه لاندي د یهودانو هغه قانوني حمایت چې د یهودانو خلاف کرکه، تعصب، سپکاوی، توهین؛ یا تاوتریخوالی د مجازات وړ جرم ګڼل کېږي؛ که څوک د یهودو پر ضد څه ووایي نو مجازات کېږي؛ که څوک د Holocaust هولوکاست کیسه تر پوښتني لاندي راولي، نیوکه پرې وکړي، یا انکار ترې وکړي؛ نو مجازات او حتی

بندي کېږي.

دا مرستي په داسي حال کي کېږي چي اکثر امریکایان ورسره موافق نه دي، نوی نسل دا مرستي او حمایتونه په کلکه غندي؛ فلسطینیان په حقه ګڼي او له هغوی سره خوا خوږي ښيي، په اکثرو ایالتونو کي د فلسطینیانو په حمایت او د تل ابیب د جنایاتو د غندني لپاره ستر ستر؛ حتی میلیوني تظاهرات ترسره شول؛ په کانګریس کي که یوه اړخ ته داسي بد ضمیر او وحشت خوښوونکي سناتوران شته چي وايي: پر غزه باید اټمي بم وکارول شي، لينډسي ګراهم (Lindsey Graham)؛ د امریکا د جنوبي کارولینا ایالت جمهورپال (Republican) سناتور؛ له فاکس نیوز (Fox News) سره په مرکې کي ویلي وو: «که اړتیا وي نو اسرائیل دي له اټومي وسلو هم کار واخلي، غزه باید له منځه یووړل شي.» دغه ځرګندوني ئې د ۲۰۲۴ کال د مې په ۱۹مه په خپلي تلویزیوني مرکې کي کړې وې. د دې پوښتني په ځواب کي چي که حماس مقاومت ته دوام ورکړي نو اسرائیل څه باید وکړي؟ ده وویل: "که حماس جګړه ختمه نه کړي؛ نو اسرائیلو ته باید اجازه ورکړل شي چي جنګ د جاپان د ماډل له مخي پای ته ورسوي"؛ یعني همغسي لکه چي امریکا د جاپان پر ضد اټومي بمونه وکارول. د هغه اشاره د هیروشیما او ناګاساکي اټومي بریدونو ته وه، او هدف ئې دا وو چي اسرائیلو ته هم باید اجازه ورکړی شي چي همدا ډول پرېکنده او مرګوني بریدونه وکړي؛ حتی که اټومي وسلې هم په کي وکارول شي.

دا مرکه له پراخ غبرګون سره مخ شوه؛ ګڼو نړیوالو فعالانو او سیاستوالو دا ځرګندوني؛ نسل‌وژني ته مشروعیت ورکول وبلل؛ خو دی تر ننه پر خپل شریر او له رذالت ډک دریځ ولاړ دئ. فتوی ئې د افغانستان د اشغال په دوران کي د ایساف مفتیانو ته ورته ده چي ویل ئې: د طالبانو (مجاهدینو) بندیان باید د کابل په څلور لارو کي زیندۍ او په دار وځړول شي؛ او د طالبانو هغو پوچ خولو او پټ مخو فیسبوکیانو ته ورته ده چي وايي: د امارت مخالفین باغیان دي او باید ککرۍ او سینې

ئې په مرمیو سورۍ سورۍ شي!! دا درې واړه له یوه ګنده ډنډ څروبېږي او په سینو کې ئې د انسان زړه نه بلکې د ځناورو زړونه دي.

بل لوري ته د برني سندرز په څېر مستقل سناتوران شته چې هم د صهیونستانو جنایات غندي او هم د دوی له جنایاتو د امریکا حمایت او له هغوی سره مالي او نظامي مرستې. دې پخواني سناتور په خپل ایکس پیغام کې ویلي: پر سناتورانو به فشار راولم چې په سنا کې د هغه پرېکړه‌لیک ملاتړ وکړي چې غواړي پر اسرائیل د ۶۷۵.۷ میلیون ډالرو وسلو پلورلو مخنیوی وشي؛ له هغوی به وغواړم چې دې پریکړه لیك ته مثبته رأی ورکړي. هغه وایي: اوس هغه وخت رارسېدلی چې کانګرس له اسرائیل سره د امریکا مالي مرستې بندې کړي؛ امریکا باید له هغه حکومت سره مرسته ونه کړي چې پر ماشومانو لوږه تپي. امریکا ولې د مالیه ورکوونکي ولس په سلګونو میلیونه ډالر د نتنیاهو د نژادپال او افراطي حکومت په ملاتړ لګوي؛ نور بس ده؛ موږ نه شو کولی د مالیه ورکوونکو پیسې پر هغه حکومت ولګوو چې شاوخوا شپېته زره فلسطینیان ئې وژلي؛ ډېری ئې ښځې، ماشومان، زاړه او بوډاګان؛ تر ۱۴۳ زره زیات ئې ټپیان کړي. موږ نور نشو کولای له هغه رژیم ملاتړ ته دوام ورکړو چې د بشري مرستو د مخنیوي له لاري د غزې تراړه په یوه ستره لوږه اخته کوي او خلک په قصدي توګه وږي ساتي.

د امریکا نامتو ورځپاڼې «واشنګټن پوسټ» د هغو ۱۸۵۰۰ فلسطیني ماشومانو نوملړ خپور کړی چې د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر له اوومې نېټې تر اوسه د اسرائیلي بریدونو له امله په غزه کې وژل شوي؛ دغه نوملړ ئې په چاپي نسخه کې خپور کړی او بشپړ فهرست ئې د عکسونو او کیسو سره یوځای پر خپل وېب‌سایټ خپور کړی دئ.

دا باید په یام کې ولرو چې واشنګټن پوسټ د معتدلې لیبرالي رسنۍ په نامه پېژندل کېږي چې د اسرائیلو ملاتړ کوي، خو ځیني وختونه نرم انتقادونه هم پرې کوي؛ که څه هم دا ورځپاڼه د فلسطیني مظلوم ولس د بشپړ ملاتړ ژبه نه کاروي، خو د انساني ناورین، ملکي تلفاتو او جګړو

پر مهال نسبي توازن رامنځته کولو هڅه کوي؛ نو دا تبصره باید یو نرم اعتراض تعبیر کړو؛ نه د فاجعې د ټولو ابعادو بشپړ انعکاس.

په دغه فهرست کې د هغو ماشومانو دردناکې کیسې هم بیان شوې چې د خپل زیږون د لومړي کال جشن ته نه دي رسېدلي؛ لکه «سند ابوالشاعر» چې یوازې ۷۰ ورځنی وو او ووژل شو او د هغه ۵ کلن «طارق» د وژل کېدو قصه هم چې د ډاکټر کېدو هیله ئې لرله.

د راپور له مخې؛ تر ۹۰۰ زیات داسې ماشومان وژل شوي چې عمر ئې تر یوه کال کم وو. په نوملړ کې د «هند رجب» په نامه د یوې ۵ کلنې نجلۍ او د هغې د ۱۵ کلنې ترور زۍ «لیان حماده» نومونه هم راغلي چې د دوی د وژنې تفصیلي او دردناکې کیسې په کې بیان شوې دي.

واشنګټن پوسټ لیکلي: دا نومونه چې تر دې ځایه ثبت شوي؛ د هغو ټولو ماشومانو تر یوې سلنې کمه برخه ده چې د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر له اومې تر اوسه وژل شوي.

د اسرائیلي اشغالګرو له خوا د غزې پر تراږه د ترسره شوو بریدونو له امله د شهیدانو شمېر ۶۰ زره او ۲۳۹ تنو ته او د ټپیانو شمېر ۱۴۶۸۹۴ ته رسېدلی دئ. د غزې د روغتیا وزارت په یوه اعلامیه کې ویلي: یوازې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې ۶۲۵ تنه ټپیان او د ۱۰۱ نورو شهیدانو جسدونه روغتونونو ته انتقال شوي دي.

د ناصر روغتون مشر، عاطف الحوت، د روغتیا وزارت له خوا په خپره شوې ویډیو کې ویلي: هره ورځ لږ تر لږه ۱۰۰ ملکي کسان چې د بشري مرستو د ترلاسه کولو پر مهال د اسرائیلي فوځ له خوا په نښه کېږي، روغتون ته انتقالېږي.

له دې اټکل کولی شئ چې په غزه کې څومره ستره او دردناکه فاجعه روانه ده؛ دا هر څه د امریکا په مالي او نظامي مرسته او مستقیم حضور ترسره کېږي او دا په داسې حال کې چې امریکا؛ بشري حقوقو ته د

درناوي شعارونه ورکوي، انساني برابري او عدالت ته د ژمنتیا ادعاء کوي، په سیکولرزم (غیر مذهبي حکومت) تأکید کوي؛ خو په عمل کې د داسې صهیونستانو نژادپال، د مظلومو فلسطینیانو په نسل وژنې مصروف، د کرکجنو قومي او مذهبي تعصباتو پر بنسټ ولاړ رژیم؛ سیاسي، مالي او نظامي مرسته کوي؛ په دې دوه مخې سیاست او د جنایتکارانو حمایت کې نه یوازې د امریکا او ټولې نړۍ هیڅ شریف انسان د سپینې ماڼۍ د سیاستونو مرسته نه کوي بلکې په کلکه ئې غندې؛ په واشنګټن کې د سپینې ماڼۍ مخې ته او د امریکا ډېرو نورو ښارونو او ایالتونو او د نړۍ په لویو ښارونو کې سترو سترو مظاهرو او په ترخ کې ئې د امریکا د جمهور رئیس د عکسونو سوزولو وښوده چې د امریکا صهیونست پاله تګلاره د نړۍ د ټولو عدالت غوښتونکو له لوري محکومه او مردوده ده.

## امریکا ولې صهیونست پاله تګلاره غوره کړې؟

یهودان په امریکا کې شتمن شوي، ځواکمني رسنۍ ئې په خدمت کې دي، قوي او فعاله لابي ئې تر شا ده، د هغو ډلو او څېرو انتخاباتي کمپاینونه تمویلوي چې د بریا په صورت کې په حکومت او کانګریس کې د دوی مرسته او حمایت کوي. د قومي مذهبي جوړښت له کبله د دوی ټولنه د متحده ایالاتو تر بلې هرې ټولنې زیاته متحده ده، په امریکا کې فکري، قومي او مذهبي جوړښتونه نه شته، په مسیحیت کې دا ظرفیت نه دئ پاته چې پر مذهبي او فکري بنسټ متحده او اغېزمنه ډله رامنځته کړي؛ مسیحیت او کلیسا نه د خلکو په فردي او اجتماعي ژوند کې حضور او اغېز لري؛ نه د حلال او حرام، جائز او ناجائز، ښه او بد تر منځ د کرښو ترسیم کې څه ونډه لري؛ نه دا وړتیا چې د حکومت داخلي او بهرني سیاستونه توجیه کړي او تر خپل اغېز لاندې ئې تنظیم او مدیریت کړي؛ که په کوم ایالت کې څو مشهوري کلیساوې؛ د یکشنبې په ورځ؛ څو عمر خوړلي؛ د څو دقیقو لپاره یوې تکراري ډله ایزې دعاء ته راغونډ کړی شي؛ دا به هم نادر او فوق العاده کار وي؛ د نویو

کليساوو جوړېدو لړۍ کلونه وړاندي بنده شوې او زړې يا تشي پاته دي او يا ځيني په جوماتونو بدلېږي او ځيني د نورو اغراضو لپاره کارول کېږي؛ همدا سبب دئ چي د يهودانو ٦ ميليوني ټولني د امريکا ٣٣٣ ميليوني ټولني مهار داسي په لاس کې نيولی چي سپيني ماڼۍ ته به هغه نوماند دروميي چي يهودان او د دوی رسنۍ او لابي ئې حمايت کړي؛ جمهور رئيس او کانگريس؛ د تل ابيب له سفاك، جاني صهيونستي رژيم سره هر کال په ملياردونو ډالر مرسته کوي؛ د غزې مظلوم ولس په خلاف د دې رژيم له ټولو وحشيانه او غير انساني جناياتو ملاتړ کوي، په داسي حال کې چي د اسرائيل دولت، نظام او ملت پر قومي او مذهبي تعصب او نژاد پالني ولاړ دئ؛ صهيونستي نژاد پال خوځښت پر همدې بنسټ جوړ شوی چي د يهودانو لوی دولت به له فرات تر نيل پوري جوړوي؛ دا مفکوره د صهيونيزم په ايديولوژيکي متونو، مذهبي آثارو او حتي د اسرائيل په پخوانيو رسمي شعارونو کي څرگنده شوې. دا د صهيونستانو شعار دئ (هغه خاوره چي الله بني‌اسرائيلو ته ورکړې؛ (په عراق کي) د فرات له سيند د (مصر تر) نيل سيند پوري خوره ده)؛ بايبل تر دې عنوان لاندي (له ابرام (ابراهيم) سره د خدای ژمنه) په پنځمي فقرې کې ليکي: خدای په شپه کې ابرام له خپله کوره بهر راوغوښت او هغه ته ئې وويل: د آسمان ستورو ته نظر وکړه آيا کولی شې وئې شمېرې؟ ستا نسل به هم دې ته ورته بې شمېره وي!! دلته نو ابرام پر خدای اعتماد وکړ او د همدې لپاره خدای ترې راضي شو او دی ئې قبول کړ، خدای ابرام ته وويل: زه همغه خدای يم چي ته مي له اورکلدانيان د دې لپاره راوايستې چي دغه سيمه تا ته درکړم، ... او بيا دا سيمه ورته ښيي چي له فرات تر نيل پوري خوره ده.

بايبل دلته او په گڼ شمېر نورو ځايونو کې د دې هڅه کوي چي ثابته کړي د بني اسرائيلو خدای د مصر له نيل د فرات تر سيند پوري دا ټوله سيمه دوی ته ورکړې، دلته وايي چي له ابراهيم عليه السلام سره خدای ژمنه وکړه چي د ده نسل به د ستورو تر شمېر هم زيات کړي او دا

سیمه به د ده اولاد ته وسپاري!! دا د آسمان تر ستورو او د ځمکې تر شګو د بني اسرائیلو د نسل د زیاتېدو مبالغه د بایبل په ځو ځایونو کې مخې ته راځي، د بایبل لیکوال په دې نه پوهېدو چې د بني اسرائیلو ټول شمېر (د یعقوب علیه السلام له پیدایښته تر قیامته پورې) به دومره هم نه شي لکه د آسمان د یوې وړې برخې د ستورو شمېر، که تاسو د بایبل دا خبره هغه چا ته وکړئ چې د ستورو په اړه معلومات لري او تحقیق کوي او په دې پوهېږي چې په آسمان کې څومره ستور لیکې او په هر ستور لیکې کې څومره ستوري دي، هغه به درته ووایي چې د انسان له پیدایښته تر نن پورې د ټولو انسانانو شمېر د یوه ستور لیکې د ټولو ستورو د یوې وړې برخې په اندازه هم نه دئ او په آسمان کې نژدې دوه ټریلیون (۲۰۰۰ ملیارده) ستور لیکې دي!! او په هر ستور لیکې کې تر سل ملیارد زیات ستوري؛ آیا ممکنه ده علیم خدای داسې له مبالغې ډکې او د حقیقت خلاف خبره وکړي او ووایي چې د ابراهیم علیه السلام د اولاد شمېر به د آسمان تر ستورو او د ځمکې تر شګو هم زیات شي، داسې خبره خو یوازې یو بې باك شاعر کولی شي نه یو عالِم او محقق انسان!!

د قرآن په هیڅ ځای کې به د بایبل دغې غلطې وینا ته ورته کوم مطلب ونه ګورئ، په ټول قرآن کې به نه هیڅ داسې څه ومومئ چې د علم، عقل او عدالت خلاف وي؛ او نه داسې څه چې صراحتاً یا اشارتاً د قومي تبعیض او نژادي توپیر د دفاع او تأیید شائبه ترې معلومه شي؛ نه به دا ومومئ چې الله تعالی فرمایلي: له عربانو او یا د عربو له کومې خاصې قبیلې سره ژمنه کوم چې فلانۍ سیمه به دوی ته سپارم، دا به د دوی په نسل پورې تړلې وي، نور قومونه به په کې د ژوند کولو او مېشت کېدو حق نه لري، قرآن د بایبل دا وینا له بنسټه ردوي او فرمایي: د ټولو انسانانو نژاد یو دئ، له یوه مور پلار پیدا شوي، په رګونو کې ئې ورته وینه ده، هیڅ قوم پر بل هیڅ قومي او نژادي فضیلت نه لري؛ ځمکه ټوله د خدای ده، د خپلو ټولو بندګانو لپاره ئې پیدا کړې او هغه چا ته

به ئې په میراث ورکوي چې صالح وي، د ده ټول صالح بندګان؛ که د هر قوم او قبیلې وي؛ د زمکې اصلي وارثان دي. لکه چې فرمايي:

وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي ٱلزَّبُورِ مِنۢ بَعْدِ ٱلذِّكْرِ أَنَّ ٱلْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ ٱلصَّٰلِحُونَ ﴿١٠٥﴾ الانبياء

او یقیناً چې له تورات وروسته مو په زبور کې هم ولیکل چې زمکه به زما صالح بندګان په میراث وړي.

همدا راز فرمايي:

قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ ٱسْتَعِينُواْ بِٱللَّهِ وَٱصْبِرُوٓاْۖ إِنَّ ٱلْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦۖ وَٱلْعَٰقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴿١٢٨﴾ الاعراف

موسی خپل قوم ته وویل: له الله مرسته وغواړئ او صبر وکړئ، زمکه خو له شکه پرته د الله ده، له خپلو بندګانو ئې چې چا ته غوښتي وي په میراث ئې ورکوي او نېکه پایله د پرهېزګارانو ده.

ګورئ چې الله تعالی له کوم خاص قوم او قبیلې سره نه بلکې د نړۍ له ټولو صالحو بندګانو سره وعده کړې چې زمکه به دوی ته په میراث ورکوي، د بایبل او د قرآن د وینا ترمنځ هومره ژور توپیر شته لکه د زمکې او آسمان ترمنځ، لکه د الله تعالی د کلام او د یوه متعصب انسان د کلام تر منځ!! یو وايي چې زمکه د ټولو صالحانو ګډ کور دئ او بل وايي چې خدای له فلان کس سره ژمنه کړې چې د زمکې دا پراخه برخه ستا نسل ته سپارم!! او د دې زمکې قباله په خوب کې ورکړی شوې، لیکلی سند هم نه لري!! نن اسرائیلیان په همدې خوب استناد کوي او نور قومونه له هغې سیمې شړي، کورونه ئې ورورانوي او بېرته ستنېدو ته ئې نه پرېږدي!!

قرآن د بایبل دا وینا رد کړې؛

وَإِذِ ٱبْتَلَىٰٓ إِبْرَٰهِـۧمَ رَبُّهُۥ بِكَلِمَٰتٍ فَأَتَمَّهُنَّۖ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًاۖ

قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِي ۖ قَالَ لَا يَنَالُ عَهْدِي ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٢٤﴾ البقرة

او کله چې خپل رب ئې ابراهیم په څو خبرو وآزمویلو، چې ده ترسره کړې، وئې فرمایل: زه خو دې د خلکو لپاره د یوه امام او پیشوا جوړونکی یم، وئې ویل: او زما له اولاد هم، وئې فرمایل: زما ژمنه ظالمانو ته نه رسېږي.

ابراهیم علیه السلام له ګڼ شمېر الهي آزموینو سره مخامخ شو، د پلار او قوم مخالفت، زندان ته تګ، په اور کې لوېدل، هجرت او وطن پرېښودل، د مکې په وېروونکې وچې بیدیا کې هاجر او اسمعیل یوازې پرېښودل، د اسمعیل په ذبح کولو ئې ګمارل، ... هغه په ټولو دغو الهي آزموینو کې بریالی شو، د دې بریا بدله او جزاء دا وه چې د خلکو د امامت او مشرۍ مقام ئې په برخه شي، الله تعالی ورته وفرمایل چې اوس نو ته د خلکو د امامت وړ یې، دا مقام تا ته سپارم. تمنی ئې وکړه چې کاش د خلکو د لارښوونې دا مقام د ده د اولاد هم په برخه شي! الله تعالی وفرمایل: زما په دې فرمان کې ظالمان نه دي شامل، ظالمان که څه هم ستا زامن وي د دې جلیل مقام وړ نه دي.

بني اسرائیل په دې غره وو چې د ابراهیم علیه السلام اولاد دي، ګڼ شمېر پیغمبران په دوی کې مبعوث شوي، دوی د دغو پیغمبرانو ورثه دي، د خلکو امامت او زعامت د دوی حق دئ، دوی د جنت لپاره او جنت د دوی لپاره پیدا شوی،... دلته د دوی د دې غلطو او بې بنسټه تصوراتو د نفي لپاره ویل شوي چې له ابراهیم علیه السلام سره د الله تعالی په هغې وعدې کې چې د خلکو امامت به د ده اولاد ته سپاري، ظالمان نه دي شامل، تاسو د ابراهیم علیه السلام له طریقې عدول کړی، ستاسو ظلم او شرك تاسو د هغه له وراثت او امت ایستلي یاست، د الله په وړاندې د خپلوۍ اړیکې، قومي او نسلي تعلقات هیڅ ارزښت نه لري، په دې اساس د خلکو په اړه فیصله نه کوي، ټول ئې له یوې مادې او له یوې جوړې پیدا کړي، له بندګانو سره د الله معامله د دوی د ایمان او

عمل له مخي وي؛ نه د جاه او نسب له مخي.

قرآن مسلمانان داسي وروزل چي د حق د غلبې او د مظلومانو د ژغورلو لپاره ملا وتړي، د هغو بې وزلو او تر ظلم لاندي انسانانو استغاثې ته ځواب ووايي چي د یوه ژغورونکي راتلو ته سترګي په لار ول، د الله تعالی په وړاندي ئې د دعاء لاسونه اوچت کړي ول او ویل ئې: اې زموږ ربه! ته مو له ظالمانو وژغورې، له دې هېواده چي واکمنان ئې ظالمان دي کومي بلي سیمي ته د وتلو لار راته پرانیزې، داسي څوك راپیدا کړه چي موږ ته د دوستۍ او مرستي لاس رااوږد کړي!!

وَمَا لَكُمْ لَا تُقَـٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ ٱلرِّجَالِ وَٱلنِّسَآءِ وَٱلْوِلْدَٰنِ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا مِنْ هَـٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ ٱلظَّالِمِ أَهْلُهَا وَٱجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَٱجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا﴿٧٥﴾ النساء

او پر تاسو څه شوي چي د الله په لار کي او د هغو بې وزلو سړیو، ښځو او ماشومانو د ژغورني لپاره نه جنګېږئ چي وایي: اې زموږ ربه! له دې کلي چي اهل ئې ظالمان دي موږ وباسه او له خپلي خوا راته کوم پالونکی وټاکه او له خپل لوري راته کوم ملاتړ وټاکه؟!

دا مبارك آیت په ډېرو قاطع او واضح الفاظو وایي چي د الله په لار کي وسله وال جهاد او د مظلومانو د ژغورني لپاره له ظالمانو سره جنګېدل یوه داسي الهي فریضه ده چي پرېښودل ئې په هیڅ دلیل او هیڅ بهانه نه شي توجیه کېدی، کله چي مسلمانان داسي یوې مرحلې ته ورسېږي چي وسلې ته لاس کول او د دښمن په خلاف جنګېدل ضروري وګڼل شي، نو دا کار پرې فرض دئ او پرېښودل ئې د یوې الهي فریضې پرېښودل دي او الله تعالی د داسي جهاد له تارکینو هیڅ دلیل او بهانه نه مني.

الله تعالی مسلمانانو ته دا شرف ورپه برخه کړ چي د مظلومانو ملګرتیا وکړي، تر هند او چین پوري، تر هسپانیا او مراکش پوري پلي او

په اوښانو سواره ولاړل، د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ئې د ظالمانو واکمني پای ته ورسوله او مظلومان ئې آزاد کړل، خو هلته ئې اقتدار صالح انسانانو ته وسپارو، د دوی فتوحات د یوه قوم او قبیلې فتوحات نه ول، یو توکم ئې پر بل توکم نه دئ مسلط کړی، دا ځکه چې قرآن ورته ویلي وو: دا زمکه د ټولو صالح بندګانو ګډ کور دئ!!

ګورئ چې د بایبل لیکونکی؛ اسرائیلیان د نورو قومونو په ضد څه څه کولو ته هڅوي، ورته وایي: دوی ووژنئ، له خپل ملك ئې وشړئ، هیڅوك ئې مه پرېږدئ چې ستاسو په منځ کې ژوند وکړي، خدای د فرات تر سیند پورې دا ټوله پراخه زمکه تاسو ته غوره کړې، قباله ئې د خدای له لوري تاسو ته درکړی شوې، له دې سیمې د نورو اوسېدونکو په ایستلو کې خدای ستاسو مرسته کوي!!

په کار دا ده چې بایبل او د یهودانو ټول مذهبي کتابونه په ژوره توګه تنقیح شي او د عدل، عقل او علم خلاف ټول مطالب ترې حذف شي، په هر هېواد کې د یهودانو او هرې بلې قومي- مذهبي ډلې؛ شتون په دې پورې مشروط شي چې خپل غلط او نژادپال باورونه تصحیح کړي او له خپلو مذهبي کتابونو هغه مطالب حذف کړي چې د انسانانو تر منځ نژادي تعصبات پاروي، نژادي تصفیو ته بلنه ورکوي او د نژاد پر بنسټ هېواد جوړولو تأکید کوي. که غواړو نړۍ له خونړیو قومي- مذهبي جګړو وژغورل شي نو باید صهیونستان او د دوی په څېر متعصبي قومي- مذهبي ډلې غیر مجاز وګنل شي.

## امریکا ولې په خپلو مستعمراتو کې مېشت یهود مهاجرین ونه شړل؟

امریکا داسې پړاو ته رسېدلې وه چې د لویې بریتانیا ځای ناستې شي؛ اروپایي استعماري ځواکونه د شړېدو او مضمحل کېدو په درشل کې ول، امریکا ته په یوه نوي لوی استعماري ځواك د بدلېدو مجال په لاس ورغلی وو؛ له مهاجرینو ئې دې هدف ته په رسېدو کې په زړه پورې ګټه

اخیستی شوی؛ معمولاً یو هېواد یوازي هغه مهال د خپل ګاونډي یا بل هېواد مهاجرین قبلوي چي له واکمن نظام سره ئې سرحدي، سیاسي، فکري او اقتصادي اختلاف ولري؛ او ګمان کوي چي کولی شي د بل هېواد له مهاجرینو په استفادې سره خپل شرائط پر رقیب هېواد ومني یا یوه مهمه برخه ئې ترلاسه کړي؛ لږ داسي لیدل شوي چي مهاجرینو ته د انساني، عاطفي یا دیني وجوهاتو له امله پناه ورکړی شوې وي. همداسي چي د شوروي خلاف د افغانانو جهاد؛ پاکستان، ایران، عربي او غربي هېوادونو ته ارزښت درلود؛ که په افغانستان کي د شوروي ځواکونو مخه نه وی نیول شوې نو له شك پرته به شوروي سرتېرو د خپلو بوټونو بندونه د کراچۍ په ساحل کي پرانیستي وو؛ ایران او عربي هېوادونه به هم یو په بل پسي د شوروي په مستعمراتو او اقمارو بدلېدل؛ عراق، سوریه، مصر، یمن او سودان لا دمخه په مسکو پوري تړل شوي وو، په ایران کي روس پلوه (حزب توده) په ځواکمن او فعال ګوند بدل شوی وو؛ په پاکستان کي نشنلیانو تیار سرې خولۍ پر سر ایښې؛ سره بیرغونه ئې رپول او د شوروي ځواکونو ورتلو ته نځېدل. همدا وجه وه چي پاکستان، ایران، غربي او عربي هېوادونو د افغان مجاهدینو ملاتړ کولو او میلیونونو مهاجرینو ته ئې پنا ورکوله. خو نن چي هغه د شوروي خطر منتفي شوی؛ ټول ئې په بې انتهاء بې رحمۍ او په داسي جبري او ډله ایزه توګه باسي چي ایران تر یوه کال لږ موده کي (۱۸۰۰۰۰۰) او پاکستان په همدغې مودې کي (۳۰۰۰۰۰) مهاجرین وایستل.

په امریکا کي د دومره لوی شمېر یهودي مهاجرینو منل همداسي سیاسي وجوهات درلودل او تر شا ئې استعماري اغراض مضمر وو؛ بریتانیا د دې لپاره یهودان په فلسطین کي مستقر کړل او ورو ورو ئې د فلسطین پر پراخې او لویې برخې مسلط کړل چي د سیمې ژاندارم ترې جوړ کړي، د سیمې ټول هېوادونه پرې وګواښي او د لندن په وړاندي سر ټیټولو او انقیاد ته ئې اړ کړي؛ اوس چي بریتانیا له خپل زور او بدمستي لوېدلې او خپل ځای ئې امریکا ته پرېښی؛ امریکا له یهودانو

او صهیونستي حکومت همغه استفاده کوي چې بریتانیا ترې کوله.

## د اسرائیل اوسنی دولت کله او د چا له لوري جوړ شو؟ او یهودان کله او له کومو هېوادو ورانتقال شول؟

د اسرائیل اوسنی دولت په رسمي ډول د ۱۹۴۸م کال د مې پر ۱۴مه؛ اعلان شو؛ په داسې حال کې چې فلسطین عملاً د بریتانیا تر بشپړ اشغال لاندې وو؛ اعلان ئې د بریتانیا په امر او د یهودي صهیونیست مشر ډیوېډ بن ګوریون (David Ben-Gurion) په خوله وشو. یعني هغه د اسرائیلي دولت بل ببرك کارمل وو؛ سیمي ته د نړۍ له ګوټ ګوټ د یهودانو له انتقال وروسته؛ د فلسطینیانو په خاوره کې دا لاس پوڅی حکومت اعلان شو، وروسته د بریتانیا، امریکا، ملګرو ملتونو د یو پرېکړه‌لیک (د ۱۹۴۷م کال د تقسیم پلان) له مخې فلسطین په دوو برخو ووېشل شو: یو یهودي دولت، بل عرب فلسطیني دولت؛ خو فلسطینیانو او ټولو عربو ولسونو او حکومتونو دا پرېکړه ونه‌منله، ځکه دا تقسیم له تاریخي، سیاسي، او بشري اړخه ظالمانه او د اشغال زېږنده وو.

## د اسرائیلي دولت د جوړېدو شالید:

۱. د (صهیونیزم (Zionism) په نامه یو خوځښت رامنځته شو؛ دا یو نژادپال سیاسي خوځښت وو چې د اتلسمي پېړۍ په وروستیو کې د اروپا یهودي مشرانو پیل کړ؛ غوښتل ئې یهودان خپلواک ملي دولت ولري، فلسطین ئې د دې لپاره غوره کړی وو؛ دا ئې خپل تاریخي وطن ګڼلو سره له دې چې دوی سلګونه کاله وړاندې دا سیمه پرېښې وه. دا اصلاً د بریتانیا منصوبه وه؛ فلسطین او شاوخوا سیمه او هېوادونه په بشپړه توګه د بریتانیا تر اشغال او واك لاندې وو؛ هیڅا او په ځانګړي ډول یهودانو نه د دې تصور کولی شو او نه جرأت چې په فلسطین کې د لندن له موافقې او اجازې پرته مستقر شي.

۲. د انگلیستان ملاتړ:

انگلیستان د ۱۹۱۷م کال د "بالفور اعلامیې" له لارې یهودانو ته د فلسطین په خاوره کې د یوه "هېواد" جوړېدو ملاتړ اعلان کړ. دا هغه وخت وو چې فلسطین او د سیمې نور هېوادونه د عثماني خلافت له زوال وروسته د انگرېزانو تر ولکې لاندې راغلي وو. بریتانیا دا اندېښنه درلوده چې کېدی شي مسلمانان بیا پاڅي، یو بل ته لاس ورکړي، اروپايي اشغالگر ځواکونه له خپلو هېوادونو وباسي؛ یا د نورو عواملو له کبله دوی او نور غربي ملگري ئې د سیمې پرېښودو ته اړ شي؛ د دې احتمالي خطر په وړاندې ښه او اغېزمن تدبیر دا دئ چې په فلسطین کې څو میلیونه هغه یهودان مستقر کړي چې له مسلمانانو سره زړه دښمني لري، له مذهبي پلوه دا سیمه د ځان گڼي، د بریتانیا لپاره به داوطلب او بې تنخا جنگیالي شي، یوازې په تجهیز سره کولی شي له دوی داسې لوی جنگي قوت جوړ کړي چې د بریتانیا تر قوماندې لاندې به جنگېږي؛ خو جنگي مصارف به ئې هم پر خپله غاړه وي او د نظامي تجهیزاتو او مهماتو بیه به هم بریتانیا ته سپاري او سره له دې به د لندن د احساناتو مرهون او منندوی هم وي!! کله چې د بریتانیا ملا په لوېدو شو، مخکینی زور او ځواك ئې ویلي شو؛ او مجبور شو په سیمې کې خپلې اډې امریکا ته پرېږدي؛ نو د اسرائیل کفالت او پالنه ئې هم امریکا ته وسپارله؛ نن امریکا له اسرائیل همغه کار اخلي چې بریتانیا غوښتل ترې وائي خلي.

۳. د نازي آلمان ظلمونه (Holocaust):

ځیني داسې انگېري یا ښیي چې د نازي آلمان له لوري پر یهودانو ظلم او د (Holocaust) پېښې له یهودانو سره نړۍ‌واله خوا خوږي رامنځته کړه او همدې د اسرائیلي هېواد جوړېدو ته لار هواره کړه؛ په داسې حال کې چې دا یوه مغالطه او د خلکو د غولولو یوه ناولې هڅه ده؛ حقیقت کاملاً د دې خلاف دئ؛ د اسرائیلي دولت رسمي اعلان او په فلسطین کې د یهودانو استقرار؛ دوه بېلې پېښې دي چې تر منځ ئې تر

نیمي پېړۍ زیاته موده تېره شوې؛ په فلسطین کې د یهودانو د استقرار لړۍ نژدې ۶۰ کاله وړاندې پیل شوې وه، او د اسرائیلي دولت اعلان هسې د بشپړ شوي کار رسمي اعلان وو؛ هغه څه چې تر ۱۹۴۸م کال وروسته پېښ شول، یوازې د یوه اوږده او استعماري پلان "نتیجه" وه؛ نه پیل. هولې کاست فقط دومره کړي چې په فلسطین کې د مېشت یهودانو شمېر زیات کړي؛ نه بل څه؛ د اسرائیلي دولت جوړولو مهندسي او مدیریت په بشپړه توګه د بریتانیا په واك کې وو؛ دا د انګرېزانو توطئه وه؛ د رسمیت پېژندو نېټه ئې هم دوی ټاکلې وه؛ نړۍوالې خوا خوږې په دې کې هیڅ ونډه او اغېز نه درلود.

## یهودان کله او له کومو هېوادو فلسطین ته راوستل شول؟

د صهیونستي دولت تر اعلان وړاندې او وروسته؛ یهودان د نړۍ له ګڼ شمېر هېوادونو؛ په ځانګړي ډول له اروپا او امریکا؛ فلسطین ته راوستل شول. دې بهیر درې مهم پړاوونه درلودل:

۱. لومړی پړاو ئې له ۱۸۸۲ تر ۱۹۰۳ پورې وو چې له روسیې، رومانیا او ختیځې اروپا راوستل شول؛ د انتقال پرېکړه او منصوبه د بریتانیا له لورې وه خو په ظاهر کې ئې د چارو سمبالول د صهیونیست خوځښت غړو ته سپارل شوی او همدې خوځښت ته ژمن یهودان فلسطین ته انتقال شوي او د کر زمکو پېرل ئې پیل کړي.

۲. دویم پړاو له ۱۹۰۴ تر ۱۹۳۹ پورې وو؛ چې له آلمان، پولنډ، او نورو اروپایي هېوادونو؛ هغه یهودان د صهیونیستي خوځښت تر چتر لاندې فلسطین ته راوستل شول چې په دغو هېوادونو کې له نژادي تعصب سره مخ شوي ول.

۳. درېیم پړاو له دویم نړۍوال جنګ وروسته له ۱۹۴۵ تر ۱۹۵۰پورې وو چې له نازي آلمان ځغورل شوي یهودان؛ د اروپا له بېلابېلو کمپونو او هېوادونو؛ فلسطین ته انتقال شول.

ډېری د انګرېزانو په خوښه او د هغوی له منصوبې سره سم فلسطین

ته انتقال شوي خو په دوی کې داسې هم وو چې په پټه او د دوی د منصوبې خلاف راوستل شوي.

د اسرائیل له اعلان وروسته؛ له امریکا، روسیې، عربو هېوادونو (لکه عراق، یمن، مصر)، ایران او ترکیې هم یهودان فلسطین ته انتقال شوي.

حقیقت دا دئ چې صهیونستي دولت د انګرېزانو د شیطاني منصوبې مطابق؛ د عربي هېوادونو په زړه کې او په اشغال شوي فلسطین کې جوړ شوی؛ قربانیان ئې د توطئې ښکار شوي مظلوم فلسطینیان ول چې له شړلو، وژنو، مهاجرت، د خپلو زمکو او باغونو غصب سره مخامخ شوي او لړی ئې د دې تقلبي، جعلي او تحمیلي دولت له جوړېدو تر ننه ادامه لري. دا زمکه د فلسطینیانو پلرنی وطن دئ؛ انګرېزانو نیولې او یهودان ئې د فوځي ځواك په زور په کې مستقر کړي. هغه مهال چې انګرېزان له خپلو مستعمراتو وتل؛ داسي د صهیونستي دولت په څېر ساعتي بمونه (time bomb) ئې په ټولو سیمو کې وکرل؛ د لوی هند مسلمانان ئې په دریو برخو ووېشل؛ او دا ځکه چې پوهېدل که مسلمانان ونه وېشل شي نو د انګرېزانو له وتلو وروسته به د هند اقتدار بېرته د مسلمانانو لاس ته ورځي؛ هغوی ۷-۸ پېړۍ پر هند حکومت کړی وو؛ انګرېزانو هند له دوی نیولی او د نیولو جنګ ئې له دوی سره وو، کشمیر ئې په دوو برخو، پښتانه او بلوڅان ئې په دریو برخو، کردان ئې په څلورو برخو، عرب ئې نژدې لسو برخو ووېشل... دا دئ ګورئ چې دا ساعتي بمونه وخت نا وخت چوي او له استعمار ځپلو مسلمانانو پر له پسې قرباني اخلي. د انګرېزانو په لاس او د هغوی د شیطاني منصوبې مطابق؛ دا د تفرقې او وېش ترسیم شوې سرې او خونړۍ کرښې؛ نن د جاهلانو له لوري داسي سپېڅلي کرښي ګڼل کېږي چې څوك ئې د رنګولو خبره هم په جرأت سره نه شي کولی!!

## د فلسطینیانو د هجرتونو دردناك تاریخ

د فلسطینیانو لومړی ډله‌ییز هجرت د صهیونستي دولت له تأسیس

وروسته، په ۱۹۴۸ میلادي کال کې پیل شو. دا تاریخي پېښه په عربي نړۍ کې د النکبة (النازله الکبری) یعنې "لویه فاجعه" یا "ستر مصیبت" په نامه یادېږي؛ په ۱۹۴۸ د مې په ۱٤مه د اسرائیل صهیونستي دولت اعلان شو، ورسره سم؛ د عربو او اسرائیلو تر منځ جګړه پیل شوه، صهیونست وسله‌والو ملیشو؛ د فلسطینیانو پر کلیو او ښارونو بریدونه پیل کړل، شاوخوا ۷۵۰،۰۰۰ فلسطینیان له خپلو کورونو بې‌ځایه او مهاجر شول، تر ۵۰۰ زیات کلي او ښارګوټي وران شول، وسوزېدل یا د یهودي استوګنو په سیمو بدل شول، په همدې سره د فلسطینیانو د هجرتونو اوږده تراژیدي پیل شوه چې تر نن دوام لري. لومړنی هجرت تصادفي پېښه نه وه؛ د صهیوني سیاست یوه منظمه برخه وه.

فلسطینیان تر نن په نړۍ کې تر ټولو زیات بې‌کوره شوي خلک ګڼل کېږي، لا تر اوسه د لومړنیو مهاجرینو دویم او درېیم نسل؛ له خپل کور کلي بهر پاته شوي.

## د ۱۹٦۷ شپږ ورځنۍ جګړه او د فلسطینیانو دوهم هجرت

د فلسطینیانو دوهم ډله‌ییز هجرت په (۱۹٦۷م) کې هغه مهال پیل شو چې اسرائیل په ناڅاپي توګه پر دریو ګاونډیو؛ مصر، اردن او سوریې ستر برید وکړ؛ زیات تلفات ئې ورواړول او ډېري سیمي ئې ترې ونیولې، د اسرائیل په وړاندي د دغو هېوادونو ماته؛ یوازي د دوی لپاره یوه نظامي ماته نه وه، بلکي داسي له شرمونو ډکه ماته او سرټیټی وو چې د ټولې عربي نړۍ عزت ئې ټیټ کړ؛ له همدې امله دا ماته د النکسة (سر ټیټی) په نامه یاده شوې؛ او په مقابل کې ئې اسرائیل د داسي ځواک په توګه راڅرګند شو چې مساحت ئې تر وړاندي څلور برابره زیات شو؛ تر ۱۹٦۷ مخکې د اسرائیل رسمي مساحت شاوخوا ۲۰،۷۰۰ کیلو متر مربع وو خو په جګړي کې ئې نژدې ٦٦،۰۰۰ کیلو متر مربع نوې سیمي ونیولې او په دې توګه ئې مساحت ۸٦،۰۰۰ کیلو متر مربع ته ورسېدو، چې دا د مخکیني مساحت تقریبا ٤،۳ برابره زیاتوالی ښیي. او په نظامي لحاظ

داسي بد مست او مغرور ځواک ترې جوړ شو چي رعب ئې د سیمي پر ټولو هېوادونو پروت وو او ټول ئې له شرارت وېرېدل؛ ځینو د تل ابیب له وېرې امریکا ته په خپلو هېوادونو کي نظامي اډې او استخباراتي امکانات ورکړل؛ هغه چي شوروي ته نژدې شوي وو؛ د مسکو تر وزر لاندي ئې ځان خوندي ګڼلو؛ او حتی مغرور شوي وو؛ تل ابیب به ئې ګواښلو او په یوه ورځ کي د صهیونستي کیان له منځه وړلو شعارونه به ئې ورکول؛ جمال عبد الناصر څو ځلي ویلي وو چي که وغواړو اسرائیل په یوه ورځ کي له منځه وړو؛ ده غوښتل په داسي شعارونو سره د عربۍ نړۍ د اتلولي وړیا مډال او زعامت ترلاسه کړي، همدې حرص د اخوان المسلمین ځپلو ته وهڅولو او تر اسرائیل وړاندي ئې پر دوی برید وکړ؛ په داسي حال کي چي اخوان المسلمین د مصر پاچا ملك فاروق خلاف پاڅون کي د ده مرسته کړې وه.

## د جمال ناصر کودتا او دې ته ورته کودتاګانو لړۍ

د (آزادو افسرانو غورځنګ) تر نامه لاندي څو افسرانو په ۱۹۵۲م کال کي د مصر پاچا (ملك فاروق) خلاف کودتا وکړه؛ او له همدې لاري جمال ناصر قدرت ترلاسه کړ؛ په اسلامي او افریقایي هېوادونو کي تر ټولو لومړۍ مشهوره او اغېزناکه فوځي کودتا چي وروسته د نورو ورته کودتاګانو مخکښه او پیلامه شوه؛ همدا د مصر د ۱۹۵۲م کال کودتا وه؛ چي د جنرال محمد نجیب یوسف په مشرۍ او د هغه د تنظیم (الضباط الأحرار: آزاد افسران) له لوري ترسره شوه، جمال عبدالناصر په دې ډلي کي شامل وو.

## د مصري کودتا مشر محمد نجیب څوک وو؟

محمد نجیب د مصر په اردو کي (ستر جنرال)؛ (انګرېزي کي فیلډ مارشال – عربي کي فریق أول) وو، هغه د دفاع وزارت مرستیال پاته شوی وو، د فلسطین د ۱۹۴۸م کال جګړي یو مشهور قوماندان وو؛ په دې جګړي کي ټپي شوی وو؛ د خپلو نظامي لاسته راوړنو او افتخاراتو له

کبله د "الضباط الأحرار" افسرانو خپل مشر غوره کړ؛ خو ناصر او ملګرو ئې له ده سره خیانت وکړ.

دی د کودتا له بریا وروسته؛ لومړی د انقلابي شورې مشر او بیا د مصر لومړنی جمهور رئیس شو؛ خو د زعامت موده ئې لنډه؛ نژدې ۲ کاله او ۴ میاشتې وه. له جمال ناصر او نورو افسرانو سره ئې په ځینو اساسي مسائلو کې اختلافات درلودل؛ ده غوښتل چې اردو او افسران ئې ژر بېرته خپلو نظامي وظائفو ته ستانه شي او ولسي مدني سیاسي نظام قائم شي؛ مصر منتخبه شورې او منتخب جمهور رئیس ولري؛ ناصر او ملګرو ئې غوښتل اردو د سیاسي واک اصلي بنسټ وي او واك په بشپړ ډول د دوی په لاس کې وي؛ نجیب غوښتل له سیاسي ګوندونو او شخصیتونو سره؛ د اخوان المسلمین په شمول نرم او پر تفاهم ولاړ روابط وپالل شي؛ او د نوي نظام برخه شي؛ خو کودتاچي افسرانو د مطلقه اقتدار خوند څکلی وو؛ له دې فرصت او امتیاز تېرېدو ته چمتو نه ول؛ اختلافات هغه ځای ته ورسېدل چې دی نه یوازې په ۱۹۵٤م کې له واکه لرې کړی شو بلکې تر ۱۹۸۰م کال پورې تر نظارت لاندې پاته شو. معمولاً کودتا پر له پسې کودتاګانې زېږوي؛ او ډېر ځله د کودتا مشران په کې قرباني کېږي؛ همغسې لکه په افغانستان کې چې د جلاد داؤد په مشرۍ؛ په روسیه کې روزل شوو کمونستانو کودتا وکړه؛ او پنځه کاله وروسته؛ همدغو کمونست ملګرو ئې د ده خلاف کودتا وکړه؛ دی او د کورنۍ نژدې شل غړي ئې په ارګ کې ووژل. د افغانستان د تېرې نیمې پېړۍ خونړۍ پېښې د جلاد داؤد له کودتا وروسته پیل شوې. څه چې جمال ناصر د اخوان المسلمین خلاف وکړل؛ داؤد د جوانان مسلمان خلاف وکړل؛ د مصر په کودتا کې د نجیب محوري ونډه دومره وه لکه د کمونستانو په کودتا کې د داؤد ونډه؛ لکه څنګه چې جنرال محمد نجیب له نظامي لحاظه تر ټولو لوړ رتبه او معروف افسر وو، لوړه رتبه، ښه شهرت او ولسي محبوبیت ئې له ده د کودتا موفق محور جوړ کړی وو؛ که دی نه وی نو د افسرانو کودتا به هم په اردو کې له پراخو مخالفتونو سره مخ

شوې وه او هم په ولس کې؛ که د داؤد مشري، له شاهي کورنۍ سره د هغه تعلق، د واکمنۍ اوږده سابقه نه وی نو د افغانستان اردو څو ټیټې رتبه؛ جګړن او تر جګړن لاندې افسرانو؛ نه کودتا کولی شوه، نه د اردو افسرانو منله او نه عام ولس؛ کې جې بې هسې بې دلیله داؤد د کودتا د مشرۍ لپاره نه وو غوره کړی؛ له دې پرته ئې بل بدیل نه درلود. افغان کمونستان؛ تر خپل سلف مصري افسرانو؛ ډېر خبیث، پرېوتي او رذیل ثابت شول؛ دوی خپل ولي النعمة او په ارګ کې ستر حامي؛ داؤد د کورنۍ له ټولو غړو؛ ښځو او ماشومانو سره یو ځایي ووژل؛ خو مصري افسرانو له محمد نجیب سره فقط دومره خیانت وکړ چې خپل محسن ئې له اقتدار لرې او نژدې ۳۰ کاله ئې نظر بند وساتلو؛ له خلکو او رسنیو سره ئې له لیدو کتو محروم کړ!! له ناروا لارو، کودتاګانو، بهرنیو سازشونو او د ناولو معامله ګریو له لارې؛ قدرت ته د رسېدلو پایله او د اقتدار پر کرایي کرسیو د ناستو برخلیك تل همداسې وي؛ په افغانستان کې هم له حزب اسلامي سره همداسې کړیو ستر ستر خیانتونه وکړل؛ چا د حزب خلاف له شوروي او کمونستانو سره لاس یو کړ او چا له امریکا او سیکولرانو سره؛ په داسې حال کې چې دوی د حزب اسلامي له برکته قدرت ته رسېدلي؛ که حزب او د شوروي او امریکا خلاف جهاد ئې نه وی؛ دوی به نه زېږېدلي وو او نه به مسکو او واشنګټن دوی د اقتدار او حکومت کولو لپاره غوره کړي وو.

د مصر کودتا او د جمال ناصر واکمني؛ د امریکا او شوروي تر منځ د ساړه جنګ محصول وه؛ چې دا هېواد ئې د شوروي په اقمارو کې شامل کړ؛ او همدې کودتا ته ورته کودتاګاني په نورو عربي هېوادو؛ لکه عراق، سوریه، لیبیا، یمن او سودان کې هم ترسره شوې؛ ټولي د هغو افسرانو له لورې چې شوروي ته متمایل، یا مسکو پلو ول؛ او د ملتپالني او پان عرب شعارونه ئې ورکول؛ ملتپالنه تل د تاریخ په اوږدو کې د هغو شعار وو چې ځان ته د ولسي متکاء موندلو لپاره ئې له قومپالني پرته بل فکري او سیېڅلی محور نه درلود؛ د انساني، دیني، اخلاقي، معنوي او

اجتماعي عدالت پر بنسټ د قومونو او توکمونو له یووالي عاجز ول؛ نه ئې د داسې سپېڅلي کار وړتیا درلوده او نه پرې باورمن وو. د ۲۰مې پېړۍ په دوهمه نیمایي کې په ډېرو عربي هېوادونو کې چې دا ډول کودتاګاني وشوې؛ لاندیني ئې څو مهم مثالونه دي:

۱. د مصر ۱۹۵۲ کودتا،

۲. د عراق ۱۹۵۸ بعثي کودتا د صدام حسین په مشرۍ

۳. د سوریې ۱۹۶۳ بعثي کودتا د حافظ الاسد په مشرۍ

۴. د لیبیا ۱۹۶۹ کودتا د معمر القذافي په مشرۍ

۵. د شمالي یمن ۱۹۶۲ انقلاب

۶. د سودان ۱۹۶۹ کودتا د جعفر النمیري په مشرۍ

د شوروي نفوذ تر اغېز لاندې، د عربي هېوادونو تر څنګ؛ په ګڼو نورو افریقایي او اسلامي هېوادونو کې هم ورته بریالۍ یا ناکامي کودتاګاني شوې؛ بېلګې ئې دا دي:

۱. د الجزایر ۱۹۶۵ کودتا د هواري بومدین په مشرۍ

۲. د ګینیا ۱۹۵۸ کودتا د احمد سېکو توره په مشرۍ

۳. د ایتوپیا ۱۹۷۴ کودتا د منګستو هایله مریام په مشرۍ

۴. د موریتانیا ۱۹۷۸، ۱۹۸۴، ۲۰۰۵، او ۲۰۰۸ څو پر له پسې نظامي کودتاګاني.

۵. د زنجبار (تانزانیا) ۱۹۶۴م پاڅون؛ له مارکسیستي-سوسیالیستي ایډیولوژي سره

٦. د افغانستان ۱۳۵۲ او ۱۳۵۷ کودتاګاني؛ د داؤد او ترکي په مشرۍ هم په همدې لړ کې راځي؛ البته له ډېرو توپیرونو سره.

په سعودي عربستان کې د ۱۹۶۹ ناکامه کودتا؛ شوروي پلو افسرانو له لوري چې ناکامه شوه او ډېر افسران اعدام شول. همدا راز په بحرین، کویت، او اردن کې ناکامي نیمګړي هڅې وشوې.

په همدې بهیر کې پاکستان او اندونیزیا هم د کودتاګانو شاهد ول

خو په دومره توپیر چي دا کودتاګاني د چپي عناصرو له لوري نه وې.

په ویتنام کي د امریکا اوږده او ناکامه جګړه او بیا په (۱۹۷۵) کې شرمناکه ماته؛ پر ټولي نړۍ؛ په ځانګړي ډول؛ د افریقایي، عربي او اسلامي هېوادونو پر سیاسي تحولاتو؛ ځانګړی اغېز درلود؛ ډېری کودتاګاني په همدې موده (۱۹۵۵-۱۹۷۵) کې رامنځته شوې؛ که د مائو چین د لینن له بریالي انقلاب الهام اخیستی؛ همدا راز د ویتنامیانو له بریالي مقاومت او د امریکا له ماتي د دریمي نړۍ د سیاسي او نظامي تحولاتو او انقلابونو ځپې پارولې.

د ویتنام له ماتي وروسته؛ امریکا تر ډېرو کلونو؛ هم له شوروي او چین سره له مخامخ تصادم ډډه کوله او هم په نورو هېوادونو کې له مستقیمي نظامي مداخلې؛ او په دې سره شوروي ته دا فرصت په لاس ورغی چي د کودتاګانو او نورو پټو او مرموزو توطئو له لاري په ګڼ شمېر هېوادونو کې د خپل اغېز لمن پراخه کړي.

د شوروي اتحاد بریاوو او د امریکا ماتي، په ځانګړي ډول د ویتنام جنګ کې، نه یوازي په آسیا او افریقا کي اغېز وکړ، بلکي په لاتیني امریکا، کیوبا، چلي، نکاراګوا، السلوادور، بولیویا او نورو هیوادونو کي ئې هم ژور سیاسي، نظامي او ایدیولوژیکي اثرات لرل. دلته د دې اغېزو لنډ وضاحتونه کوو:

۱. په کیوبا کې د فیدل کاسترو په مشرۍ؛ په (۱۹۵۹م) کې؛ د شوروي په مستقیم ملاتړ انقلاب او د شوروي اتحاد تر نفوذ لاندي سوسیالیستي دولت رامنځته شو. دا د شوروي لپاره ستره ستراتیژیکه بریا او د امریکا لپاره ستر شاتګ او تر زني لاندي ئې د ستر رقیب او دښمن له لوري د یوې فکري، سیاسي او نظامې اډې جوړېدو په معنی وو. هغه مهال چي خرشوف د شوروي مشر وو او د مسکو او واشنګټن تر منځ اړیکي د ترینګلتیا اوج ته رسېدلې وې؛ د شوروي اتحاد مشر نیکیتا خرشوف (Nikita Khrushchev) د خپل واک پر مهال؛ په ځانګړي ډول په ۱۹۶۲ کال کي؛ شوروي میزایلونه په کیوبا کي د امریکا لوري ته توجیه کړل؛

دا پېښه د کیوبا د میزایلونو کړکېچ (Cuban Missile Crisis) په نوم یادېږي. دا نه یوازې یو پاروونکی اقدام وو بلکې د امریکا امنیت ته جدي ګواښ وو؛ دې میزایلونو کولی شو چې د امریکا مهم ښارونه لکه واشنګټن ډي سي او نیویارک په نښه کړي. په دې کار سره د دواړو ښکرورو اټمي ځواکونو لانجه د اټمي جګړې تر پولې ورسېده، خو عقلمنې ئې پر شیطاني احساساتو غالبه شوه او د تفاهم له لارې ئې کړکېچ حل کړ؛ داسې چې شوروي اتحاد له کیوبا د میزایلونو ایستلو ژمنه وکړه او امریکا ژمنه وکړه چې پر کیوبا به له برید ډډه کوي او خپل میزایلونه به له ترکیې باسي.

۲. په چلي (Chile) کې سالوادور الیندي (Salvador Allende) د ولسي ټاکنو له لارې واک ته ورسېد، دی یو سوسیالیست سیاستوال وو، د کیڼ اړخو ګوندونو ائتلاف مشري ئې کوله، په ۱۹۷۰م کال کې د چلي د ولسمشرۍ په ټاکنو کې ئې بریا ترلاسه کړه او لومړنی منتخب سوسیالیست ولسمشر شو؛ شوروي اتحاد د چلي اقتصادي او سیاسي ملاتړ کولو. خو د امریکا استخباراتي ادارې (CIA) په ۱۹۷۳م کې د جنرال پینوشیټ په مشرۍ د فوځي کودتا له لارې د چلي سوسیالیست حکومت ړنګ کړ.

۳. په نکاراګوا کې په (۱۹۷۹م) کال د ساندینیستا ملي آزادي غوښتونکې جبهه (Sandinista National Liberation Front)؛ په لاس؛ امریکا پلو دیکتاتور سوموزا رژیم نسکور شو؛ شوروي اتحاد او کیوبا دواړو د دې جبهې سیاسي، نظامي او اقتصادي مرسته کوله. امریکا د (کانټرا) په نامه جنګي ډلې جوړې کړې چې د ساندینیستانو پر ضد ئې نیابتي جګړه کوله.

۴. په السلوادور، بولیویا، ګواتیمالا او ځینو نورو هیوادونو کې هم چپي او سوسیالیستي خوځښتونه رامنځته شول چې شوروي او کیوبا به ئې ملاتړ کاوو. د امریکا او شوروي تر منځ دا نیابتي جګړې تر اوږدې مودې روانې وې، امریکا د خپلو پلوي رژیمونو دفاع کوله او شوروي د

انقلابي خوځښتونو ملاتړ.

دې پوښتني ته هم باید ځواب ووایو چي آیا امریکا توانېدلې د ویتنام له ماتي وروسته په کوم هېواد کي داسي بدلون راولي چي زیانمن شوی حیثیت ئې څه ناڅه جبران کړي؟ حقیقت دا دئ چي تر نن ورځي امریکا په هیڅ هېواد کي داسي بدلون نه دئ راوستی چي د ویتنام شرمونکې ماته ئې جبران کړي؛ لاندي مثالونو دا حقیقت څرګندوي:

۱. پر افغانستان د ۲۰۰۱ برید او تر ۲۰۲۱ ئې اشغال؛ د زرګونو عسکرو مرګ ژوبله او د میلیاردونو ډالرو لګښت؛ او په پای کي تش لاس او شرمناك وتل؛ پرته له دې چي د جګړي هیڅ هدف ئې ترلاسه کړی وي؛ او پخپله کابل او افغانستان داسي ډلي ته د دوحې د معاهدې له مخي سپارل چي په خپل برید سره ئې د هغې حکومت نسکور کړی وو؛ د تروریستانو د حامي او پنا ورکوونکې په نامه ئې پېژنده او معرفي کوله!! آیا تر دې د زیات سپکاوي تصور کېدی شي؟! ټرامپ د خپل انتخاباتي کمپاین له ورځو تر ننه نژدې هره اونۍ یو ځل ویلي: دا د امریکا لپاره د تاریخ تر ټولو زیاته شرمناکه معاهده او وتل وو.

۲. پر عراق د ۲۰۰۳ برید او تر ۲۰۱۱ په دې هېواد کي پاته کېدل او جنګېدل؛ په دې سره امریکا یوازي یو هدف ترلاسه کړی؛ د صدام حسین رژیم نسکورول؛ هغه هم د ایران په مرسته او تهران ته د ډېرو امتیازاتو په ورکولو سره؛ دومره چي ویلی شو امریکا افغانستان او بیا عراق د مسکو او تهران لپاره فتح کړي؛ امریکا نه په افغانستان کي وتوانېده د خپلي خوښي موفق، باثبات او غرب‌پال حکومت راولي او نه په عراق کي؛ په افغانستان کي ئې اقتدار مسکو پلو او تهران پلو ډلو ته سپارلی او په عراق کي فقط تهران پلو شیعه وو ته. که امریکا د شیعه او سني جنګ او د داعش راټوکېدا ته د لاسته راوړني په سترګه وګوري؛ نو کېدی شي فقط همدا ئې یوازینۍ بریا وګڼل شي!!

۳. امریکا په سوریه، لیبیا، یمن او نورو هېوادونو کي هم هڅي وکړې، خو پایله ئې یا ماته وه او یا د امریکا د نفوذ مخالف ځواکونو؛ لکه

داعش او د ایران او روسیې پلوي ډلو پیاوړي کېدا.

خو شوروي اتحاد خپله لومړۍ او وروستۍ ماته په افغانستان کې تجربه کړه؛ تر دې وړاندي په بل هیڅ هېواد کي له داسي نظامي، سیاسي، او اخلاقي ماتي سره نه وو مخ شوی.

د ویتنام اوږده جګړه او په پای کې شرمناکه ماته؛ د امریکا پر غرور، اعتبار او حیثیت یو درونډ ګوزار وو، او وئې ښوده چي په وسله والي مبارزې او پاڅون سره د امریکا ماتول او په امریکا پوري تړلي رژیمونه نسکورول ممکن دي. دا الهام بخښونکی پیغام نه یوازې د لاتیني امریکا چپي او امریکا ضد خوځښتونو ته جرأت ورکړ چي د امپریالیزم پر ضد د فکري او وسله وال پاڅون لار غوره کړي؛ د تعلیمي مؤسساتو مخصوصاً پوهنتون په محصلینو، د فابریکو کارګرانو، ځوان نسل او محرومو طبقو کې د سوسیالیستي افکارو (مارکسیزم، لینینیزم) لوري ته تمایل رامنځته شو؛ دا تمایل د نویو سیاسي ګوندونو او صنفي اتحادیو په تأسیس منتج شو؛ او د رژیمونو خلاف د مبارزې لار ئې پرانستله. د شوروي برياوو او د امریکا ماتو د نړۍ پر دوو مهمو براعظمونو (آسیا او افریقا) سربېره، پر لاتیني امریکا هم پراخ اغېز وکړ؛ هلته ئې هم انقلابي خوځښتونه، سوسیالیستي دولتونه او نیابتي جګړې رامنځته کړې.

## د امریکا او شوروي تر منځ سوړ جنګ کې د فتح ګوند لوری

د فلسطین فتح ګوند هم یو له هغو ګوندونو وو چي په (۱۹۶۰-۱۹۷۰) کلونو کي د شوروي اتحاد تر سیوري لاندي وو، له (مسکو) سره ئې پټې او څرګندي پراخي اړیکي درلودې؛ او تر ډېره حده مسکو پلو ګڼل کېدو؛ له همدې امله د فتح ډله چي هغه مهال ئې د فلسطین د ملي آزادۍ لپاره وسله‌وال مقاومت او سیاسي مبارزه تمثیلوله؛ د مسکو له ملاتړ برخمن وو، مالي او نظامي مرستي ئې ورسره کولې او جنګیالي ئې ورته روزل.

ما نژدې ٤٠ کاله وړاندي له محمود عباس سره په لبنان کې یوه کتنه

درلوده؛ د دوی له لوري استازی رالیږل شوی وو، بیروت ته ولاړم، د فتح دفتر او امنیتي انتظامات مي داسي وموندل چي اړوند ساحه د دوی په واك کي وه او امنیت ئې په خپلو وسله والو ساتلو؛ له محمود عباس سره مي د هغه په دفتر کي ناسته درلوده؛ هغه د (أبو ماذن) په نامه یادېدو؛ د بیروت په دفتر کي د فتح د سیاسي او مطبوعاتي څانگي مسئول وو، د فتح ډله د ۱۹٦۷ کال له ٦ ورځنۍ جگړي او دقیقاً په ۱۹۷۰-۱۹۷۱ کي د اردن او فلسطیني تنظیمونو ترمنځ د "سپین سپتمبر" په نامه جگړي په پایله کي له اردن لبنان ته انتقال شوه؛ او بیروت د فلسطیني مقاومت مرکز شو، هلته فتح، الجبهة الشعبیة، او نورو ډلو فعال حضور درلود. په ۱۹۸۲ کال کي؛ پر لبنان د اسرائیلو د یرغل له کبله فتح او نور بیروت مېشت فلسطینیان دې ته اړ شول چي له بیروت هم ووځي او د یوې موافقې له مخي تونس، یمن، او نورو عربي هېوادونو ته منتقل شي.

له محمود عباس سره په ملاقات کي د هغه اصلي غوښتنه دا وه چي بیروت ته د یو شمېر جنگیالیو په لېږلو سره د دوی مرسته وکړم؛ په مجموع کي مي د هغه خبري، حرکات او سکنات او د دفتر او د ده د همکارانو وضعیت داسي وموند چي انگېرله مي له کوم فلسطیني پرچمي سره خبري کوم؛ همدا زما لومړی لیدنه او زما هغه انگېرنه او احساس د دې باعث شو چي له دې ورځي وروسته؛ تر لسگونو کلونو او تر هغه پوري له فتح سره هیڅ اړیکي ونه لرم چي زه د مجاهدینو د یوه هیئت په مشرۍ او د خارجه وزیر په توگه؛ د اسلامي هېوادونو د همکارۍ سازمان (OIC) د غړو هېوادونو د خارجه وزیرانو په هغي مهمي ناستي کي شرکت وکړم؛ چي په ۱۹۹۲ کال کي د سعودي عربستان په پلازمېنه ریاض کي جوړه شوه، او په هغې کي د افغان مجاهدینو د موقت اسلامي حکومت په رسمیت پېژندنه تصویب شوه. او دا هغه مهال وو چي مجاهدین د وروستۍ بریا په درشل کي او د نجیب حکومت د سقوط او شړېدو په حال کي وو.

ما تر دې ناستي وړاندي ډېرو هېوادونو ته رسمي سفرونه درلودل؛

لکه سعودي، عراق، ایران، مالیزیا، اندونیزیا، بروناي، بنگله دیش، سینگاپور، چین، استرالیا، ... په دې موخه چې د مجاهدینو حکومت په رسمیت وپېژني، په دې ضمن کې مې له یاسر عرفات سره تیلفوني خبرې وشوې؛ بیا مې هغه مهال له یاسر عرفات سره لیدلي چې د مسکو او نجیب له لوري ئې ما ته له ځان سره پیغام درلود او د بې نظیرې له حکومت ئې غوښتي وو چې د ملاقات انتظام ورته وکړي، د بې نظیرې او د هغې د حکومت له مهمو اراکینو او د دې د مشاورینو او خارجه او داخله وزیرانو په شمول مې له عرفات سره ناسته درلوده؛ هغه له نجیب سره د ائتلافي حکومت جوړولو وړاندیز له ځان سره راوړی وو؛ وئې ویل: ته ځوان یې، روښانه راتلونکې لرې، ملت درسره دئ، پر خپلو دغو بچیانو رحم وکړه؛ ګډ ائتلافي حکومت جوړ کړئ؛ ما ورته وویل: دا نه عملي دئ او نه د بحران د حل لار؛ بیا ئې د ظاهر خان تر مشرۍ لاندې حکومت جوړولو سپارښتنه وکړه؛ ورته ومې ویل: هغه تر ټولو زیات متنازع فیه شخص دئ، ناکام، زوړ او بیمار؛ ملت او مجاهدینو ته د نه منلو؛ بحث طولاني وو؛ آخري رأی چې نسبي توافق پرې شوی؛ یوه موقت غیر ائتلافي حکومت ته د قدرت سوله ایز انتقال او بیا په لنډه موده کې انتخابات وو.

د ناستې په دوران کې عرفات له بې نظیر بوتو وغوښتل چې د ده او د امریکا تر منځ وساطت وکړي، ښایي داسې غوښتنې به ئې له ډېرو نورو هم کړې وې؛ دا ځکه چې شوروي نور په خپلو غمونو اخته وو او پر مسکو متکي ډلو د بل سیوري موندل یو ضرورت ګڼلو.

نو ما چې له محمود عباس سره په لومړۍ او وروستۍ ناستې کې د ده د شخصیت او د فتح ګوند د ماهیت په اړه کومه انتباه اخیستې او اوس د اکتوبر د ۷ له پېښو وروسته؛ د ده او فتح پرېوتي موقف او د حماس په اړه د ده ګنده او سپکو اظهاراتو ته نظر کوم؛ احساس مې دا دئ چې الحمد لله ما اشتباه نه وه کړې؛ دوی د فلسطین ولس او داعیې اصلي کورني دښمنان دي؛ فلسطینیان به تر هغه نه سمه ورځ او نه د

اصلي بريا مخ وګوري چې دا د لستوڼي ماران په فلسطين او پېښو کې ئې فعال حضور ولري.

## له ايراني چارواکو سره ليدنې

ايران ته د سفر په دوران کې د نورو مشرانو تر څنګ مې له داخله وزير سره هم ناسته درلوده؛ دا ځکه يادوم چې له هغه مې داسې بده او سپکه خبره اورېدلې چې هېرول ئې راته ګران دي؛ د ايران پلو شيعه ډلو لپاره ئې په حکومت کې د امتيازي سهم غوښتنه کوله؛ هغه ته مې وويل: دا افغانانو ته پرېږدئ؛ د دې پر ځای تاسو د عدالت او برابرۍ غوښتنه وکړئ او دا چې هر توکم ته عادلانه او د خپل نفوس مطابق حق ورکړی شي؛ د ده ټينګار او اصرار ته په پام سره مجبور شوم ورته ووايم: شيعه ډلو ته به دومره ورکړو چې تاسو په ايران کې سنيانو ته ورکړی!!؛ سره له دې ئې پر خپلې غوښتنې ټينګار کولو؛ د ميز جعبې ته ځير شو او وئې ويل: د رهبري مقام له لوري سپين چك زما د ميز جعبه کې دئ؛ دا خبره دومره راباندې بده ولګېده چې د څه ويلو حوصله مې سر ته ورسېده او د ناستې ختمول راته مناسب وبرېښېدو.

د OIC په غونډې کې د مجاهدينو رسمي شرکت يو مهم سياسي انکشاف او لاسته راوړنه وه چې د دې تنظيم د غړو له لوري ئې د مجاهدينو د حکومت په رسميت پېژندو ته لار هواره کړه؛ او په همدې سره د کابل کمونستي رژيم خپل ډيپلوماټيک حيثيت او مشروعيت په ټولې اسلامي نړۍ کې له لاسه ورکړ.

## جمال ناصر او د اخوان المسلمين ځپل

اخوان المسلمين د جنرال نجيب يوسف تر مشرۍ لاندې د ملك فاروق خلاف د نظامي پاڅون او بدلون ملاتړ وکړ؛ په دې هيله چې نوی نظام به تر مخکې غوره وي، استبداد به پای ته ورسېږي، اسلامي نهضت او خوځښت ته به د دعوت مناسب شرائط او امکانات په لاس ورشي؛

له کودتاچيانو ئې دا انتظار درلودو چې د مصر مسلمان ملت غوښتنو ته په پام سره د اسلام لوري ته مخه کړي او د اسلامي نظام له پلي کولو سره توافق وکړي؛ د جنرال نجيب ملګرو د جمال ناصر په شمول؛ د کودتا د بريا په لومړيو کې له اخوانيانو سره نژدې اړيکې پاللې؛ خو لانجه هغه مهال پيل شوه چې جنرال نجيب ګوښه کړی شو، اقتدار د جمال ناصر لاس ته ورغی، د اساسي قانون د جوړېدو پړاو راورسېدو، اخوان المسلمين غوښتل چې اساسي قانون د شريعت مطابق جوړ شي، اسلامي نظام اعلان شي، او د غير اسلامي قوانينو مخه ونيول شي. جمال ناصر او ملګرو ئې دا غوښتنې د خپل مطلقه نظامي اقتدار لپاره ګواښ ګڼلو؛ ناصر غوښتل د ملتپالنې تر غولوونکې پوښښ لاندې داسې سيکولر او سوسياليستي نظام رامنځته کړي چې د مصر مطلقه واک د ده او د ده د فوځې ملګرو په لاس کې وي او هيڅوک او هيڅ ډله ئې مطلقه اقتدار ونه ګواښي؛ ده اخوان المسلمين ته د يوه جدي ګواښ او يوازيني سيال او رقيب په سترګه کتل، د ځپلو لپاره ئې پلمه او بهانه لټوله؛ د ۱۹۵٤م کال په اکتوبر کې د حکومتي چينلونو له لوري ادعاء وشوه چې اخوان ته منسوب يوه کس د ناصر د وژلو هڅه کړې؛ په داسې حال کې چې ده په "المنشيه" کې د کارګرانو يوې غونډې ته وينا کوله؛ ادعاء دا وه چې د ده لوري ته د تفنګچي اته ډزې وشوې، خو ده نه خپله وينا نيمګړې پرېښووده او نه پټ شو؛ خلکو چيغې وهلې او ګڼ شمېر ئې د وېرې له امله تښتېدل؛ خو ناصر د مايکروفون مخې ته ودرېد، په لوړ غږ او په ډېرې جذباتي بڼه ئې وويل: «اې ورونړو! زه جمال عبدالناصر يم، زما وينه ستاسو وينه ده، زما ژوند ستاسو ژوند دئ؛ که جمال عبدالناصر مړ شي؛ تاسو ټول جمال عبدالناصر ياست!» دا هر څه يوې خندوونکې ډرامې ته ورته لوبه برېښي؛ د يوې تفنګچې شاجور پرې تش شوی؛ خو نه پر ده يوه مرمۍ لګېدلې او نه د ده په خوا کې پر کوم مهم کس؛ نه د هيڅ مړ او ژوبل نوم اخستل شوی؛ خلك تښتېدلي خو دی نه تښتېدلی، نه پټ شوی او نه ئې خپله وينا ځنډولې، يعني چې مطمئن وو دا مرمۍ پر ده

د لګېدو لپاره نه دي ويشتل شوې؛ هوائي ډزي دي؛ ځکه ئې خپله وينا نه وځنډوله او نه ختمه؛ بلكي په لا ډېر شور او زور سره ئې دوام وركړ؛ كه ومنو چي بريد كوونكى نه يو مأمور شوى ناصر پلوه وو او نه دوكه شوى او د يوې خبيثي توطئې قرباني شوى فرد؛ بلكي اخوان ته منسوب؛ ولي بايد د همدې مشخص مجرم د جرم له امله په سلګونو ستر ستر شخصيتونه ونيول شي او ځيني ئې اعدام كړى شي؟! ولي فوراً او په بريد پسي متصل؛ اخوان تورن شوى او د مشرانو پراخه نيونه ئې پيل شوې؛ مګر كوم الهي او انساني قانون د دې اجازه وركوي؟ د يوې افواه له خورېدو سره متصل؛ د اخوان المسلمين تر ۱۰۰۰ زياتو غړو نيونه، د ټولو مشرانو بندي كېدا، او له هغوى د ځينو اعدام؛ پخپله څرګند ثبوت نه دئ چي دا يوه دسيسه وه؛ هدف ئې د اخوان المسلمين ځپل او د ټولو سياسي او فكري فعاليتونو بندول وو؟! داسي شخصيتونه اعدام شول چي سل جمال ناصر ئې د پښو له خاوري سره برابر نه ول. پر دغو مشرانو د اعدام فيصله صادر او عملي شوه:

۱. شهيد سيد قطب د في ظلال القرآن تفسير او ګڼ شمېر نورو مهمو او معروفو علمي كتابونو ليكوال، د اسلامي نړۍ ځلانده ستورى

۲. شهيد يوسف هواش چي له سيد قطب سره يو ځاى اعدام شو.

۳. شهيد عبدالفتاح اسماعيل

٤. شهيد عبدالقادر عوده -نامتو فقيه، ليكوال او قاضي.

۵. يوسف طلعت د اخوان مشهور فعال.

٦. ابراهيم الطيب مشهور او فعال غړى.

۷. هنداوي دوير د قاهرې ښانګي مشر.

۸. محمد فرغلي مهم غړى.

په زنداني شوو كي دا مشهور شخصيتونه شامل ول:

۱- حسن الهضيبي د اخوان المسلمين مرشد عام، ۲- محمد حامد ابو النصر چي تر ده وروسته مرشد عام شو، ۳- عمر التلمساني او ٤-

مصطفی مشهور چې له زندان وروسته څو کاله ئې د اخوان مشري کړې.

شاوخوا ۷۰ نور غړي په عمري قید یا اوږده بند محکوم شول. په دې کې شهید سید قطب هم شامل وو چې وروسته بېرته محاکمه او په ۱۹۶۶ کې اعدام شو.

د جمال ناصر دور د اخوان المسلمین د غړونو، نیونو، زنداني کېدنو او شهادتونو تر ټولو سخت، ملا ماتوونکی، تور، له وحشتونو ډك او خونړی فصل وو. د سترو سترو نومیالیو شخصیتونو اعدام، د جاني، خائن او د شوروي مزدور ناصر؛ د سپېرې واکمنۍ پر تندي تور داغ دئ.

ناصر څو ستر ستر او نه بخښېدونکي جنایات کړي؛ ۱- د خپل نظامي مشر محمد نجیب خلاف کودتا او دېرش کاله ئې تر شدید نظارت لاندي ساتل، ۲- د اخوان المسلمین خلاف توطئه او ستر ستر نړۍوال شخصیتونه ئې اعدامول، ۳- د ۱۹٦۷ کال د جنګ شرمناکې ماتې مسئولیت، ٤- د فلسطین له قضیې سره د ده د ملګرو او ځای ناستو ستر خیانت او د کمپ ډیوېډ معاهده.

د مصر مخکینیو واکمنو چې له یوسف علیه السلام سره کومه جفا کړې؛ د پاك لمنۍ په جرم ئې څه کم لس کاله زندان کې تېر کړل، او له ده وروسته فرعونانو چې له موسی علیه السلام او بني اسرائیلو سره کوم ظلمونه کړي، وروستنیو فرعونانو؛ جمال ناصر او سیسي هم وکړل؛ د دوی هم مذهب سره ورته دئ او هم ئې له مؤمنانو او خداپپالو سره جنایات مشابه؛ خو له شك پرته د وروستنیو فرعونانو جنایات تر مخکینیو ډېر ستر، وحشیانه، بې رحمانه، د انسانیت او مروت خلاف وو؛ هغوی که ماشومان وژلي او مېرمني ئې ژوندۍ پرېښي، دوی پر هیچا رحم نه دئ کړی، ستر ستر نومیالي شخصیتونه ئې وژلي، هغوی په خپل امر وژلي او له خپلو درباریانو سره په مشوره ئې وژلي؛ خو دوی د پردیو په اشاره وژلي، چا د مسکو په امر او چا د واشنګټن په امر، هغوی که دیني او سیاسي مشران وژلي او زنداني کړي؛ دوی لومړی له خپل ملګري او مشر جمهور رئیس محمد نجیب سره خیانت وکړ او بیا ئې منتخب

جمهور رئیس شهید مرسي نیولی، زنداني کړی او وژلی او پر تش لاسو سوله ایزو مظاهره کوونکو ئې ډزي کړې او په یوې غونډي کي ئې تر زر زیات مصریان وژلي.

جمال ناصر تر کودتا وړاندي ډګروال وو، خو کله چي جمهور رئیس شو نو د مارشال رتبه ورته غوره شوه؛ همغسي لکه زموږ نجیب چي له طب په ډېر زحمت فارغ شوی وو؛ د ببرك په جمهوري ریاست کي د کي جي بي له لوري د خاد رئیس شو او د جنرالۍ رتبه ورکړی شوه، کمال ئې فقط جاسوسي او په انسان وژني کي تهور وو؛ کي جي بي د ده همدې خصلت ته په پام سره د خاد له ریاست؛ جمهور ریاست ته ارتقاء ورکړه؛ په داسي ډول چي روسي جنرالانو کارمل د تورو شیشو موټر کي له ارګ وایستلو، نه کابینه خبره وه او نه د ګوند مرکزي کمیټه چي کارمل له کوم برخلیك سره مخامخ شوی؛ تر هغه چي روسي جنرال د مرکزي کمیټې غړو ته وویل: له نن وروسته جنرال نجیب د کارمل ځای ناستی دئ؛ د ملګري کارمل په اړه تشویش مه کوئ!!

د اخوان المسلمین په ارتباط د مصر معاصر تاریخ؛ د دوو پړاوونو شاهد دئ؛ هلته چي لومړی د جمال عبدالناصر له لوري ځپل شوي او بیا د جنرال عبدالفتاح السیسي له لوري په ۲۰۱۳م کي. دواړه د کودتا له لاري قدرت ته رسېدلي وو؛ له دې توپیر سره چي لومړۍ کودتا د ملك فاروق استبدادي شاهي نظام خلاف وه او د سیسي کودتا د داسي منتخب حکومت خلاف چي د مصریانو د غوڅ اکثریت په خوښه غوره شوی وو.

دواړو داسي ډله تروریستي ډله وګرځوله او د مشرانو او غړو د نیولو او اعدامولو پریکړه وکړه چي نه د هیڅ تروریستي اقدام سابقه لري او نه د هیڅ وسله والي مبارزې مخینه.

که د هغه مهال اسلام ضد، شوروي پلو، د غرب تر مالي، سیاسي او تبلیغاتي حمایت او صیانت لاندي قوم پال او نشنلست ډلو؛ فرهنګي او تبلیغاتي فعالیتونه له نظر تېر کړو نو وبه ګورو چي د همدې جلاد جمال

ناصر په ستاینې او توصیف کې د مبالغې او افراط له ټولو پولو اوښتل او د اخوان المسلمین خلاف ئې له هیڅ ډول دروغ، افتراء او کرکجنو اتهاماتو او ګنده ویناوو دریغ نه کولو؛ د اخوان الشیاطین نوم چې قرآن د مبذرینو لپاره غوره کړی او همدا پردیپالي ډلي ئې پخپله عملي مصداق دي؛ خو دوی د اخوان المسلمین لپاره کارولو؛ هر هغه ډله او سیاسي ګوند چې د اسلام تر شعار لاندې د مبارزې ډګر ته راوتلی او د اسلامي نظام اقامه کولو ته ژمن وو؛ دغو کړیو به ځکه اخوان المسلمین ته منسوبوله چې ګمان ئې کولو په خپلو تبلیغاتو سره ئې اخوان دومره بدنام کړی چې د هرې ډلې د منفورولو لپاره یوازې همدا کافي ده چې اخوان ته ئې منسوب کړي. جوانان مسلمان چې په کابل پوهنتون کې ئې خپله مبارزه پیل کړه او په دریو کالونو کې ئې کمونستانو ته سخته ماته ورکړه؛ کابل پوهنتون او د هېواد نور تعلیمي مؤسسات د دې اسلامي خوځښت په تاوده او مضبوط سنګر بدل شو؛ د محصلینو د اتحادیې په انتخاباتو کې ئې له دریو دوه برخې کرسۍ ترلاسه کړې؛ په داسې حال کې چې موږ له اخوان المسلمین سره هیڅ ډول تنظیمي او سیاسي رابطه او تړاو نه تر نن وړاندې درلود او نه نن؛ د جوانان مسلمان خو حتی په هیڅ کچه له دوی سره لیدنه کتنه هم نه وه شوې؛ خو کمونستانو به د اخواني په نامه یادوله.

د اخوان المسلمین تصفیه، د شوروي پلو مطبوعاتو او ډلو له مبالغو ډکو ستاینو، د مسکو مالي او نظامي مرستو؛ جمال عبدالناصر دومره مغرور کړ چې غوښتل ئې د ټولې عربي نړۍ زعامت او اتلولي ترلاسه کړي؛ ګمان ئې کولو چې کولی شي د فلسطین قضیې په عنوانولو او که بخت ورسره یاري وکړه او د اسرائیل خلاف جنګ کې تاریخي بریا ئې په برخه شوه؛ نو له شك پرته نه یوازې ټول عرب بلکې ټوله اسلامي نړۍ به ئې د اتل په توګه مني، لیدل ئې چې د اسرائیل خلاف څو توندو ویناوو ئې محبوبیت زیات کړ، خبره دې حد ته ورسېده چې په خپلو څو عامو غونډو کې مکرر ووایي: که وغواړو صهیونستي کیان په یوه ورځ کې له

منځه ولړلی شو؛ خو ثابته شوه چي دا هسي د عامو غونډو احساسات پاروونکې او تحسین جلبوونکې ویناوې وې؛ نه ئې تر شا تدبیر وو، نه تیاری او نه دقیقه نظامي منصوبه؛ ماهیت ئې هغه مهال ښه جوت شو چي تل ابیب او ځواکمنو حامیانو ئې؛ په سر کي ئې امریکا؛ پرېکړه وکړه چي په یوه ناڅاپي او ستر برید سره، نه یوازي جمال ناصر ته؛ بلکي اردن او سوریې ته هم چي د ده ملگرتیا ئې کوله او له مصر سره ئې گډ نظامي تړون درلود؛ سم سبق ورکړي.

## جمال ناصر او له اسرائیل سره د ۱۹٦۷ کال ٦ ورځنۍ جگړه

د ۱۹٦۷م کال تر ٦ ورځني جنگ وړاندي؛ د ناصر څو اقداماتو تل ابیب ته پر مصر د برید بلنه ورکړه؛

• په ۱۹٥٦م کال کي د «سوېز بحران» رامنځته شو؛ د ملگرو ملتونو سوله ساتي ځواکونه (UNEF – United Nations Emergency Force) د مصر او اسرائیل تر منځ د سینا په صحراء کي ځای پر ځای شول، په دې موخه چي د دوی تر منځ یو پر بل بریدونو مخه ونیسي.

خو د ۱۹٦۷م کال مې میاشتي کي جمال عبدالناصر د ملگرو ملتونو له سکرتر جنرل «یو ټانټ» (U Thant) رسمي غوښتنه وکړه چي دا سوله ساتي ځواکونه دي له سینا ووځي. تل ابیب او حامیانو ئې دا اقدام پر اسرائیل د برید د مقدمې په معنی تعبیر کړ.

• په همدې ۱۹٦۷ کال او د مې په ۲۲ ئې اعلان وکړ چي مصر به د تیران تنگی (Straits of Tiran) بند کړي. د دې تنگي بندولو معنی دا وه چي اسرائیل به نور د سرې بحیرې له لاري تجارتي او نظامي تگ راتگ نه شي کولی. اسرائیل اعلان وکړ چي که دا بندیز ختم نشي، نظامي اقدام به وکړي.

• ناصر د سینا په صحرا کي په لسگونو زره سرتېري، ټانکونه او توپونه ځای پر ځای کړل؛ دې اقداماتو له دې پرته بل تعبیر نه درلود چي مصر پر اسرائیل د نژدې برید اراده لري.

• مصر، اردن او سوریې د یوه ګډ نظامي ائتلاف موافقه وکړه. د ناصر، ملک حسین (اردن) او حافظ الاسد (سوریه) له خوا دا اعلانونه وشول چې که اسرائیل برید وکړي نو دوی به په ګډه دفاع کوي.

دا ټول هغه څه وو چې اسرائیل او حامیانو ته ئې د یوه ګډ لوی برید پیغامونه لېږل؛ شنډولو ته ئې هڅول؛ چې باید د مقابل لوري تر برید وړاندې پر هغه برید وکړي؛ همداسې وشول. او دا له شك پرته لویه اشتباه، عدم تدبیر، بې باکي او له نظامي پلوه ستر خیانت وو.

د جون په ۵، ۱۹۶۷م اسرائیل پر مصر، سوریه او اردن په داسې حال کې ناڅاپي او ستر برید وکړ چې دوی هیڅ تیاری نه درلود؛ ټولو ته ئې دومره درانه تلفات واړول چې د دوی نظامي ځواکونه ئې په بشپړه توګه فلج او له کاره وغورځول.

دا جګړه د اسرائیلو لپاره یوه ستراتیژیکه بریا او د مصر او ملګرو لپاره ئې شرمناکه او نه جبرانېدونکې ماته وه؛ په دې شپږ ورځنې جنګ کې امریکا، بریتانیا، فرانسه او لوېدیځ المان؛ هم تر جنګ وړاندې او هم د جنګ په دوران کې د تل ابیب استخباراتي، سیاسي او نظامي ملاتړ کولو او د مډرنو تجهیزاتو مرستې ئې ورسره کولې. په حقیقت کې دا یوازې د اسرائیل برید نه وو؛ د دغو څلورو هېوادو ګډ برید وو او اسرائیلي سر تېرې د هغوی کرایي جنګیالي.

دې ماتې وښوده چې د دریو عربي هېوادو ائتلاف نه یوازې په خپلو محاسباتو کې اشتباه کړې وه؛ بلکې د احتمالي برید په ارتباط ئې هیڅ دفاعي تدابیر نه وو نیولي؛ ناصر د جنګي شعارونو له لارې د وړیا شهرت او محبوبیت کسبولو ته تر دې زیاته توجه درلوده چې له نظامي اصولو سره سم دښمن غافل کړي؛ نه دا چې له ځان دفاع او متقابل برید ته ئې وهڅوي.

جمال ناصر ګمان کولو چې د شوروي په مرسته به وکولی شي د اسرائیل خلاف جنګ کې بریا ترلاسه او د عربو اتل شي؛ هیله ئې دا وه چې مسکو به ئې حتماً د امریکا او نورو غربي هېوادو د مداخلې په

وړاندي د ده عملي مرسته کوي او یوازي به ئې نه پرېږدي؛ خو دا هیله ئې ترسره نه شوه؛ هسي هم دا جنگ دومره لنډ وو چي په دې مودې کې له مسکو تر قاهرې پوري رارسېدل هم گران وو؛ او دا په جنگ کې د مسکو د عدم حضور لپاره ښه توجیه هم وه! شوروي مصر ته اسلحه، الوتکي او فوځي مشاورین ورکړي وو، خو هیڅکله ئې د مستقیمي فوځي مداخلې او دفاع ژمنه نه وه کړې. حقیقت دا دئ چي د مسکو چلن په ٦ ورځني جنگ کې دقیقاً داسي وو لکه د اسرائیل او ایران ١٢ ورځني جنگ کې د مسکو چلن؛ په دواړو کې ئې خپل ملگري یوازي پرېښودل. دا زموږ د علیم رب مؤکده لارښوونه دا چي فرمایي:

مَثَلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوْلِيَآءَ كَمَثَلِ ٱلْعَنكَبُوتِ ٱتَّخَذَتْ بَيْتًاۖ وَإِنَّ أَوْهَنَ ٱلْبُيُوتِ لَبَيْتُ ٱلْعَنكَبُوتِۚ لَوْ كَانُواْ يَعْلَمُونَ ﴿٤١﴾ إِنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا يَدْعُونَ مِن دُونِهِۦ مِن شَيْءٍۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٤٢﴾ العنکبوت

د هغو مثال چي له الله پرته نور مرستندویان نیسي؛ د هغي غڼې په څېر دئ چي ځان ته ئې کور ونیو، دا په داسي حال کې چي تر ټولو سست کور د غڼې کور دئ، کاش پوهېدی. یقیناً چي الله پوهېږي دوی له ده پرته کوم (د اعتناء وړ) شی نه وربلي؛ او دی باحکمت عزتمن دئ.

دلته هغه خوك له غڼې سره تشبیه شوی چي له الله تعالی پرته بل څه او بل چا ته پناه وړي، دلته لومړی د نوح، ابراهیم او لوط قومونه، د عاد، ثمود او مدینیانو قومونه، د فرعون، قارون او هامان په څېر ځواکمنو قومونو او واکمنو د بدو پایلو یادونه شوې او ورپسې دا مثال راغلی، او د همدغو زور ځواك ته پناه وړل داسي گڼل شوي لکه د غڼې ځالي ته پناه وړل؛ دوی پر خپل زور، ځواك او ډېرښت مغرور شوي وو، نه پوهېدل چي دا ډېره کمزورې متکاء ده، داسي لکه د غڼې ځاله، د الله له عذاب او د حق په وړاندي له حتمي ماتې ئې نه شي ژغورلی، تاریخ ته رجوع وکړئ او وگورئ چي د دوی او د دوی د زور، ځواك او ډېرښت پایله څه وه!!

په ورپسې آیت کې ویل شوي: الله تعالی ته د دوی د معبودانو ماهیت، د هغه څه ماهیت چې دوی پرې اتکاء کوي او مرسته ترې غواړي، او دوی ئې مغرور کړي؛ ښه معلوم دئ، دا نه یوازې د غنې د ځالې په څېر سست او کمزوري دي بلکې د الله په وړاندې او د حقیقت په تلې کې داسې دي لکه هیڅ، دا د دوی د وهم زېږنده موهومې شیان دي چې دوی ئې لمانځي، مرسته ترې غواړي او اتکاء پرې کوي، د هغه الله تعالی په وړاندې به د دغو مرستندویانو څه حیثیت وي چې د ټول عالم پالونکی، ساتونکی، عزیز او حکیم رب دئ؟!

## د امریکا او اسرائیل سریع او سخت غبرګون

اسرائیل د خپلو استخباراتو او د حامیانو د معلوماتو په مټ پوهېدو چې په شاوخوا کې ئې څه روان دي؛ واشنګټن د مصر د شوروي‌پالني له کبله او دې ته په پام سره اندېښمن وو چې د اسرائیل ماته او زوال به ډېرې بدې پایلې ولري او د اسرائیل په پاللو کې د امریکا ټولې پراخې پانګونې به هدر لاړې شي؛ نو ځکه ئې تل ابیب ته د برید امر وکړ. د برید پیل او تر نورو زیات ترکیز باید پر مصر وی چې هم مهم او اصلي محور دئ او هم د نظامي ائتلاف قیادت ئې په واک کې دئ؛ نو ځکه ئې د مصر پر هوایي ځواکونو ناڅاپي او ستر برید وکړ؛ د مصر هوایي ځواک په لومړۍ ورځ فلج او په بشپړه توګه له منځه ولاړ. په دې جنګ کې تر ټولو زیات ځاني، مالي، نظامي او ستراتیژیکي تلفات مصر وګالل؛ د سینا ټاپو نژدې ۶۰،۰۰۰ کیلومتر مربع سیمه ئې د اسرائیل لاس ته ورغله. د عربو د تلفاتو تفصیل تر دې عنوان لاندې کتلی شئ: (د ۷ اکتوبر برید او د ۱۹۶۷ کال شپږ ورځنۍ جګړې مقایسه).

خو له دې شرمناکې ماتې وروسته؛ چې ستر وجوهات ئې بې ځایه غرور، د دښمن له تصمیم بې خبري، داسې څرګند نظامي تحرکات چې باید سري وی او دښمن تر برید وړاندې نه وی پرې خبر شوی، د سینا په څېر هوارې او بې پنا صحرا کې لوی شمېر سرتېري او توپونه او ټانکونه

ځای پر ځای کول، د لازمو نظامي تدابیرو عدم مراعات؛ او ... وو؛ د جمال ناصر او ټولو عربي واکمنو روحیه او همت ئې داسي ویلي او ذوب کړ چي بیا ئې تر ننه له اسرائیل سره د ډغرو وهلو جسارت نه دئ کړی.

تر ناصر وروسته د هغه ځای ناستی انور السادات داسي نرم شو چي د اسرائیل صدر اعظم مناحیم بېگن سره ئې د امریکا په کمپ دېوید کي لیدنه وکړه؛ دا لیدنه له یوې خوا د اسرائیل د ستر حامي امریکا په منځګړیتوب او کوربه توب ترسره شوه؛ او له بلي خوا مصر په یوازي سر او د ټولو عرب هېوادو له موافقې او مشورې پرته له ګډ دښمن؛ اسرائیل سره مذاکرات پیل کړل؛ حتی د اردن او سوریې په څېر خپل هغه دوه ملګري ئې هم ونه پوښتل چي په مخکیني برید کي ئې د مصر تر قیادت لاندي شرکت کړی وو؛ انور السادات خپله قبله له مسکو د واشنګټن په لوري اړولې او د جمال ناصر تګلاره ئې پرېښې وه؛ له عربي هېوادو سره ئې هم مناسبات ترینګلي شوي وو.

د کمپ ډېوډ معاهده چي د ۱۹۷۸ کال د سپتمبر په ۱۷مه د امریکا ولسمشر جمي کارتر په منځګړیتوب او وصایت، د مصر ولسمشر انور السادات او د اسرائیل صدر اعظم مناحیم بېگن ترمنځ لاسلیک شوه، د عربي-اسرائیلي لانجې په تاریخ کي یو مهم انکشاف وو؛ دوه اساسي برخي ئې درلودې:

لومړۍ برخه ئې د مصر او اسرائیل ترمنځ سوله، دوه اړخیزي اړیکي، زمکنۍ لانجې، امنیت او سفارتي روابط وو؛ او مهم بندونه ئې دا:

۱. مصر او اسرائیل موافقه وکړه چي یو د بل شتون ته درناوی لري او تر منځ ئې سولي ته ژمن دي.

۲. اسرائیل تعهد وکړ چي د سینا په نیمه‌وچه کي به خپل فوځي حضور پای ته رسوي او بېرته به ئې مصر ته سپاري؛ (دا پروسه تر ۱۹۸۲ پوري بشپړه شوه).

۳. مصر به له اسرائیل سره رسمي سیاسي او سفارتي اړیکي ټینګوي؛

په دې توګه مصر لومړنی عربي هېواد شو چې اسرائیل ئې په رسمیت وپیژندو.

٤. دواړو هېوادونو تعهد وکړ چې یو پر بل به برید نه کوي، د ستونزو حلولو لپاره به د جګړې لار نه غوره کوي او د ټولو لانجو لپاره به سیاسي حل لاره لټوي.

۵. مصر ژمنه وکړه چې د سوېز کانال لار به د اسرائیلي بېړیو پر مخ پرانیزي.

دویمه برخه: د فلسطینیانو مسئلې ته مختص شوې؛ چې تر ډېره حده د تل ابیب په ګټه تنظیم شوې وه؛ مهم بندونه ئې دا وو:

۱. د فلسطینیانو لپاره د محدودي خپلواکي په ارتباط ویل شوي: اسرائیل به د غزې ترانګي او د اردن سیند لویدیځي غاړي فلسطینیانو ته محدوده محلي خپلواکي ورکوي؛ خو د اسرائیل تر سیطرې او واك لاندي؛ نه د خپلواک دولت په ډول.

۲. فلسطینیان به خپل اداري چارواکي پخپله او د انتخاباتو له لاري ټاکي؛ دنده به ئې د محلي چارو سمبالول وي.

۳. په ۵ کلونو کي به د مذاکراتو له لاري د فلسطین دایمي حیثیت ټاکل کېږي.

خو دا دویمه برخه هیڅکله عملي نه شوه؛ له یوې خوا تل ابیب له دې سره هیڅ علاقه نه درلوده او له بله پلوه نه فلسطینیانو دا معاهده ومنله او نه نورو عربي هېوادونو.

امریکا ژمنه وکړه چې دواړو هېوادونو ته به د سولې په بدل کي فوځي او اقتصادي مرستي کوي، د اسرائیل امنیت ته به په اوږدمهاله ډول ژمن پاته کېږي، مصر ته به کلنۍ مالي او فوځي مرستې جاري ساتي.

دا معاهده د اسرائیلو لپاره ستره بریا او سیاسي لاسته راوړنه وه، خو مصر ته ئې د بشپړي تسلیمېدا او د تل ابیب ټولو شرائطو ته د غاړي ایښودو او د فلسطین پلورلو معنی درلوده؛ او دا هر څه په ډېره ګرانه

بیه ورته تمام شول؛ ځکه چي:

- د ډېرو عربي هېوادونو او ټولي عربي ټولني له خوا منزوي شو.
- اسلامي نړۍ؛ د عربانو په شمول؛ د ده تسلیمېدا وغندله او هغه ئې ستر خیانت او د عربي نړۍ د یووالي خلاف عمل وګڼلو.
- انور السادات؛ لنډه موده وروسته د همدې ننګیني معاهدي له امله په (۱۹۸۱) کال د اکتوبر په ٦مه هغه مهال ووژل شو چي د ده په وړاندي؛ د عسکري قطعاتو د منظمي تېرېدا په بهیر کي؛ د خالد اسلامبولي په نامه یوه سرتېري تر ډزو لاندي ونیوی.

دا یوازي مصر او انور السادات نه وو چي د ۱۹٦۷ کال په جګړي کي د شرمناکي ماتي له کبله؛ د امریکا او اسرائیل شرائطو او غوښتنو ته تسلیم شو؛ ډېرو نورو هم د هغه پر پل ګام کېښود، چا امریکا ته اډې ورکړې، چا نظامي او امنیتي تړونونه او د امریکایي وسلو پېرلو معاهدې لاسلیك کړې، چا له مسکو مخ واړولو او د امریکا لمن ئې ونیوله.

## د عربي ائتلاف ماته د فلسطینیانو لپاره بله فاجعه

دا ماته د عربي هېوادو تر څنګ فلسطینیانو ته هم یوه ستره فاجعه وه؛ د لکونو په شمېر کي د خپلو مېنو او سیمو پرېښودو ته اړ شول؛ ډېری ئې د ۱۹٤۸ کال د لومړنیو مهاجرینو ماشومان او نوی نسل وو؛ چي دوهم ځل هجرت ته مجبور شوي او اردن، لبنان، سوریې، او نورو عربو هېوادونو ته لېږدول شوي؛ ځیني له غزې او ځیني د اردن سیند له لوېدیځي غاړي.

د دې مسلسل او پر له پسې بې ځایه کېدو وروستی پړاو په ۲۰۲۳ کی او د حماس له برید وروسته؛ د اسرائیل د ستر او وحشیانه زمکني او هوائي برید په نتیجه کي پیل شو؛ د غزې له شمال جنوب ته؛ پر شمالي غزې د صهیونستانو د بې ساري وحشیانه هوائي بریدونو او زمکني یرغل له کبله، د غزې د سختي زمکنۍ، هوائي او بحري محاصرې په سبب بهر ته د وتلو لاري پرې بندي وې.

## دربیم ډله‌ییز هجرت (۲۰۲۳-۲۰۲۴) او د غزې ستره فاجعه

په څو اونیو کې تر ۳۰،۰۰۰ زیات فلسطینیان شهیدان شول؛ چې تر ۳۰٪ زیات ئې ماشومان ول؛ تر ۱.۹ میلیون زیات له خپلو کورونو بې‌ځایه شول؛ په داسې حال کې چې د غزې ټول نفوس په شمال او جنوب کې تقریباً ۲.۳ میلیون دئ؛ اوس ټوله شمالي غزه تقریباً په بشپړه توگه تخریب او تخلیه شوې؛ د کورونو، جوماتونو، مدرسو، روغتونونو، مارکیټونو، ملکي تأسیساتو، د برېښنا او د اوبو لېږد سیستم په شمول؛ په ټولې شمالي غزې کې به لږ روغ دېوال او چت په نظر درشي؛ ټول اوسېدونکي ئې په جنوب کي د رفح او خان یونس په پنډغالو کي او تر خیمو لاندي اوسېږي؛ کله ئې صهیونست ځواکونه دلته هم آرام نه پرېږدي او هوائي بریدونه پرې کوي؛ کله د ورښتونو له ستونزي سره او کله د تودوخي، کله د خوړو او صحي اوبو له نشت او کمښت سره او کله د دوا درمل له نشت سره مخامخ دي؛ صهیونستي ځواکونو د انساني مرستو د راتلو لاري هم پرې بندي کړې، د دې مرستو پر کاروانونو ئې بریدونه وکړل او فعالان ئې ووژل، پر ټولې غزې د سختې قحطي حالت تپل شوی؛ د لوږي له کبله د مړینو لړۍ پیل شوې؛ امریکا او اسرائیل د نړۍ‌والو د غولولو او د فشارونو کمولو په موخه د خوراکي توکو د وېش مرکزونه پرانیستل؛ په همدې مرکزونو کې ئې د راغونډ شوو نیازمنو پر غونډو هوائي بریدونه او زمکنۍ ډزې وکړې؛ د ملل متحد د ارقامو له مخي؛ په غزه کي د انساني مرستو د وېش په مرکزونو کي د راغونډ شوو نیازمنو پر غونډو د اسرائیلي ځواکونو هوائي بریدونو او زمکنیو ډزو کي له ۲۷ مې ۲۰۲۵ تر ننه ۱۸ اگسټ پوري، لږ تر لږه ۱،۹۶۵ کسان وژل شوي دي؛ په دې کي ۸۵۹ تنه د GHF؛ امریکایي-اسرائیلي مرستندویو ادارو د وېش مرکزونو ته نژدې وژل شوي؛ په همدې موده کې د ټپي شویو شمېر شاوخوا ۱۳،۸۶۳ کسان دي!!

آیا تر دې هم د زیات رذالت او دنائت تصور کېدی شي چي یو هېواد دي مظلوم او له سختي لوږي د مرگ حالت کې انسانان داسي

ښكار كړي لكه يو ښكاري چي مرغانو ته كمين نيسي، دانه پر زمكه شيندي چي راغونډ شي او بيا له چره يي ټوپك پرې ډزي كوي!! هيڅ شريف او با ضمير انسان د داسي جنايت او رذالت تصور نه شي كولی!! خو صهيونستانو او د دوی حاميانو ته دا هر څه يوه آسانه او جائزه لوبه ښكاري؛ همغسي لكه د بريتانيا د شاهي كورنۍ د مست شهزاده «هېري» په وينا؛ فقط د شطرنج په يوه دوستانه لوبه كې د پلاستيكي دانو حذفول!! هغه به له اپاچي هليكوپټر د هلمند عام وگړي د دې لپاره په نښه كول چي خپله نښه پخه كړي؛ دوه ځله افغانستان ته راغلی؛ ۲۰۰۷-۲۰۰۸ كي نژدې ۱۰ اونۍ؛ كله چي د هغه جنايات د رسنيو له خوا افشاء شول نو له افغانستان وايستل شو؛ خو بيا په ۲۰۱۲-۲۰۱۳ كي بېرته هلمند ته راغی؛ په بريتانيايي بسټين كمپ كې مستقر شو، د «اپاچي» چورلكي د پيلوټ او ويشتونكي په توگه شاوخوا ۲۰ اونۍ هلته پاته شو. د خپلو خاطراتو كتاب «Spare» كي ئې ليكلي: د دوهم مأموريت په دوران كې مي د «۶ عملياتو» په ترخ كي ۲۵ طالبان وژلي؛ هلته ئې مخالف لوری د طالب په نامه ياد كړی او د شطرنج له دانو سره ئې تشبيه كړي؛ او وايي: نه ئې پر وژلو فخر كوم او نه د شرم احساس!! يعني چي د دوی وژل دومره مهم كار راته نه برېښي چي فخر پرې وكړم!! د شطرنج د دانې په سترگه ورته گورم!! دا ئې د ليكني انگرېزي متن دئ:

**It wasn't a number that gave me any satisfaction. But it wasn't a number that made me ashamed, either. When I found myself plunged in the heat and confusion of combat, I didn't think of those twenty-five as people. They were chess pieces removed from the board.**

پښتو ترجمه ئې دا ده: «دا شمېر (۲۵ تنه وژل) نه زما د وياړ سبب وو او نه زما د شرم. د جگړي په تودوخه او گډ وډ حالت كي مي هغو پنځه ويشتو ته د انسانانو په سترگه نه كتل؛ هغوی مي د شطرنج له تختې لري كړی شوې دانې گڼل»

یقیناً چې داسې وینا یوازې د یو مسخ شوي نسل بېلګه ټمثیلوي، هغه چې ټول انساني فطرت او معیارونه ئې بدل او مسخ شوي وي؛ دوی د نوح علیه السلام د هغې دعاء مصداق دي چې له ۹۵۰ کاله مسلسل دعوت وروسته ئې د خپل قوم په اړه وکړه او په قرآن کې په دې صیغه راغلې:

وَقَالَ نُوحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى ٱلْأَرْضِ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ دَيَّارًا ﴿٢٦﴾ إِنَّكَ إِن تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا۟ عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوٓا۟ إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا ﴿٢٧﴾

او نوح وویل: اې زما ربه! پر زمکې له دغو کافرانو هیڅ اوسېدونکی مه پرېږده! که ئې پرېږدې ستا بندګان بې لارې کوي او له کافر او فاجر پرته بل څه نه زېږوي.

یعني دوی ته مهلت ورکول هیڅ ګټه نه لري، هر څومره فرصت او مهلت چې ورکړی شي نه به اصلاح شي او نه به صالح نسل ترې پاته شي، تل به راتلونکو نسلونو ته کفر او فجور په میراث پرېږدي.

په غزه کې داسې بې رحمانه نسل وژنه روانه ده چې په ټول انساني تاریخ کې ئې لږ مثال موندلی شو؛ دلته چې په تېرو ۲۳ میاشتو کې هر څاڅکی وینه توی شوې؛ هر ماشوم او ښځه وژل شوي، د کور چت نسکور شوی او بشپړه کورنۍ ترې لاندې دفن شوې، پر روغتون، مسجد، مدرسې برید شوی او ... د دې ټولو جنګي جنایاتو مسئولیت؛ په لومړي سر کې د صهیونستي دولت د مؤسسینو او حامیانو پر ذمه دئ او بیا د نتنیاهو او د هغه د حکومت پر غاړه؛ په تېرو ۲۳ میاشتو کې هره ورځ په غزه کې په اوسط توګه ۳۲۰ تنه د غرب په وسلو، بمونو او راکټونو مړه او ټپي شوي؛ خو نتنیاهو او حامیان ئې په دغو ټولو جنایاتو، ورانیو او نسل وژنو بسنه نه کوي؛ د ټولې غزې د بشپړ اشغال شعارونه ورکوي او د غزې د مظلوم ولس د مزید وژلو هوډ څرګندوي؛ د صهیونیزم غربي حامیان د دې خونړي تصمیم او اعلان په وړاندې یا ساړه او ساکت دي او یا د ټرامپ په څېر چې د نتنیاهو د دې خونړي تصمیم په اړه یو

خبریال ترې پوښتې او دی داسې ځواب ورکوي لکه چې د بوکس د کومې لوبې په اړه خپل نظر څرګندوي؛ وایي: "د نتنیاهو د تصمیم له جزئیاتو خبر نه یم؛ دا کاملاً په اسرائیل پورې اړه لري"!! دا په داسې حال کې چې یقیناً له هر څه او تفصیلاتو ئې خبر دئ؛ ممکنه نه ده چې نتنیاهو داسې خطرناك تصمیم د سپینې ماڼۍ له خبرولو او موافقې پرته ونیسي؛ په حقیقت کې د ټرمپ وینا داسې ده لکه چې نتنیاهو ته ئې سپین چک ورکړی او له هر تصمیم سره ئې خپله موافقه اعلان کړې. نتنیاهو په داسې بد حالت کې دئ چې سیاسي مرګ او ژوند ئې د غزې په جنګ پورې تړلی دئ؛ په اوسني حالت کې له شرم ډک ناکام وتل به ئې د ده او د ده د ګوند پر تابوت آخري میخ ثابت شي؛ هیڅکله پخپله خوښه دې مرګ ته نه تسلیمېږي؛ هغه به خپل ټول زور کاروي چې له دې سختې مضیقې او تنګ ناو د وتلو لار پیدا کړي؛ د جنګ له دوام پرته بل بدیل نه مومي؛ خو په دې کې نه ولس ورسره موافق دئ، نه مخالف سیاستوال، نه د فوځ ډېری افسران او سرتېري، وبه ګورو چې په کوم لوري د تلو مجال ترلاسه کوي. په حامیانو کې ئې له امریکا پرته بل داسې هېواد پاته نه دئ چې د جنګ په دوام کې د ده ملاتړ وکړي؛ ډېرو ئې خپل تصمیم نیولی او اعلان ئې کړی چې که نتنیاهو له اوربند سره توافق ونه کړي؛ نو دوی به د فلسطین مستقل دولت ومني او په رسمیت به ئې وپېژني.

## د حماس برید د اسرائیل غرور مات کړ

خو د حماس برید د اسرائیل غرور داسې مات کړ چې هیڅکله به ئې جبران نه کړی شي؛ چا ګمان کولو چې اسرائیل به حماس په ۲۳ میاشتو خونړي جنګ مات نه کړی شي؟ په داسې حال کې چې څو کاله وړاندې ئې په ٦ ورځو کې داسې درې ستر هېوادونه مات کړي ول چې د هر یوه نفوس د اسرائیل څو برابره وو؛ د مصر درې سوه جنګي الوتکې ئې تخریب کړې؛ په داسې حال کې چې د اسرائیل ټولې جنګي الوتکې د دې شمېرې تر نیمایي لږ زیاتې وې؛ ډېری معتبرې غربي او د منځنې ختیځ

سرچینې وايي چې اسرائيلي الوتکو د مصر شاوخوا ۳۰۰ روسي جنګي الوتکي (میګ-۲۱، میګ-۱۹، میګ-۱۷) د عملیاتو په لومړي سحر، د مصر په نظامي میدانونو کې ویجاړې کړې. دا وخت د اسرائیل د ټولو نظامي الوتکو شمېر (د روزنیزو الوتکو په شمول) تقریباً ۲۰۰-۲۵۰ الوتکي وې؛ او دا ځکه چې د مصر پیلوټان ویده وو او د هوايي مدافعې سیستم او رادار ئې غیر فعال وو!! د مصر د هوايي ځواك له ځپلو وروسته؛ اسرائیل همداسې د اردن او سوریې هوايي ځواکونه هم په نښه کړل. همدا د یوه سحر بریالي او لنډ عملیات په ٦ ورځني جنګ کې د اسرائیل بریا او برلاسي تضمین کړه.

خو همدا مغرور اسرائیل؛ تر مخکینیو ډېرو عصري او مخکې تللو جنګي الوتکو سره؛ ونه توانیدو؛ حماس په ۲۳ میاشتو کې مات کړي؛ حقیقت دا دئ چې تل ابیب د حماس د ځپلو لپاره تر ٦ ورځني جنګ په سلګونو ځله زیات بمونه او راکټونه ورولي. له ۷ اکتوبر وروسته په شپږو میاشتو کې ئې تر ۴۰,۰۰۰ زیات هوايي بریدونه کړي او تر ۷۰,۰۰۰ ټنه زیات بمونه ئې پر غزې ورولي؛ دا د ویکيپیډیا ٦میاشتنۍ محاسبه ده؛ خو د اناډولو خبري اژانس دا اندازه ۱۰۰,۰۰۰ ټنه ګڼي. نو د ۲۲ میاشتو په اوږدو کې حد اوسط شاوخوا ۱۱۵,۰۰۰ ټنه بمونه پر مظلومې او بې دفاع غزې غورځول شوي. دا مقدار تر هغو بمونو زیات دئ چې په دوهم نړیوال جنګ کې پر څلورو لویو ښارونو ورېدلي: پر ډریسډن (Dresden) شاوخوا ۳,۹۰۰ ټنه، پر هامبورګ شاوخوا ۹,۰۰۰ ټنه او پر برلین د اوږدمهاله بریدونو په ترڅ کې نژدې ۴۵,۰۰۰ ټنه؛ دا د جرمني درې ستر ستر ښارونه وو چې د ښارونو پراخي او لویي برخي وراني او سوزېدلې دي؛ دا ځکه چې ډېری بمونه اوراچوونکي وو. د جاپان پر ټوکیو شاوخوا ۱,۶۶۵ ټنه بمونه ورول شوي او له امله ئې تر ۱۰۰,۰۰۰ پوري ملکي تلفات اوښتي. د دې ټولو مجموعه شاوخوا ۵۹,۵۶۵ ټنه کېږي؛ خو یوازې پر وړې غزې؛ چې مساحت ئې ښايي د افغانستان د ننګرهار ولایت په اندازه وي؛ ۱۱۵۰۰۰ ټنه بمونه ورول شوي؛ چې مقدار ئې د

دغو څلورو ښارونو په پرتله نږدې دوه برابره زیات دئ.

همدا راز که د جاپان پر هیروشیما او ناګاساکي ښارونو د امریکا د اټمي بمونو له ورولو سره ئې مقایسه کړو؛ نو پر لومړي د شاوخوا ۱۵ زره ټنه TNT معادل اټومي بم غورځول شوی او پر دوهم د شاوخوا ۲۰-۲۱ زره ټنه TNT معادل اټمي بم. او پر هیروشیما + ناګاساکي جمعاً څه باندي (۳۵،۰۰۰ ټنه) او پر مظلومي غزې د دې مقدار شاوخوا ۳،۳ ځله زیات.

## نن اسرائیل دوه بدیلونه په مخ کي لري:

- د جنګ دوام
- د اوربند مخکینۍ معاهدې ته تمکین

په جنګ کي اسرائیل خپل ټول زور ځواك آزمویلی، ګمان نه کوو داسي څه دي پاته وي چي تل ابیب په خپلي چانتې کي پټ ساتلی وي او وکولی شي دا جنګ پرې وګټي. د جنګ دوام په حقیقت کي د تېري ناکامي او خونړۍ تجربې له تکرار پرته بله معنی نه لري؛ او د اوربند مخکینۍ معاهده ټولو لوریو (امریکا، تل ابیب او حماس) منلې وه؛ له مخي ئې اسرائیل له غزې د خپلو سرتېرو او وسائلو ایستل پیل کړل، مهاجرین شمالي غزې کي خپلو ورانو مېنو ته ستنېدل پیل کړل او څو ځله د اسیرانو تبادله هم ترسره شوه؛ خو صهیونستانو له کوم موجه دلیل پرته په یوه اړخیز ډول معاهده نقض کړه او بریدونه ئې پیل کړل؛ هغه هم تر مخکي لا زیات؛ دومره چي که مخکي د دوی په بریدونو کي هره ورځ په اوسط ډول ۵۰ تنه وژل کېدل تر دې وروسته ئې شمېر تر ۱۰۰ واوښت.

## اسرائیل ولي د اوربند معاهده نقض کړه؟

د ۲۰۲۵ کال جنورۍ په ۱۵مه د حماس او اسرائیل تر منځ د اوربند، د اسیرانو او بندیانو تبادلې او له غزې د اسرائیلي ځواکونو وتلو معاهده اعلان شوه. د منځګړیتوب کوونکو (قطر، مصر او امریکا) له لوري خپره

شوې مسودې او د رسنیو راپورونو له مخې؛ د معاهدې اصلي بندونه دا وو:

- اوربند او په ټاکلې نېټې ئې عملي کېدا
- د اسیرانو او بندیانو تبادله
- له غزې د اسراییلي ځواکونو وتل او د هوایي او توپچي بریدونو ودرول.

د اسرائیل امنیتي کابینې هم دا معاهده تصویب او تأیید کړه؛ څو ځله د معاهدې مطابق د اسراوو تبادله ترسره شوه؛ خو اسرائیل نه یوازې حاضر نه شو له معاهدې سره سم؛ خپل زمکني ځواکونه له غزې وباسي؛ بلکې په همدې مودې کې ئې ځیني نوري سیمې هم ونیولې. دا د حماس او هر منصف څارونکي له نظره د تړون ښکاره ماتول وو.

## کله او څنګه د اوربند حالت کې جګړه بیا پیل شوه؟

په داسې حال کې چې د معاهدې لومړی پړاو بشپړ شوی وو او د دوهم پړاو په اړه مذاکرات روان ول؛ ناڅاپي او د ټولو انساني او اخلاقي اصولو او معیارونو خلاف؛ د اسرائیل هوایي ځواکونو او توپچي د مارچ په ۱۸مه پر غزې ناڅاپي پراخ بریدونه پیل کړل؛ دې برید ته ئې (د قوت او توري عملیات) نوم ورکړی وو؛ شدت ئې تر مخکینیو دوه برابره زیات؛ چې لړۍ ئې تر ننه او په ټول شدت سره روانه ده؛ هر بې پرې او هوښیار څېړونکی چې وغواړي په دې اړه عادلانه قضاوت وکړي نو پرېکړه به ئې له دې پرته بل څه نه وي چې: اسرائیل نه په مذاکراتو کې صادق وو او نه ئې معاهده په رښتیني توګه منلې وه، هدف ئې دوکه، د خپل ولس او نړۍوالو غولول، کورني او بهرني فشارونه کمول، د غزې مهاجرین له جنوب بېرته شمال ته بېول او هلته ئې بیا تر بریدونو لاندې نیول وو؛ دا معاهده او بندونه ئې داسې وو چې ټول ناظرین ئې حیران کړل چې امریکا او اسرائیل څنګه او ولې د حماس ټول شرائط ومنل.

## امریکا او اسرائیل ولې اوربند او د حماس شرائط ومنل؟

ما هغه مهال ولیکل: د غزې اوربند او د غزې مجاهدینو شرائطو ته د تل ابیب تسلیمېدا؛ ستره او تاریخي پېښه ده؛ د اوربند معاهده ښیي چې تل ابیب د خپل وحشیانه جنگ هیڅ هدف ترلاسه نه کړی شو؛ نه ئې حماس له پښو وغورځولو او نه ئې خپل اسیران آزاد کړی شو، حماس نه یوازې فعال او ځواکمن پاته دئ بلکې په وروستیو ورځو کې ئې اغېزمن بریدونه کړي چې کافي مرگ ژوبله ئې اسرائیلي سرتېرو ته اړولې؛ فلسطینیان له معاهدې راضي دي او په څېرو کې ئې د خوښي نښې څرگندي؛ تل ابیب منلې چې له ټولې غزې به وځي، خپلې اډې او نظامي تأسیسات به ختموي، د هر اسرائیلي اسیر په بدل کې به ۳۰- ۵۰ فلسطیني اسیران آزادوي، ټول مهاجر او بې ځایه شوي فلسطینیان به خپلو سیمو ته ستنېږي، د دوی موقت اسکان لپاره به ټول لازم تسهیلات برابرېږي، پیل به ئې د ۲۰۰۰۰۰ خیمو لېږل؛ د اوبو، برق، روغتیا او نورو برخو اړوند تأسیسات رغول وي. یقیناً چې دا د فلسطینیانو لپاره ستره بریا او د اسرائیل او حامیانو لپاره ئې شرمناکه ماته ده. دوی گمان نه کولو چې په وړې غزې کې به له داسې کلك او نه ماتېدونکې مقاومت سره مخامخ شي، دا جنگ ئې د ۱۹٦۷ م کال تر ٦ ورځني جنگ هم لنډ او آسان گڼلو؛ خو نتیجه معکوس وه؛ تر ۱۵ میاشتو زیات ئې دوام وکړ؛ پر ښارونو، گڼ مېشتو سیمو، تعلیمي تأسیساتو، روغتونونو، د مهاجرینو پنډغالو؛ له بمونو ورولو او تش لاسو خلکو له وحشیانه وژلو پرته ئې هیڅ لاسته راوړنه نه درلوده؛ نن د جنایتکار نتنیاهو حکومت هم په نړۍ کې منفور دئ او هم د کور دننه اسرائیل کې؛ د فلسطینیانو په حمایت کې هغه ستر ستر او میلیوني تظاهرات چې د نړۍ په ډېری لویو ښارونو کې ترسره شول؛ د اسرائیل بیرغ او د نتنیاهو او د ده د غربي حامیانو عکسونه په کې سوزېدل؛ د غزې مجاهدینو د بریا لپاره همدا گواهي کافي ده.

موږ د غزې مجاهدینو او ټول فلسطین مؤمن ولس همت، مېړانې،

صبر، صمود او بې ساري ثبات او استقامت ته سلام کوو؛ له الله تعالی ورته د مزید او بشپړي بریا دعاء کوو. فلسطینیانو په خپل کلك او مضبوط مقاومت سره وښوده چې د خپلواکۍ، آزادي او مستقل فلسطین جوړولو لپاره هري قربانۍ ته چمتو دي؛ اسرائیل او حامیانو ته ئې وښوده چې فقط یو بدیل په مخکې لري: د فلسطینیانو حق او ارادې ته تمکین او له ټولو اشغال شوو سیمو وتل.

د هغې ورځې رارسېدو په هیله.

که څه هم ځیني داسي انگېري چې دا د امریکا او اسرائیل یوه گډه توطئه وه؛ په اوربند سره د حماس اغفال، د مهاجرینو بېرته راستنېدل او بیا پر هغوی تر مخکې لا زیات بریدونه او لا زیاتې بم ورونې؛ خو بل لوري ته دا تحلیل مخې ته راځي چې د اوربند معاهده د اسرائیل او امریکا یوه جدي اړتیا وه؛ وروسته دې ته متوجه شوي چې په دې معاهدې سره ئې سخته تېروتنه کړې؛ د جبران لپاره ئې مجبور شوي معاهده نقض کړي او د بریدونو او محاصرې ابعاد لا پراخ کړي؛ هو؛ دا یوه دوکه وه؛ له بې انتهاء رذالت او دنائت ډکه خدعه او دوکه؛ یوازي له خپلو وسله والو سیالانو سره خدعه نه؛ بلکې د جنگ له بې وزلو قربانیانو او عام فلسطینیانو سره؛ پر هغو هم بریدونه او د بمونو ورونې پیل شوې چې د اوربند له معاهدې وروسته شمالي غزې ته ستانه شوي وو او د مهاجرینو پر پنډغالو هم؛ شدت ئې تر مخکې دوه برابره زیات؛ تېره میاشت د جولای په ۲۱ مه د فلسطین صحت وزارت د همدې ورځې د ځاني تلفاتو په اړه خپلې اعلامیې کې وویل: په تېرو ۲۴ ساعتونو کې ۱۵۵۵ ژوبل او د ۱۳٤ فلسطینی شهیدانو جسدونه روغتونونو ته انتقال شوي؛ همدا راز ئې ویلي: لږ تر لږه ٦۷ فلسطینیان هغه مهال شهیدان شوي چې د خوراکي توکو ترلاسه کولو لپاره د مرستو وېش مرکزونو کې راغونډ شوي او اسرائیلي ځواکونو پرې ډزي کړې!! رویټرز لیکلي: دا پېښه د یکشنبې ورځ هغه مهال رامنځته شوه چې اسرائیلي ځواکونو د هغو سیمو د تخلیې دستور صادر کړی وو چې له مهاجرینو

ډکې وې؛ د غزې روغتیا وزارت په وینا د شهیدانو تر څنګ په لسګونو نور ټپي شوي.

## د نتنیاهو ګواښونه چې غزه نیسي او د ټرمپ مبهم او سوړ غبرګون

نتنیاهو د غزې د نیولو ګواښونه وکړل؛ لا څو ورځې نه وې تېرې شوې چې امنیتي کابینې ئې د ده ګواښونه تصدیق کړل او د اګست په اتمه ئې د غزې د ښار نیولو پرېکړه وکړه؛ په مقابل کې ئې نړۍوال او کورنی غبرګون ډېر پراخ، له سختو غندنو ډك او فوري وو؛ د ملګرو ملتونو سر منشي، چین، جرمني، فرانسه، برتانیا، هسپانیه، ترکیه، سعودي عربستان، ایران، مصر، اردن، قطر، استرالیا، کانادا، فنلنډ او نورو هېوادونو د دې پلان سخت مخالفت کړی؛ جرمني تر دې هم وړاندې لاړ او اسرائیل ته ئې د وسلې صادرات وځنډول؛ په کور دننه غبرګون هم پراخ وو؛ د اسیرانو د کورنیو له لوري هم او د اپوزیسیون مشرانو، پخوانیو امنیتي مسئولینو، د پوځ لوړ پوړو افسرانو، د فوځ IDF مشر ایال زامیر په شمول؛ او نورو هم د دې پلان مخالفت کړی او پایلې ئې له خطرونو ډکې ګڼلې؛ ویلی شو چې د نتنیاهو د پلان خلاف نړۍوال پراخ او فوري غبرګون او جدي غندنه او جدي کورنی مخالفت؛ د نړۍوالې شبه اجماع بڼه غوره کړې؛ دا ځکه چې له څو معدودو یهودپالو هېوادونو او تنظیمونو پرته د نړۍ غوڅ اکثریت هېوادونو، نړۍوالو ادارو او تنظیمونو او حتی ډېرو لوېدیځ والو متحدینو ئې د دې پرېکړې مخالفت او غندنه کړې. یوازې د تل ابیب ستر حامي او ګډویلوونکی هېواد امریکا پاته ده چې لا ئې په صریح الفاظو د پلان په رد او حمایت کې څه نه دي ویلي؛ د دې مبهم او ځنډمن دریځ په اړه دوه تعبیرونه مخې ته راځي: ۱- سپینه ماڼۍ له پلان او تفصیلاتو ئې په بشپړ ډول خبره ده؛ نتنیاهو نه په خپل سر او د امریکا له اجازې پرته داسې تصمیم نیولی شي او نه دا جسارت کولی شي؛ د اوربند معاهده ئې هم د سپینې ماڼۍ

په امر وه او د معاهدې نقض ئې هم؛ او د غزې د نیولو په اړه اوسنۍ پرېکړه ئې هم؛ دا هیڅ عقل او منطق نه شي منلی چې د غزې ښار نیولو ستره پرېکړه دي نتنیاهو د سپیني ماڼۍ له موافقې پرته کړې وي؛ که څه هم ټرمپ د خبریال په ځواب کې ویلي وو: د نتنیاهو له پلان او تفصیلاتو ئې خبر نه یم؛ خو دا په بشپړه توګه په اسرائیل پورې مربوط تصمیم دئ!! ۲- نور بیا د ټرمپ همدا وینا داسې تعبیروي چې نتنیاهو ته ئې سپین چك ورکړی او د مطبوعاتو له لارې ئې د ده له تصمیم سره خپله موافقه څرګنده کړې. د ټرمپ دې موقف له ډېرو سره دا اندېښنه راولاړه کړې چې هغه غواړي اسرائیلي ځواکونه غزه ونیسي، فلسطینیان وباسي او بیا ئې امریکا ته وسپاري چې د سیاحت ښکلی ساحل ترې جوړ کړي؛ ده له ډېر وړاندې له مصر او اردن غوښتي وو چې فلسطینیانو ته په خپلو هېوادونو کې ځای ورکړي!! خو هغوی موافقه ونه کړه؛ اوس هم قاهرې اعلان کړی چې نه غواړي مصر د فلسطینیانو د وتلو مسیر شي. مصري واکمن پوهېږي چې دا د یوې خطرناکې امریکا- اسرائیل توطئې برخه ده.

همدا راز ما ته د نتنیاهو وضعیت داسې برېښي لکه چې د پاڼ او پړانګ تر منځ وي؛ که شا ته ځي په کندې کې غورځي او که مخکې ځي پړانك ئې خوري؛ که اوربند ومني، جګړه پای ته ورسوي او ځواکونه له غزې وباسي؛ له سخت سپېره برخلیك سره مخ کېږي؛ نه یوازې د فساد دوسیه ورته انتظار کوي؛ بلکې د ناکام خونړي برید په سبب محاکمه هم ورته منتظره ده؛ ده ته په اوسني بد حالت کې هم له شرم ډک وتل ځان وژنه برېښي او هم د ټولې نړۍ له جدي او توند مخالفت سره سره د ناکام جنګ دوام؛ هغه به خپل ټول زور کاروي، د زخمي مار په څېر به هرې خوا ته خوله اچوي او په هره بیه او له هرې لارې چې کېدی شي؛ له دې بد حالت د ځان ایستلو هڅه به کوي؛ له ځان ژغورنې پرته بل هیڅ څه ورته ارزښت نه لري.

حماس د اسرائیلي امنیتي کابینې د پرېکړې په ځواب بیان کې ویلي:

د صهیونیستي کابینې له لوري د غزې ښار د نیولو او د هستوگنو د ایستلو پرېکړه؛ یو بل جنگي جنایت دئ چي اشغالگر ځواکونه غواړي د دې ښار او د یو میلیون ښاریانو په اړه ئې ترسره کړي؛ دا توطئه به یقیناً اشغالگرانو ته په گرانه بیه تمامه شي؛ د اسرائیل د ټولو جنایاتو مسئولیت د امریکا پر غاړه دئ.

د سیمي هېوادونه دا اندېښنه لري چي که د امریکا- اسرائیل دا منصوبه عملي شي نو له اسرائیل به داسي بد معاش او بې مهاره ځواك جوړ شي چي د سیمي هیڅ هېواد به ترې خوندي نه وي؛ ترکیه سره له دې چي د ناټو غړی محسوبېږي او له اسرائیل سره تجارتي اړیکي لري؛ خو د نتنیاهو د دې منصوبې په غبرگون کي اردوغان ویلي: هغه ژئوپلیتیک خطرات او گواښونه درك کوو چي د غزي له نسل وژني پیل شول؛ ورپسې پر لبنان، یمن، ایران او سوریې د اسرائیل په بریدونو سره مزید تشدید شول. د اسلامي هېوادو د ببړنۍ غونډي غوښتنه ئې کړې. یعني انقره داسي انگېري چي د صهیونستانو له شرارتونو؛ نه ترکیه خوندي ده او نه د سیمي نور هېوادونه.

خو مصر په همدې حساس پړاو کي؛ د جولای په ۲۵ د امریکا له خارجه وزارت د NASAMS مخکي تللي هوایي دفاع سیستم د پېرلو موافقه ترلاسه کړه؛ چي ارزښت ئې شاوخوا ۴.۶۷ میلیارده ډالر دئ؛ واضح ده چي دا معامله د مصر د هوایي دفاع وړتیا او ظرفیت لوړوي؛ آیا دا مصر ته یوه ډالۍ ده او که د مصر له مجبوریتونو استفاده؟! همغسي لکه چي په همدې شرائطو کي امریکا د خلیج له دریو هېوادونو قطر، امارات او سعودي د وسلو پېرلو تړونونه ترلاسه کړل. حقیقت دا دئ: تر هغه چي امریکا د صهیونست رژیم مرسته کوي، پر سیمي د هغه برلاسي غواړي، د مظلومو فلسطینیانو خلاف جنگ کي د تل ابیب بې قید او شرط حامي او مرستندوی دئ؛ د امریکا په وسلو او د صهیونستانو په لاس وژل کېږي؛ د سیمي اسلامي هېوادو ته له امریکا سره نظامي اړیکي او امریکایي وسلې پېرل نه یوازي معقول او مفید نه

دي بلکې په یقیني ډول مضر دي.

له امریکا سره د وسلو د پېرلو معاهده؛ مصر ته د دې په بدل کې کومه ډالۍ نه وه چې د غزې په تړاو ئې ډېر څه د امریکا د راضي ساتلو په موخه وکړل؛ د مظلومو فلسطینیانو د ژغورنې لپاره ئې د ډېر څه کولو امکانات او فرصتونه درلودل؛ خو د امریکا لپار ئې ډېده ترې وکړه؛ د غزې د محاصرې په ماتولو کې ئې نه یوازې هیڅ اقدام ونه کړ؛ بلکې په دې محاصرې کې شریک وو. د امریکایي وسلو پېرلو معاهده به بادئ الرأی کسانو ته یوه ډالۍ برېښي؛ خو په حقیقت کې د وسلې پلورونکې ته امتیاز ورکول دي؛ د هر څه پلورونکی تل د خپلې متاع مشتري او پېرېدونکو ته ضرورت لري؛ هڅه کوي خپل مشتریان زیات کړي؛ کله په غولوونکو او جالبو اعلاناتو سره او کله د انحصار له لارې؛ او د وسلو شرکتونه خو په نورو هېوادونو کې د دې لپاره د جنګونو اورونه بلوي چې د خپلو وسلو مارکیټ ترې جوړ کړي؛ عجیبه ده که څوك په مصر یا نورو هېوادو د وسلو پلور ته د احسان او ډالۍ په سترګه وګوري!! هند د چین خلاف د امریکا ستراتیژیك ملګری پاته شوی؛ تل ئې تر پاکستان ترجیح ورکړې؛ په دې وروستیو کې له دې کبله ترې ناراض او غصه شوې چې له روسیې تېل پېري؛ ترې وئې وغوښتل چې دا لړۍ بنده کړي؛ خو هند ونه منله؛ امریکا په غبرګون کې د هند پر وارداتو ۵۰ سلنه ګمرکي تعرفه وضع کړه او په مقابل کې ئې هند د امریکایي وسلو د پېرلو معاهده وځنډوله؛ او د دې معنی دا ده چې د وسلو پېر پلور معامله د پلورونکي لپاره امتیاز دئ نه د پېرونکي لپاره. همغسي چې سودي قرضه د سود اخستونکي په ګټه ده نه له پوروړي سره احسان؛ ستر ستر نړیوال بانکونه او مالي ادارې رامنځته شوې چې هېوادونو ته سودي قرضې ورکوي؛ تر ډول ډول غولوونکو نومونو لاندې؛ لکه د یوه هېواد انکشاف، له مالي بحران ایستل، له فقر او لوږې ژغورل او ... خو دا هسې غولوونکې شعارونه او تجارتي اعلانات دي؛ دا بانکونه او مالي ادارې د خپلو ګټو په لټه کې دي نه له بحران ځپلو سره د خدایي او بې غرضو مرستو په لټه

کې؛ IMF یوه له دغو ادارو ده؛ د پور ورکولو ظرفیت ئې شاوخوا ۹۳۲$ میلیارد ډالر دئ؛ کلنۍ سودي ګټه ئې په ۲۰۲۵ کې ۳,٤ میلیارد ډالر وه؛ پورونو ئې ځیني بحران ځپلي هېوادونه او حکومتونه په ظاهر کې او موقتاً له ستونزو ژغورلي؛ خو تل ئې د ولسونو ملا ماته کړې؛ او مزید ستونزي ئې ورته زېږولې؛ IMF پر پور اخستونکو حکومتونو د خپلې خوښې شرائط وضع کوي؛ شرطونه ئې اکثراً د خلکو په زیان او د لا زیاتو مالیو او ټکسونو ورکول وي؛ له واکمنو غواړي چې خپل مالي او مالیاتي سیستم څنګه عیار کړي او له ولسونو په کومو کومو برخو کې څومره څومره مالیات او ټکسونه واخلي؛ مثلاً که حکومت د سړکونو جوړولو په برخه کې پانګونه کوي نو دا شرط وضع کوي چې په هرو څو کیلومترو کې باید له ګاډو د ټکس اخستلو لپاره ټمځایونه جوړ کړي؛ هر څوك پوهېږي چې د ټکس اصلي ادا کوونکي عام وګړي دي؛ که د دې ټکسونو له کبله کرایه لوړېږي او که د اجناسو بیه؛ فشار ئې پر ولس راځي؛ حکومت پیسو ته ضرورت لري که په هرو شرائطو وي؛ او IMF ګټه غواړي که له هر چا وي؛ نه حکومتونه د ولس په غم کې دي او نه IMF د ولسونو پروا لري. د IMF د سود شرحه د زیات وخت په تېرېدو سره زیاتېږي؛ دوی اکثراً هغو ناکامو حکومتونو ته پور ورکوي چې په خپل وخت پور نه شي ادا کولی؛ کوم هېواد چې د همداسې ناکام او په فساد کې غرق حکومت په سبب د IMF په دام کې نښتی؛ هیڅ کله نه دئ ترې وتلی او اقتصادي ستونزي ئې نه دي حل شوې. له استعماري هېوادو وسلې پېرل تر دې هم زیاتې بدې پایلې لري، دا وسلې هر کال ترمیم، پرزې او مهمات ایجابوي، له خپل اړوند شرکت پرته ئې بل څوك نه شي ورکولی، پلورونکي هېوادونه تر وسلو زیات د هغوی د ترمیم او مهماتو پلورلو له لارې زیاته ګټه ترلاسه کوي؛ تر ټولو بده ئې دا چې له پېرونکي دا ژمنه ترلاسه کوي چې د وسلو د کارولو په اړه د تولیدوونکي رضایت او بهرني سیاستونه په پام کې ولري؛ د امریکا وسلې د امریکا د دوستانو خلاف نه شي کارولی.

د اسلام په اقتصادي نظام کې؛ پر ربا (سود) ولاړه هره معامله مطلقاً حرامه ده، همدا راز د اسلام او مسلمانانو له محارب دښمن سره موالات حرام دي؛ موالات هغه تړون ته وايي چې کمزوری ئې له برلاسي او ځواکمن سره کوي او يو له بل دفاع ئې اصلي محور وي. غیر مشروط پېر پلور په هغه صورت کې جائز دئ چې د بل مسلمان خلاف نه وي.

## د مظلوم او مقهور مسلمان په وړاندې د مسلمانانو ديني وجائب

د اسلام له نظره د نړۍ ټول مسلمانان د يوه امت او ملت غړي دي، دوست او دښمن ئې ګډ دئ، يو له بل په دفاع مکلف دي، دا دفاع داسې ديني او الهي وجيبه ده چې الله تعالی د قرآن په صريح او قاطع حکم سره پرې ګمارلي (... وَإِنِ ٱسۡتَنصَرُوكُمۡ فِي ٱلدِّينِ فَعَلَيۡكُمُ ٱلنَّصۡرُ.... الانفال۷: ...او که په دين کې له تاسو مرسته وغواړي نو دا مرسته پر تاسو فرض ده...)، (...إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ إِخۡوَةٞ... الحجرات ۱۰: ... يقيناً چې مؤمنان په خپلو کې سره ورونه دي...)، (...وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ ... التوبة ۷۱: او نارينه او ښځينه مؤمنان يو د بل اولياء (دوستان او حاميان) دي....)؛ که د نړۍ په هر ګوټ کې پر مسلمانانو ظلم او تېری کېږي او هغوی د نورو مسلمانانو مرستې ته اړ وي؛ پر ټول امت ئې مرسته فرض ده؛ هم پر افرادو او هم پر ډلو او حکومتونو؛ د جومات خطيب او امام، ليکوال، سياستوال، شتمن، تاجر، مجاهد، عسکر او افسر... پر هر يوه د خپل توان او طاقت مطابق مرسته فرض ده؛ کله داسې حالت راتلی شي چې دا الهي فريضه نارينه او ښځينه دواړه احتواء کوي؛ د دې فريضې په ادا کولو کې د اهمال او بې اعتنائي پايله دومره وخيمه ده چې الله تعالی به ئې سزا په همدې دنيا کې ورکوي او داسې حالت به پرې راولي چې د بل مرستې ته به اړ وي خو نه به ئې الله تعالی مرسته کوي او نه هيڅ مسلمان. افغانانو دا الهي ثابت او نه بدلېدونکی سنت په خپلو سترګو وليد؛ هغه هېوادونه چې د افغانستان په اشغال کې ئې د شوروي او امريکا مرسته کړې وه؛ ځينو ته د شوروي

په لاس دردناکه سزا ورکړی شوه او ځینو ته د امریکا په لاس؛ ژوندۍ بېلګي ئې زموږ د سترګو مخي ته تېري شوې.

څوك چي غواړي د غزې د سرلوړو او مقاومو مجاهدینو په اړه څه ووايي، وضعیت وڅېړي، د نښتو د پیل عواملو او نتائجو په ارتباط قضاوت وکړي، مجاهدینو ته توصیې او سپارښتني وړاندي کړي او د دوی په وړاندي د امت مسئولیتونه توضیح کړي؛ نو لومړی باید د دې خونړۍ او زړې قضیې د ټولو سیاسي، اجتماعي او تاریخي ابعادو په اړه جامع او دقیق معلومات ترلاسه کړي؛ په دې ځان پوه کړي چي دا لانجه کله او د چا په لاس او د کومو موخو لپاره پیل شوې؛ متجاوز څوك دئ او مدافع څوك؛ چا د بل کور او زمکه اشغال کړې او څوك له خپلي مېني او کلي ایستل شوی؛ که فتوی ورکوي یا مجاهدینو ته کومه توصیه او سپارښتنه کوي؛ باید وګوري چي د فتوی ورکولو وړتیا او اهلیت لري که نه؛ له قرآن، حدیث، د صحابه وو منهج او له اسلامي تاریخ دومره پوهه لري چي د سالم او رغنده قضاوت او صحیح فتوی لپاره ضروري دي. متأسفانه اوس داسي مفتیان، لیکوال او سیاستوال مومو چي غلطي او د حقیقت خلاف تبصرې او قضاوتونه کوي، ناسمي سپارښتني کوي، غلطي فتوی ګاني خپروي او داسي څه وايي چي د دښمنانو تبصرو او تحلیلونو ته ورته او د هغوی په ګټه وي؛ صهیونستان او حامیان ئې هڅه کوي د غزې پېښي داسي انځور کړي چي ګواکي تل ابیب له ځان دفاع ته اړ شوی او د غزې مجاهدینو دا جنګ پرې تحمیل کړی؛ په داسي حال کي چي دا په بشپړه توګه شکرور دروغ او سل سلنه د حقیقت خلاف ادعاء ده؛ دا جنګ د اکتوبر په ۷ مه نه دئ پیل شوی؛ د صهیونستي رژیم د تأسیس له ورځي؛ ۷۷ کاله وړاندي په ۱۹۴۸م کال کي پیل شوی؛ همغه مهال چي فلسطین د انګرېزانو تر اشغال لاندي وو؛ او دوی صهیونستان د دنیا له ګوټ ګوټ راوستل او په زور ئې فلسطین کي مستقر کړل، ورو ورو ئې د هېواد پراخه برخه د هغوی په واك کي ورکړه؛ او د فلسطینیانو خلاف جنګونو کي ئې تل د غاصبو صهیونستانو مرسته وکړه؛ تفصیل ئې

په دې کتاب کې لوستلی شئ.

فلسطین او مظلوم ولس ئې د اسلامي امت له پرهرونو ډك زړه دئ؛ مظلومیت ئې دومره جوت دئ چې د نړۍ ټول شریف، آزاد، عدالت غوښتونکي او د انساني ضمیر خاوندان د هغوی پر درد دردمن دي او له عادلانه داعیې ئې کلکه دفاع کوي؛ د دوی په حمایت کې د نړۍ په ټولو سترو ښارونو کې؛ د غربي هېوادونو د پلازمېنو په شمول؛ دومره ستر ستر او پر له پسې تظاهرات وشول چې په ټول تاریخ کې ئې بېلګه نه شو موندلی؛ عجیبه ده چې په اسلامي امت کې داسي د مړه ضمیر او بې احساس وجدان خاوندان لیدل کېږي چې د فلسطینیانو او د دوی په درد دردمنو؛ پر زخمي زړونو مالګي شیندي؛ د دې پر ځای چې د وحشي صهیونستانو او د دوی د بې رحمو حامیانو جنایات وغندي او وئې غندي؛ د غزې مجاهدینو د خواخوږي ناصح او مفتي په جامه کې راڅرګندېږي او وایي: فلسطینیانو او ټولو مسلمانانو ته په کار ده چې له صهیونستانو سره؛ تر هغه له تصادم او نښتو ډډه وکړي، د صبر او انتظار لار غوره کړي؛ چې الله تعالی پخپله وضعیت بدل کړي او د مسلمانانو او صهیونستانو تر منځ د نظامي ځواك او وسلو له پلوه توازن رامنځته شي؛ د دې ناسمي او غلطي رأی په تأیید کې داسي کمزوري او د دین او عقل خلاف دلائل وړاندي کوي چې یوازي یو غرضي انسان ئې د وړاندي کولو جسارت کولی شي؛ د دوی ډېری هغه دي چې د تل ابیب د حامیانو په پتو او څرګندو دوستانو پوري تړلي دي، د هغو حکومتونو په خدمت کې لیکوال او مفتیان چې د غزې مجاهدینو له بریا وېرېږي او د اسرائیل برلاسي ته ترجیح ورکوي؛ همغه چې په خپلو هېوادونو کې د فکري او سیاسي اسلامپالو خوځښتونو شتون ته د ګواښ په سترګه ګوري؛ د ځپلو لپاره ئې له هیڅ څه دریغ نه کوي، له نیونو او زنداني کولو نیولې تر ترورونو او اعدامونو پوري؛ د غزې او د نړۍ په هر ګوټ کې د هر انقلابي اسلامي خوځښت بریا؛ داسي ورته برېښي لکه یو ستر ګواښ او د خطر زنګ.

غزې خلك په دريو صفونو ووېشل: د ايمان، كفر او نفاق صفونه؛ چي په حقيقت كي دوه دي: ايمان او كفر؛ حق او باطل؛ درېيم ئې د قرآن په وينا:

إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَهُوَ خَٰدِعُهُمْ وَإِذَا قَامُوٓاْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ قَامُواْ كُسَالَىٰ يُرَآءُونَ ٱلنَّاسَ وَلَا يَذْكُرُونَ ٱللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٤٢﴾ مُّذَبْذَبِينَ بَيْنَ ذَٰلِكَ لَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ وَلَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ ۚ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ سَبِيلًا ﴿١٤٣﴾ النساء

بې شكه چي منافقين له الله سره خدعه كوي او هغه ئې هم په خدعه كي اچوونكی دئ او كله چي لمانځه ته پاڅي نو لټ پاڅي، خلكو ته ځان ښودنه كوي او الله نه يادوي مگر ډېر لږ. په همدې كي مذبذب او متردد، نه د دغو په لوري دي او نه د هغو په لوري؛ او الله چي څوك بې لاري كړي هيڅ لار به ورته ونه مومې.

دلته د منافق لاندي خصلتونه په گوته شوي:

- له الله سره خدعه كوي، د خپل نفاق او ناوړه عملونو لپاره داسي توجيهات برابروي چي هغه جائز ثابت كړي.
- په لمانځه كي لټ وي او د خپلو ديني وجائبو په ترسره كولو كي سستي كوي.
- رياكار وي، هر كار ئې نورو ته د ځان ښودني لپاره وي، هيڅ عمل ئې د عقيدې او ايمان په حكم نه وي.
- له الله سره ئې اړيكي سستي وي، ډېر لږ ئې يادوي، هم ئې په ژبه لږ يادوي او هم په خپلو تبصرو او تحليلونو كي لږ د ده نوم په خوله اخلي او هم په خپلو تصميمونو كي ډېر كم پر الله حساب كوي.
- له فكري پلوه هم د ايمان او كفر تر منځ په شك، تردد او تذبذب كي غرق او لالهانده او له عملي پلوه هم د مؤمنانو او كافرانو تر منځ د يوه لوري له انتخاب عاجز او د دواړو تر منځ چورلېدونكی، له دواړو سره

پټې خو سستې اړیکې؛ نن شپه د یوه په خوا کې او سبا شپه د بل؛ په همدې کې مذبذب او متردد، په حقیقت کې نه د یوه لوري وي او نه د بل؛ د خپل غرض بنده وي؛ د خپلو پرېوتو اغراضو لپاره د هر چا پښو ته لوېږي.

- دا منافقین دي، له الهي هدایت محروم، داسې محروم چې د هدایت ټولې دروازې پرې تړل شوې، هیڅوک په هیڅ توګه نه شي کولی دوی ته د هدایت رغنده لار ومومي.

دې ته باید متوجه وئ چې له دې آیت او دې ته ورته آیتونو یوازې د بل د تللو او د هغه په اړه د قضاوت لپاره استفاده ونه کړئ، بلکې تر دې وړاندې خپل ځان د هغه په هینداره کې وګورئ، پخپله باید له نفاق وېره ولرو او ځان ترې وساتو.

صفونه څرګند دي؛ وګوره چېرې ولاړ یې او د کوم صف د غړو په څېر یې؟ وینا دې چا ته ورته ده او دریځ دې چا ته؟ له چا کرکه لرې او له چا سره دې خواخوږي ده؟ د چا موقف او تګلاره دې خوښېږي او د چا دریځ او تګلاره نه خوښوې؟ منافقینو ته وایو: ځان او د ځان په څېر خلك غولولی شئ خو نه الله تعالی غولولی شئ او نه د ایمان خاوندان؛ (يُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَمَا يَخۡدَعُونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمۡ وَمَا يَشۡعُرُونَ. البقره ۹) له الله او مؤمنانو سره خدعه کوي خو له ځان پرته بل څوك نه شي غولولی؛ خو شعور نه لري.

هغه چې په فلسطین کې د روان جنګ مسئولیت د غزې مجاهدینو ته راجع کوي او په اړه ئې دا رأی لري یا تبلیغوي چې ګواکې جنګ د دوی له لوري پیل شوی؛ نه د اسرائیلو له لوري؛ ګمان مه کوئ چې دوی له حقائقو خبر نه دي؛ نه؛ بلکې عمداً دروغ وایي؟ دا د دوی آزاد قضاوت نه دئ؛ یوه دنده او مأموریت دئ؛ د خدای لپاره او د ایمان په حکم دا خبره نه کوي؛ د اجورې لپاره ئې کوي؟ که د غزې د جنګ په پیل کې د داعش ویاند د حماس په خلاف د جنګ اعلان وکړ؛ که د سلفیانو په نامه یوې ډلې د دې پر ځای چې د اسرائیل هغه وحشتونه او جنایات وغندي

چي په بشري تاريخ کې ئې مثال نه شو موندلی؛ د غزې مجاهدين او د دوی مقاومت غندي؛ او که بل هر څوك؛ د وينا او دريځ له مخي دريیم صف او ټولي ته ورته وي؛ نو هغوی منافقين او ﴿مُّذَبۡذَبِينَ بَيۡنَ ذَٰلِكَ لَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ وَلَآ إِلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ﴾ دي.

حقيقت دا دئ چي (غزه او پېښي ئې) يو ستر الهي آزمېښت دئ؛ مؤمن او منافق، صادق او کاذب ئې سره بيل کړل؛ د ډېرو پټ مخو ملمع نقابونه ئې څيري او ماهيت ئې بربنډ کړ؛ د دې لارښود آيت د وينا مطابق:

﴿أَحَسِبَ ٱلنَّاسُ أَن يُتۡرَكُوٓاْ أَن يَقُولُوٓاْ ءَامَنَّا وَهُمۡ لَا يُفۡتَنُونَ۝٢ وَلَقَدۡ فَتَنَّا ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۖ فَلَيَعۡلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ وَلَيَعۡلَمَنَّ ٱلۡكَٰذِبِينَ۝٣﴾ العنكبوت

۲- آيا خلکو داسي انگېرلې چي کله ووايي ايمان مو راوړی؛ نو دوی به پرېښودی شي او وبه نه آزمويل شي؟! ۳- حال دا چي يقيناً موږ هغه وآزمويل چي تر دوی وړاندي ول، نو الله به هرو مرو هغه معلوم کړي چي رښتيني دي او حتماً به دروغجن معلوم کړي.

## غلطي فتوی گاني او ناسم تحليلونه

راشئ د هغو فتوی او دلائل هم وڅېړو چي د غزې مجاهدينو د تأييد او حمايت پر ځای د دوی د تگلاري او موقف په اړه شکوك او شبهات رامنځته کوي؛ خو په داسي صيغه او الفاظو چي ښيي د خواخوږي او زړه سوي له مخي اعتراض کوي؛ نه د بد نيتۍ له مخي؛ ځيني ئې وايي: مجاهدين کمزوري دي او صهيونستان ځواکمن او تر شا ئې د امريکا په څېر ستر ځواك؛ په کار ده تر هغه صبر وکړي چي الله تعالی پخپله وضعيت بدل کړي... په داسي حال کې چي دا وينا او فتوی څو اساسي عيبونه لري:

- د قرآن د دې څرگندي لارښووني خلاف ده چي وايي:

... وَلَوۡلَا دَفۡعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعۡضَهُم بِبَعۡضٍ لَّفَسَدَتِ ٱلۡأَرۡضُ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ ذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ۝٢٥١ البقرة

... او كه د الله دا د خلكو ځيني په ځينو نورو دفع كولو (سنت) نه وى؛ نو زمكه به تباه شوې وه؛ خو الله پر نړۍوالو د فضل خاوند دئ.

له دې آيت څو خبري په ډېر وضاحت سره معلومېږي: له تباهۍ د زمكي د مصون ساتلو يوازينۍ لار دا ده چي د مؤمنانو د صالح ډلي په لاس د كافرانو د فاسدي ډلي مخنيوى وشي، الله تعالى د دوى په ذريعه د هغوى شر دفع كوي او په دې سره زمكه له تباهۍ ژغوري. د دغه الهي سنت مطابق به تل د مؤمنانو يوه مجاهده ډله راپيدا كېږي، د مفسدو ځواكونو مقابله به كوي او الله تعالى به هغوى ته د شر او فساد پر ځواكونو غلبه وركوي. دا الهي سنت په بل آيت كي په دې صيغه بيان شوى:

... وَلَوۡلَا دَفۡعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعۡضَهُم بِبَعۡضٍ لَّهُدِّمَتۡ صَوَٰمِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَٰتٌ وَمَسَٰجِدُ يُذۡكَرُ فِيهَا ٱسۡمُ ٱللَّهِ كَثِيرٗاۗ وَلَيَنصُرَنَّ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ۝٤٠ الحج

... او كه د خلكو ځيني په ځينو نورو سره د دفع كولو الهي سنت نه وى نو حتماً به صوامع (د رهبانانو عبادت ځايونه)، بيع (د نصرانيانو معبدونه)، صلوات (د يهودو معبدونه) او مساجد (د مسلمانانو جوماتونه) چي د الله نوم په كي زيات زيات يادېږي ټول وران شوي وو؛ او الله به هرو مرو هغو ته نصرت وركوي چي د ده ملتيا كوي، يقيناً چي الله عزتمن ځواكمن دئ.

نو په انساني ټولني كي د مثبت تغيير الهي سنت دا دئ چي الله تعالى پخپله او په خارق العاده ډول؛ د خلكو وضعيت نه بدلوي؛ بلكي د الله تعالى ثابت، دائمي او نه بدلېدونكى سنت دا دئ چي د خلكو د يوې ډلي ظلم او تېرى د بلي په لاس دفع كوي، مظلومانو ته دا اجازه او توفيق

وركوي چي د ظالمانو او تېري كوونكو طغيان د دوی په لاس دفع كړي او د ظلم ټغر ټول كړي. كه دا الهي سنت نه وئ نو حتماً به ټول هغه معبدونه وران شوي وو چي د الله تعالی نوم په كي يادېږي، كه دا له خلكو لري په غرونو او ځنګلو كي د رهبانانو عبادت ځايونه دي، كه د يهودو او نصرانيانو معبدونه دي او كه د مسلمانانو جوماتونه؛ د دې الهي لارښووني معنی دا ده چي كوم ولسونه ظالمانو ته تسليم شي، له خپلو حقوقو د دفاع لپاره د ظالمانو په خلاف د مقاومت لار غوره نه كړي، له خپلو انساني حقوقو او ديني اقدارو دفاع ونه كړي، د ظالمانو مخي ته ونه درېږي، د زور په ضد زور او د وسلې په خلاف وسله ونه كاروي؛ نو نه يوازي دا چي خپل حقوق به ترلاسه نه كړي بلكي معبدونه او جوماتونه به ئې هم وران شي.

دا آيت په پرېكنده توګه اعلان كوي چي له ديني شعائرو او مقدسو ځايونو الله تعالی په دې توګه دفاع كوي چي يوه ډله په بلي ډلي دفع كوي، د خدای پالونكو په لاس هغه خلك دفع كوي چي غواړي عبادت ځايونه وران كړي، كله چي له شعائرو د دفاع لپاره خدای پالونكي ملا وتړي نو الله تعالی ئې مرسته كوي او په دين دښمنه ځواكونو برلاسی وركوي، كه دا الهي سنت نه وی نو د عبادت ټول مخكيني او اوسني ځايونه به وران شوي وو!! د دې معنی دا ده چي الله تعالی په خارق العاده توګه د خلكو له انساني حقوقو، ديني ارزښتونو، مقدساتو او عبادت ځايونو دفاع نه كوي، له انسانانو پرته ئې په خپلو نورو لښكرو نه ساتي، په انسانانو ئې هم يوازي هلته ساتي چي دوی ئې ساتني ته ملا وتړي. تر هغه چي د الهي نصرت لپاره شايسته او وړ خلك راپيدا نه شي؛ الله تعالی خپل نصرت او تائيد نه نازلوي. كه داسي نه وی نو كعبه به په طبيعي پېښو كي نه ورانېده او په داخلي جګړو كي به تاوان نه وررسېدو او صهيونستان به پر فلسطين او بيت المقدس داسي نه مسلط كېدل چي په ميليونونو فلسطيني مسلمانان له خپلو مېنو هجرت ته اړ كړي.

قرآن موږ ته د الله تعالی هغه ثابت او نه بدلېدونکی سنت بیانوي چې د انسانانو د حالت بدلولو په ارتباط ئې لري؛ فرمایي:

... إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنفُسِهِمْۗ وَإِذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِقَوْمٍ سُوٓءًا فَلَا مَرَدَّ لَهُۥۚ وَمَا لَهُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَالٍ ﴿١١﴾ الرعد

... یقیناً چې الله هغه څه نه بدلوي چې د یوه قوم په برخه شوي تر هغه چې دوی خپل ځاني حالت بدل کړي؛ او کله چې الله د کوم ولس په اړه د مصیبت اراده وکړي نو هیڅ ستنېدا ئې نه شته او له ده پرته هیڅ مرستندوی نه لري.

دلته څو مهمي لارښووني زموږ مخي ته څلیږي:

- له بنده سره د الله تعالی معامله داسي ده چې حالت ئې یوازي هغه مهال بدلوي چې هغه خپل ځاني حالت بدل کړي، له خپلو نعمتونو ئې هغه مهال محروموي چې د نعمتونو ضروري وړتیا او استحقاق له لاسه ورکړي، له مصیبتونو ئې هغه مهال ژغوري چې اړوند وړتیا په ځان کې پیدا کړي.
- کله چې الله تعالی د کوم ولس په اړه د مصیبت اراده وکړي نه ئې څوك څنډولی شي او نه ئې ټولی او ستنولی.
- له الله تعالی پرته هیڅ مرستندوی نه شي موندلی.

آیا عجیبه نه ده چې د داسي څرګندو الهي لارښوونو په شتون کې څوك ووایي: صبر او انتظار وکړئ چې الله تعالی پخپله حالت بدل کړي؟ په داسي حال کې چې الله تعالی موږ ته مکرر او په واضح ډول ویلي: زه مو تر هغه حالت نه بدلوم چې تاسو پخپله د تغییر او بدلون لپاره لاس په کار نه شئ؟ د الله تعالی د دې صریح وینا په وړاندې به د ناپوه او غرضي مفتیانو غلطه او د الهي لارښوونو خلاف فتوی څه ارزښت لري؟!

رسول الله صلی الله علیه وسلم د همدې الهي لارښوونو په رڼا کې فرمایي:

عَنْ جَابِرٍ بن عبدِ الله: سَمِعتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يقولُ: «لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي يُقَاتِلُونَ عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِينَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ». رواه مسلم

له جابر بن عبد الله روایت دئ: له رسول الله صلی الله علیه و سلم مې واورېدل چې ویل ئې: تل به زما د امت یوه ډله داسې وي چې په حق سره به جنګېږي؛ برلاسي به وي؛ د قیامت تر ورځې.

عَنْ ثَوْبَانَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي ظَاهِرِينَ عَلَى الْحَقِّ، لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ، حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللهِ وَهُمْ كَذَلِكَ» رواه البخاری و مسلم

له ثوبان رضي الله عنه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: تل به زما د امت یوه ډله داسې وي چې په حق سره به برلاسي وي، هغه څوك به ئې نه شي زیانمنولی چې دوی یوازې پرېږدي، تر هغه چې الله تعالی خپله پرېکړه وکړي او دوی په همدې حالت کې وي.

نو دا رأی چې وايي: "فلسطینیان او ټول اسلامي امت باید تر هغه له غاصب صهیونست رژیم سره له وسله وال تصادم، مزاحمت او جهاد ډډه وکړي چې الله تعالی پخپله اوسنی عالمي نظام بدل کړي او مسلمانان د نظامي تجهیزاتو له پلوه د هغه سیال شي!!" دا رأی هم د تاریخي واقعیتونو، عقلي معیارونو او نظامي اصولو خلاف ده او هم د قرآني لارښوونو خلاف؛ دوی او ټولو هغو ته چې د وسله وال جهاد پیل؛ د دواړو لوریو تر منځ د ځواك او جنګي تجهیزاتو په توازن پورې مشروطوي؛ وایو:

قرآن له هغه دښمن سره چې شمېر او وسائل ئې د مسلمانانو په پرتله په یوه حالت کې لس برابره او په بل حالت کې دوه برابره وي؛ نه یوازې د مقابلې سپارښتنه او امر کوي بلکې دوی ته د بریا زېری ورکوي؛

آیا دغو ښاغلیو دا آیتونه لوستلي؟

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ حَرِّضِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ عَلَى ٱلۡقِتَالِۚ إِن يَكُن مِّنكُمۡ عِشۡرُونَ صَٰبِرُونَ يَغۡلِبُواْ مِاْئَتَيۡنِۚ وَإِن يَكُن مِّنكُم مِّاْئَةٞ يَغۡلِبُوٓاْ أَلۡفٗا مِّنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا يَفۡقَهُونَ ۝٦٥ ٱلۡـَٰٔنَ خَفَّفَ ٱللَّهُ عَنكُمۡ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمۡ ضَعۡفٗاۚ فَإِن يَكُن مِّنكُم مِّاْئَةٞ صَابِرَةٞ يَغۡلِبُواْ مِاْئَتَيۡنِۚ وَإِن يَكُن مِّنكُمۡ أَلۡفٞ يَغۡلِبُوٓاْ أَلۡفَيۡنِ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ مَعَ ٱلصَّـٰبِرِينَ ۝٦٦ الأنفال

٦٥- اې پیغمبره! مؤمنان جګړې ته وهڅوه، که ستاسو شل صبر کوونکي وي نو پر دوو سوو به غالب شي او که ستاسو سل وي نو پر زرو کافرانو به غالب شي، دا ځکه چې هغوی نه پوهېږي. ٦٦- اوس الله له تاسو (د پېټي) سپکونه وکړه او ورته معلومه شوه چې په تاسو کې څه کمزوري شته، نو که له تاسو سل صبر کوونکي وي پر دوو سوو به برلاسي شي او که له تاسو زر وي نو د الله په حکم سره به پر دوو زرو غالب شي او الله خو له صابرانو سره دئ.

په ٦٥ آیت کې پیغمبر علیه السلام ته څو لارښووني شوې:

- مؤمنان جنګ ته وهڅوه، ترغیب او تشویق ئې کړه، دا ښيي چې د پیغمبر علیه السلام د وارثانو، د علماءو او د اسلامي حکومت د چارواکو او مشرانو یوه اساسي دنده دا ده چې ولس به جهاد ته تشویقوي؛ څوك چې د دې څرګندي الهي لارښووني خلاف داسي اظهارات کوي چې د مجاهدینو مورال او روحیه کمزورې کړي، د دښمن له ځواك، زور او شمېر ئې وېروي؛ په حقیقت کې د قرآن خلاف رأی وړاندي کوي.
- که د مؤمنانو شمېر د کافرانو په پرتله یو د لسو په مقابل کې وي، باید ډاډه وي چې دښمن ته ماته ورکولی شي، شل صابر مجاهدین د دوو سوو کافرانو د مقابلې توان لري او سل ئې د دوی د زرو مقابله کولی شي.

- دا ځکه چې کافران له پوهې او تفقه محروم دي.

له دې آیت معلومېږي چې په جګړو کې د بري ستر او اساسي عوامل دا دي: ایمان، صبر او پوهه. یعنی څوك چې سپېڅلي اهداف لري، د خپلې تګلارې په حقانیت باور لري، جنګ ئې د ایمان او عقیدې په حکم وي، خپله لار ئې په بصیرت او پوهې سره غوره کړې، قربانۍ ته چمتو وي، صبر، ثبات او استقامت لري، تګلاره، تصمیم او جنګي اسلوب ئې عاقلانه وي؛ هغه به د شمېر او وسائلو له لړوالي سره سره پر هغه دښمن برلاسی کېږي چې که څه هم شمېر ئې د ده لس برابره دئ؛ خو نه سپېڅلي اهداف لري، نه ئې خپله تګلاره او د جګړې موخې د بصیرت له مخې ټاکلې، نه د قربانۍ جذبه لري او نه د کړاوونو او ستونزو د ګاللو لپاره صبر او زغم. نه یوازې د بدر ستره غزا د دې حقیقت لپاره یوه عملي بېلګه ده، بلکې د روسانو په ضد د افغانانو جهاد او بیا د امریکایانو په ضد د افغانانو او عراقیانو جهاد؛ د دې واضح بېلګې دي، په عراق کې د (۱۷۰۰۰۰) او په افغانستان کې تر ۱٦۰۰۰۰ زیاتو مجهزو غربي ځواکونو مقابله؛ د داسې چا له لورې روانه وه چې د دښمن د پرمختللو وسلو په مقابل کې ئې له معدود شمېر کلشنکوف، راکټ او باروت پرته نور څه په واك کې نه وو او امکانات ئې دومره لږ چې د دښمن د سلو جنګیالیو د یوې میاشتې مصارف د ټولو مجاهدینو د یوه بشپړ کال تر ټولو لګښتونو زیات وو، د دښمن د هرو سلو زرو ډالرو په مقابل کې مجاهدین تر یوه ډالر زیات مصارف نه درلودل؛ خو سره له دې مو لیدل چې دښمن له جګړې ستومانه شوی وو، اعتراف ئې کولو چې جنګیالي ئې له جګړې تنګ او ستړي شوي، خپل ولس ترې غوښتل چې له افغانستان او عراق ووځي، په مقابل کې ئې مجاهدین تر پایه په شور او شوق سره وجنګېدل، شمېر ئې ورځ په ورځ زیات شو، په خپلې حتمي بریا ئې باور وو، ډاډه او مطمئن ول چې دښمن ته ماته ورکولی شي. آیا دا د قرآن د دغې وینا مصداق نه دئ چې سل مؤمن مجاهدین د زرو کافرو جنګیالیو مقابله کولی شي؟! څنګه به یو مؤمن د خپل علیم رب د

صریح لارښوونې خلاف رأی ورکوي؟ دا نن په غزه کې د مجاهدینو داسې وړه ډله د صهیونستانو او د دوی د ځواکمنو حامیانو خلاف په مېړانې سره مقابله کوي چې دښمنان ئې د شمېر او نظامي تجهیزاتو له پلوه په سلګونو ځله ترې مخکې او قوي دي!

ښاغلو سرکاري مفتیانو! مجاهدین تر ډېرو او راکټونو لاندې او د داسې سختې محاصرې په حال کې مقاومت کوي چې ماشومان ئې له لوږې مري؛ او زخمیان او بیماران ئې د دوا درمل له نه شتون؛ سره له دې ئې نه پر الله تعالی ایمان او توکل کمزوری او کم رنګی شو، نه مأیوس شول او نه دښمن ته تسلیمېږي؛ له الله تعالی سره پر خپل عهد کلك ولاړ دي، شهادت مني او فخر پرې کوي خو ذلت او اسارت نه مني. تاسو ولې په خپلو مرفه کورونو او دفترونو کې او له سنګر ډېر لرې، د بمونو له درنو چاودنو او لوخړو خوندي خونو کې؛ مجاهدین وېروئ او د سنګر پرېښودو مشورې ورکوئ؟! چا چې په خپل ټول عمر کې یوه ورځ په سنګر کې نه وي تېره کړې؛ څه حق لري چې د جهاد او سنګر په اړه فتوی ګانې او مشورې ورکوي؟ د هرې قضیې په اړه فتوی اړوند علم او اهلیت ته ضرورت لري؛ غیر مجاهد مفتي حق نه لري د جهاد په اړه فتوی ورکړي. کوم مجاهد ده ته د فتوی لپاره مراجعه کړې؟ زموږ مخې ته خو د الله تعالی کتاب او په هغه کې د ده صریح حکم ځلېږي چې وایي: د مسلمانانو اصلي مسئولیت دا دئ چې د لس برابره کافر فوځ مقابله به کوي، خو د دوی ځیني ضعفونو ته په پام سره ئې د مسئولیت دا پېټی سپك کړی او تناسب ئې یو د دوو په مقابل کې ټاکلی، الله تعالی صبر او استقامت د بریا اصلي رمز ګڼلی او صابرانو ته ئې د خپلې ملتیا او نصرت بشارت ورکړی؛ دا آیت ښیي چې د لومړنیو او وروستنیو صحابه وو تر منځ په خپل یقین، توکل علی الله او ایماني قوت او صبر کې توپیر وو، دا توپیر به د هر اسلامي صف په لیکو کې تر سترګو کېږي، لومړني به ئې په خپل ایمان، اخلاص، توکل او د قربانۍ جذبې کې تر وروستنیو وړاندې وي.

## له غلط شوو مفتیانو څو پوښتنې

ښاغلو مفتیانو! تاسو ولې داسې څه وایئ چې له قرآن سره څرګند مخالفت دئ؟ الله تعالی فرمایي: هغه څوك شیطان دئ چې مجاهدین د دښمن له شمېر وېروي:

إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ يُخَوِّفُ أَوۡلِيَآءَهُۥ فَلَا تَخَافُوهُمۡ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿١٧٥﴾ آل عمران

دا خو فقط شیطان وو چې له خپلو دوستانو ئې نور (یا خپل دوستان) وېرول؛ نو له هغوی مه وېرېږئ؛ له ما ووېرېږئ که مؤمنان یئ.

دا آیت په پرېکنده توګه وایي: څوك چې مسلمانان د دښمن له ځواك او شمېر وېروي؛ د قرآن له نظره "شیطان" دئ، د دې شیطان دا وېره اچوونکې تبلیغات پر هغو اغېز کوي چې له شیطان سره ئې دوستي وي، د ده تبلیغات پر هغه چا اثر نه کوي چې له شیطان سره ئې خپلې اړیکې قطع کړې وي. د الله حکم او په الله د ایمان مقتضی دا ده چې د دښمن له زور ځواك ونه وېرېږو او وېره مو یوازې له یوه الله وي.

الله تعالی مونږ ته صحابه رضي الله عنهم داسې معرفي کوي او ستایي:

ٱلَّذِينَ قَالَ لَهُمُ ٱلنَّاسُ إِنَّ ٱلنَّاسَ قَدۡ جَمَعُواْ لَكُمۡ فَٱخۡشَوۡهُمۡ فَزَادَهُمۡ إِيمَٰنٗا وَقَالُواْ حَسۡبُنَا ٱللَّهُ وَنِعۡمَ ٱلۡوَكِيلُ ﴿١٧٣﴾ آل عمران

هغه چې خلکو ورته وویل: "د دښمنانو" ډېر وګړي درته راغونډ شوي؛ له دوی باید ووېرېږي؛ نو دې خبرې د دوی ایمان لا زیات کړ او ویل به ئې: الله مونږ ته کافي دئ؛ څومره غوره پالونکی.

په دې مبارك آیت کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم مجاهد یاران داسې ستایل شوي: د دښمن له زیاتوالي او کثرت نه وېرېدل، کله چې هغوی ته ویل شوي: دښمن په لوی شمېر کې ستاسو په ضد راغونډ شوی، هومره چې له دوی وېره په کار ده؛ دې خبرې د دې پر ځای چې

په دوی کې وېره راولاړه کړي، نه؛ د دوی ایمان ئې مزید مضبوط کړی او ویلي ئې دي: الله موږ ته کافي دئ او هغه تر ټولو غوره مولا او وکیل دئ.

ښاغلیو! اجازه راکړئ له تاسو وپوښتم: د دې آیت په هینداري کې خپله څېره څنګه ګورئ او خپلې فتوی ګاني څنګه ارزوئ؟! له چا سره ځان درته شبیه او ورته برېښي؟!

بله پوښتنه لرم:

قرآن د ابراهیم علیه السلام هغه قصه زموږ مخې ته ایښې چې په ځوانۍ کې ئې د نمرود او نمرودیانو بتان مات کړل؛ او کله چې ونیول شو او د خلکو په وړاندې ودرول شو؛ پوښتنه ترې وشوه: زموږ له معبودانو سره دا کار تا کړی؟ د انکار پر ځای ئې هغوی ته وویل: د بتانو له ستر او لوی وپوښتئ که خبرې کولی شي:

قَالَ بَلۡ فَعَلَهُۥ كَبِيرُهُمۡ هَٰذَا فَسۡـَٔلُوهُمۡ إِن كَانُواْ يَنطِقُونَ﴿٦٣﴾ الأنبیاء

وئې ویل: بلکې دا کار خو د دوی دغه ستر بت کړی، نو دوی وپوښتئ که خبرې کولی شي!!

دا هم کافي نه ګڼي او د دوی شرك او بت لمانځنه غندي او د تأسف وړ ئې ګڼي:

قَالَ أَفَتَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكُمۡ شَيۡـٔٗا وَلَا يَضُرُّكُمۡ﴿٦٦﴾ أُفّٖ لَّكُمۡ وَلِمَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ﴿٦٧﴾ الأنبیاء

٦٦- وئې ویل: نو آیا له الله پرته داسي څه لمانځئ چې نه کومه ګټه دررسولی شي او نه ضرر دررسولی شي؟! ٦٧- افسوس پر تاسو او پر هغه څه چې تاسو ئې له الله پرته لمانځئ! نو آیا تعقل نه کوئ؟!

پوښتنه کوو: له دې قرآني قصې به د هغه مؤمن انسان انتباه او تعبیر څه وي چې په شفاف ذهن سره ئې لوستلې یا اورېدلې؟ الله تعالی خو ابراهیم علیه السلام په همداسي کارونو ستایلی او دا ئې په آزموینو کې

د ده د بریا نښه او وجه ګڼلې او له همدې امله ئې د امامت وړ ګرځولی؛ هم ئې د کعبې جوړولو لپاره غوره کړ، هم ئې دی او د ده ځیني اولاد د پیغمبرۍ په لوړ مقام ونازول.

تاسو د ابراهیم علیه السلام د دې کار په ارتباط د خپلو معیارونو او مسلك له مخې څه قضاوت کوئ؟ که تاسو د ده په وخت کې وئ؛ د نمرودیانو په صف کې به وئ؟، که د ده د پلار آذر ملګرتیا به مو کوله چې د هغه له دعوت سره ئې د مخالفت لار غوره کړې وه، په دې ئې وګواښلو چې له کور دې شړم او سنګسار کوم دې؟! که د ابراهیم علیه السلام تأیید او ملګرتیا چې زنداني شو، په اور کې واچول شو او له عراق یوازې له دوو همسفرو (سارا او لوط علیهما السلام) سره ئې وتل په برخه شول؟!

بله پوښتنه کوم:

موسی علیه السلام له یوې عصا سره او له نژدې لس کلن هجرت وروسته د فرعون مقابلې ته لېږل شوی؛ له دې خطرناکې غوښتنې سره چې د بني اسرائیل له ځورونې لاس واخله؛ که ئې نه شې زغملی؛ پرېږده چې له ما سره یو ځای له مصر ولاړ شي. له الله تعالی ئې وغوښتل چې د ده پر ځای دا مأموریت هارون ته وسپاري؛ تر ځان ئې هغه ځکه غوره ګڼلو چې تر ده زیات فصیح دئ، د حوصلې خاوند دئ، هم ئې بني اسرائیل مني او هم فرعونیان پر هغه کوم اعتراض نه لري؛ هدف ئې دا وو چې دی د فرعونیانو له لوري د یوه قبطي په وژلو تورن وو او د قصاص پرېکړه ئې شوې وه؛ بني اسرائیل هم د ده په اړه شکمن وو چې د فرعون په کور کې ستر شوی؛ کله چې دا غوښتنه ونه منل شوه؛ نو غوښتنه ئې وکړه چې هارون علیه السلام د معاون او وزیر په توګه ورسره ولېږي؛ الله تعالی ئې غوښتنه قبوله او دواړه ئې د فرعون لوري ته ولېږل؛ په همدې ارتباط قرآن فرمایي:

فَأْتِيَاهُ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولَا رَبِّكَ فَأَرْسِلْ مَعَنَا بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَلَا تُعَذِّبْهُمْۖ قَدْ

جِئۡنَٰكَ بِـَٔايَةٖ مِّن رَّبِّكَۖ وَٱلسَّلَٰمُ عَلَىٰ مَنِ ٱتَّبَعَ ٱلۡهُدَىٰٓ ﴿٤٧﴾ طه
نو ورشئ او (ورته) ووایئ: موږ ستا د رب استازي یو؛ نو بني اسرائیل راسره ولېږه او (نور ئې) مه تعذیبوه، یقیناً چې ستا د رب له لوري مو څرګنده نښه درته راوړې؛ او پر هغه چا دي سلام وي چې په هدایت پسې درومي.

ښاغلیو! له یوه ملګري او د لاس یوې همسا سره؛ د فرعون، هامان او قارون او د دوی لښکرو خلاف مقابلې ته تګ؛ د خپلو معیارونو له مخې څنګه ارزوئ؟ دا هم په پام کې ولرئ چې قرآن د موسی علیه السلام د هغه مهال حالت چې د فرعون په کور کې اوسېدو داسې انځوروي:

وَدَخَلَ ٱلۡمَدِينَةَ عَلَىٰ حِينِ غَفۡلَةٖ مِّنۡ أَهۡلِهَا فَوَجَدَ فِيهَا رَجُلَيۡنِ يَقۡتَتِلَانِ هَٰذَا مِن شِيعَتِهِۦ وَهَٰذَا مِنۡ عَدُوِّهِۦۖ فَٱسۡتَغَٰثَهُ ٱلَّذِي مِن شِيعَتِهِۦ عَلَى ٱلَّذِي مِنۡ عَدُوِّهِۦ فَوَكَزَهُۥ مُوسَىٰ فَقَضَىٰ عَلَيۡهِۖ قَالَ هَٰذَا مِنۡ عَمَلِ ٱلشَّيۡطَٰنِۖ إِنَّهُۥ عَدُوّٞ مُّضِلّٞ مُّبِينٞ ﴿١٥﴾ قَالَ رَبِّ إِنِّي ظَلَمۡتُ نَفۡسِي فَٱغۡفِرۡ لِي فَغَفَرَ لَهُۥٓۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٦﴾ قَالَ رَبِّ بِمَآ أَنۡعَمۡتَ عَلَيَّ فَلَنۡ أَكُونَ ظَهِيرٗا لِّلۡمُجۡرِمِينَ ﴿١٧﴾ القصص

۱۵- او ښار ته هغه مهال ننوت چې اوسېدونکي ئې غافل وو (د شپې او یا د غرمې په مهال په خوب ویده ول)، نو دوه سړي ئې داسې په کې وموندل چې په جګړه بوخت دي، دا یو ئې د ده له خپلې قبیلې او هغه بل ئې د ده د دښمن (له خېله)، نو هغه چا چې د ده له قبیلې وو د ده د دښمن په خلاف مرستې ته ورنارې کړې، نو موسی په څپېړې وواهو او کار ئې ورتمام کړ (ومړ)، وئې ویل: دا د شیطان کار وو، یقیناً چې هغه څرګند بې لارې کوونکی دښمن دئ. ۱٦- وئې ویل: اې زما ربه! یقیناً چې ما پر خپل ځان ظلم وکړ، بخښنه راته وکړه، نو بخښنه ئې ورته وکړه، بې شکه چې هغه مهربان بخښونکی دئ. وئې ویل: اې زما

ربه! د دې لپاره چې پر ما دې پېرزوينه وکړه، نو (له دې وروسته به) هيڅکله د مجرمينو ملاتړی نه شم.

ګورئ چې قرآن د دې قصې اتل (موسی علیه السلام) څنګه انځوروي، په ښار کې دوه سړي د نښتي په حالت کې ګوري، يو ئې ظالم او بل ئې مظلوم، يو ئې د واکمني طبقې او بل ئې د بې وزلې قبيلې، مظلوم او بې وزلی مرسته ترې غواړي، دی فوراً او له ځنډ پرته د بې وسه او مظلوم مرستي ته وروړاندي کېږي، په بې تفاوتۍ له صحنې نه تېرېږي، مخ نه ترې اړوي، ځان تر دې لوړ نه ګڼي چې د دوو کسانو په لانجې کې مداخله وکړي، که څه هم دی اوس د شاهي کورنۍ غړی دئ او کېدی شي چې دا مداخله او له يوه بني اسرائيلي د ده دفاع ډېر تاوان وروړسوي، خپل موقف له لاسه ورکړي، د فرعون له پېرزوينو محروم شي، په داسي حالت کې د ډېرو عقلمنو خلکو عقل دا ورته وايي چې غوږ مه پرې ګروه، مخ بلې خوا ته واړوه او تېر شه، ولې ځان په يوې لانجې کې اچوې!! موسی علیه السلام له دې امله نه شي کولی له صحنې بې پروا او بې تفاوته تېر شي چې الله تعالی حساس ضمير ورکړی، پر يوه مظلوم انسان تېری نه شي زغملی، د خپل حساس ضمير په حکم مداخله کوي، هسي د خلاصون مداخله هم نه، چې که ئې يو يا دواړه خواوې ونه مني نو خپله لار وهي او صحنه پرېږدي، بلکي له مظلوم دفاع کوي، ظالم او تېری کوونکی په سوك يا څپېړه وهي، خو دا ګوزار داسي وو چې په همدې سره د ظالم چاره وشوه، کار ئې تمام شو او ومړ، (فقضی علیه)، د موسی علیه السلام په يوه وار سره د هغه ظالم د ژوند فيصله وشوه او په قتل ورسېد. قرآنکريم دا د يوه صالح او زړه سواند قائد او زعيم د درېيم صفت په توګه وړاندي کوي او د دې قصې په ترڅ کې موږ ته وايي چې له صالح مشر سره د علم او حکمت تر څنګ داسي حساس ضمير ضروري دئ، د ظلم او تېري په وړاندي چوپ او بې تفاوته نه پاته کېدل او له مظلومانو دفاع کول.

د قتل له پېښې وروسته د موسی علیه السلام په وينا کې څو ډېري

حساسي او مهمي خبري زموږ مخي ته ایښودل شوې:

- موسی علیه السلام له همدې پېښې وروسته تصمیم نیسي چې له دې نېټې وروسته به هیڅکله د ظالمانو او مجرمانو ملاتړ او ملگرتیا نه کوم، دا له فرعون او فرعوني نظام سره د ده د تلپاته مقاطعې او پرېکون هوډ او عزم وو!! د دې پر ځای چې دا ناځاپي پېښه ئې د مظلوم له ملگرتیا او د نورو په شخړو کې له مداخلې منصرف کړي او ووایي چې له دې وروسته به په داسي قضایاوو کې مداخله نه کوم او ځان ته به بې ځایه ستونزي او سرخوږی نه جوړوم؛ برعکس له ظالمانو خپل برائت اعلانوي!!
- دا په حقیقت کې له فرعوني نظام سره د موسی علیه السلام د بشپړي مقاطعې اعلان وو. د علم او حکمت له ورکړي وروسته د دغو پېښو یادونه ښيي چې همدا د ده د علم او حکمت آثار او نتائج وو، یو داسي کس چې د فرعون په کور کې په ناز او نعمت کې ستر شوی وي، د فرعون مېرمني د خپل نازولي او گران زوی په توگه روزلی وي؛ ډېره بعیده ده چې هغه دي یوازي او له ساتونکو پرته ښار ته ننوځي او بیا دي د دوو عادي سړو تر منځ نښتي کې مداخله وکړي او هغه هم داسي مداخله چې په ترڅ کې ئې تېری کوونکی ووژل شي، خو الله تعالی د ده د روزني بېل انتظام کړی وو، له خضر علیه السلام سره ملگرتیا هغه ته ښودلي وو چې د مظلوم ملگرتیا به کوې. خضر علیه السلام د ملگرتیا په دوران کې د دریو پېښو په ترڅ کې هغه ته دا درس ورکړی وو چې تل به د مظلوم ملگرتیا کوې او د ظالم له منگولو د هغه د ژغورني لپاره به ملا تړې.
- الله تعالی ته د خپلي دعاء په ترڅ کې وایي: د دې لپاره چې تا راباندي پېرزوینه وکړه، نو له دې وروسته به هیڅکله د مجرمینو ملاتړ نه کوم!! خو باید وگورو چې موسی علیه السلام دلته کوم الهي نعمت او پېرزویني ته گوته نیسي؟! که څه هم د نعمت صیغه عامه ده او په ټولو الهي پېرزوینو ئې اطلاق کېدی شي خو دلته ئې مراد د نورو نعمتونو تر څنگ دا هم دئ چې الله تعالی د ده پرده وکړه او د قتل پېښه بربنډه

نه شوه.

- دا ظريف ټکی هم زموږ مخې ته راځي چي د گناه له دنيوي سزا د چا ژغورنه د الله تعالی له لوري يوه پېرزوينه او بخښنه ده، لکه څنگه چي دلته گورئ موسی عليه السلام د قتل د پېښي بخښنه وغوښته، الله تعالی ورته بخښنه وکړه او ده د دغي بخښنې له امله ژمنه وکړه چي له دې وروسته به د مجرمينو ملاتړ نه کوم.
- قرآن د بايبل د ادعاء خلاف وايي چي دا قتل عمدي قتل نه وو، موسی عليه السلام د ده د وژلو په نيت نه دئ وهلی، په څپېړي ئې وهلی او طبيعي ده چي په څپېړي يا سوك څوك نه وژل کېږي!! د موسی عليه السلام فوري ندامت او بخښنه غوښتل پخپله دا ثابتوي چي دا يوه تصادفي پېښه وه.

او قرآن د بني اسرائيل د هغه مهال معنوي او اخلاقي وضعيت داسي انځوروي:

فَلَمَّآ أَنۡ أَرَادَ أَن يَبۡطِشَ بِٱلَّذِي هُوَ عَدُوّٞ لَّهُمَا قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ أَتُرِيدُ أَن تَقۡتُلَنِي كَمَا قَتَلۡتَ نَفۡسَۢا بِٱلۡأَمۡسِۖ إِن تُرِيدُ إِلَّآ أَن تَكُونَ جَبَّارٗا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا تُرِيدُ أَن تَكُونَ مِنَ ٱلۡمُصۡلِحِينَ ١٩ القصص

نو کله چي ئې وغوښتل د دواړو (گډ) دښمن ته لاس واچوي، (هغه) وويل: آيا غواړې ما هم هغسي ووژنې لکه چي پرون دي يو کس ووژلو؟ له دې پرته بل څه نه غواړې چي ته هم په دې زمکي کي يو (بل) جابر شې، نه غواړې چي د مصلحينو له ډلي وې!!

موسی عليه السلام سبا بيا همغه پرونی مظلوم د يوه بل قبطي تر تېري لاندي وموند، هغه بيا مرسته ترې وغوښته، دی ورروان شو خو چي ورنژدې شو هغه ته ئې وويل: ته غلط شوی يې، دا يوه غلطي ده چي له دغو ظالمانو سره په جگړو کي ښکېل کېږې، اسرائيلي داسي وانگېرله چي موسی عليه السلام دی ملامت گڼي او غواړي وئې وهي، حال دا

چي موسی علیه السلام د ده د مرستي په نیت ورروان وو، خو هغه په جګ غږ ناري کړې: موسی! ته غواړې ما هم ووژنې، همغسي لکه چي پرون دي هغه بل ووژلو؟! ته هسي ځان مصلح او د مظلومانو ملګری ښیې... په دې سره قرآن موږ ته دا راښودل غواړي چي موسی علیه السلام د داسي یوه نااهله قوم د ژغورني لپاره مأمور شوی، د خپل ناجي او ژغورونکي اسرار افشاء کوي، څو شېبې مخکي د یوه ناجي په سترګه ورته ګوري او د ظالمانو له منګولو د ژغورني لپاره ده ته غږ کوي او مرسته ترې غواړي خو چي دی ئې خپلي غلطي ته متوجه او ملامت ئې کړ، نه یوازي د موسی علیه السلام له ټولو ښېګڼو انکار کوي، بلکي جابر او ظالم ئې ګڼي، دښمن ته ئې په لاس ورکوي او اسرار ئې افشاء کوي!! په دې سره قرآن موږ ته دا هم راښیي چي بني اسرائیل لا د دې وړ نه وو چي د ظالمانو له سلطې د نجات لپاره د یوه مشر تر قیادت لاندي راغونډ شي او پاڅون ته ملا وتړي، له یوې خوا موسی علیه السلام مزید روزني ته ضرورت لري او له بلي خوا بني اسرائیل باید څه نوره موده سختي ورځي وګوري او دې نتیجې ته ورسېږي چي د یوه مشر تر قیادت لاندي له راغونډېدو او د ظلم په خلاف له پاڅون پرته بله چاره نه لري!!

ښاغلیو مفتیانو! اوس ما ته ووایي: ځان او خپل اطوار، افکار او اقوال؛ د موسی علیه السلام د شخصیت او کړنو په اړه د قرآن د دې انځورني په رڼا کي څنګه ارزوئ؛ څومره تري لري یئ؟؛ چا ته ورته یئ؟! موسی علیه السلام ته که هغه اسرائیلي ته؟ دې ته مو باید پام وي چي په قرآن کي تر ټولو رسولانو د موسی علیه السلام زیاته او په ډېر تفصیل سره یادونه شوې، مقام ئې هم دومره ستر او عظیم چي الله تعالی په ټولو انسانانو کي؛ د پیغمبرانو په شمول؛ یوازي له ده سره تکلم کړی، تر یوه ځل زیات ئې خپل حضور ته منلی، ۱- له مدین د مصر په لوري د سفر په دوران کي؛ د طور په وادي او د غره ډډې کي، ۲- هغه مهال چي له الله تعالی ئې وغوښتل ځان وروښیي، ۳- هغه مهال چي د بني اسرائیل له مشرانو سره د الله تعالی په وړاندي ودرېدلی او پر هغوی تندر نازل

شوی. د موسی علیه السلام په تفصیلي قصې کې الله تعالی موږ ته ښیي چې یو پیغمبر او د هغه امتیان باید څنګه وي.

همدا راز دا مو باید لوستلې وي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم او قریشو تر منځ ټولې جګړې داسي وې چې د دښمن د جنګیالیو شمېر د مسلمانانو په پرتله څو برابره وو؛ په بدر کې تر دوه ځله زیات، په احد کې نژدې څلور ځله، په خندق کې د دښمن د جنکیالیو شمېر نژدې لس زره. ښاغلی غامدي او همفکران ئې دا ټول حقائق څنګه او ولې له پامه غورځوي؟!

قرآن د بدر جګړي په اړه؛ د قریش او مسلمانانو د جنګیالیو د شمېر او د وسلو او تجهیزاتو له پلوه د عدم توازن په ارتباط وایي: ځینو دا جنګ داسي ګڼلو لکه چې د مرګ په لوري روان وي:

كَمَآ أَخۡرَجَكَ رَبُّكَ مِنۢ بَيۡتِكَ بِٱلۡحَقِّ وَإِنَّ فَرِيقٗا مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ لَكَٰرِهُونَ ۝٥ يُجَٰدِلُونَكَ فِي ٱلۡحَقِّ بَعۡدَ مَا تَبَيَّنَ كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ إِلَى ٱلۡمَوۡتِ وَهُمۡ يَنظُرُونَ۝٦ الأنفال

همغسي لکه چې خپل رب دې ته له خپل کور په حقه وایستلې، په داسي حال کې چې د مؤمنانو یوې ډلې کرکه درلوده. ٦- د همدې حقیقت په اړه ئې له هغه وروسته له تا سره لانجه کوله چې څرګند شو، داسي لکه چې د مرګ په لوري بېول کېږي او دوی (ئې په خپلو سترګو) ګوري.

په دې مبارکو آیتونو کې د بدر د جګړي له پیل مخکې حالت داسي انځور شوی:

- له مدینې د برید په موخه وتل سم او په حقه تصمیم وو.
- کله چې دا خبره رامنځته شوه چې د قریشو لښکر راوتلی او د برید اراده لري، نو یوازینی صحیح تصمیم دا وو چې له دښمن سره مقابله وشي، هر حساس او په وضعیت پوه انسان ته دا خبره جوته شوې وه چې له مقابلې پرته د بل هر کار پایلي به خطرناکي وي.

• ځینو له جنګ ډېره کوله او د قریشو له مجهز فوځ سره مقابله ئې داسې ګڼله لکه د مرګ په کومې کې ځان غورځول، تهلکه او ځان وژنه. دوی هڅه کوله چې نور هم له دې تصمیم واړوي.

• په دې اړه ګڼ شمېر توجیهات وړاندې شوي چې د آیت د دې برخې معنی څه ده: (يُجَٰدِلُونَكَ فِي ٱلۡحَقِّ بَعۡدَ مَا تَبَيَّنَ) کوم حق څرګند شو او څنګه څرګند شو؟ غوره توجیه دا ده چې د جنګ پرېکړه د اکثریت په توافق وشوه، د مسلمانانو اکثریت ته دا حقیقت جوت شوی وو چې اوس له جنګ پرته بله چاره نه لري، چا چې د جنګ له تصمیم سره مخالفت کولو له داسې یوه څرګند حقیقت سره ئې مخالفت کولو چې د پیغمبر علیه السلام او د صحابه وو د مشرانو په شمول اکثریت پرې توافق کړی وو.

• په دې اړه هم د مفسرینو تر منځ د اختلاف رأی شاهد یو چې د آیت دا برخه (كَمَآ أَخۡرَجَكَ رَبُّكَ مِنۢ بَيۡتِكَ بِٱلۡحَقِّ) څه معنی لري او دا اخراج له څه سره تشبیه شوی؟ غوره توجیه ئې دا ده چې تر دې په مخکې آیت کې له واقعي مؤمنانو سره د اجر او بدلې درې وعدې شوې: درجات، مغفرت او رزق کریم، چې دا هم دنیوي اجر او بدله احتواء کوي او هم اخروي، په همدې ارتباط په دې آیت کې ویل شوي چې د دې وعدې یوه څرګنده بېلګه او مصداق د بدر په جګړې کې د مجاهدینو بریا او د زیاتو غنائمو ترلاسه کول وو، یعني د بدر په هغې نښتې کې چې تاسو ته ئې پایلې خطرناکې برېښېدې او ځینو خو داسې ګڼله چې د مرګ په لورې روان دې، خو الله تعالی تاسو ته څومره ستره بریا او کافي مقدار غنائم په لاس درکړل، همداسې به مؤمنانو ته نېکې بدلې ورکوي.

د احد په جنګ کې هغه ډله او ماهیت ئې ښه څرګند شو چې مذبذبین دې، د کفر او ایمان تر منځ له وسله وال او انقلابي تصادم سره موافق نه دې او ډول ډول بهانو او پلمو ته پنا وړي چې هم پخپله په کې برخه وانه خلي او هم نور ترې منع کړي؛ همدا دوی وو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم او صحابه ئې د جنګ په میدان کې یوازې

پرېښودل، له نیمي لارې مدینې ته ستانه شول او قرآن د دوی په اړه وایي: دا مهال تر ایمان کفر ته ډېر نژدې ول:

وَلِيَعۡلَمَ ٱلَّذِينَ نَافَقُواْۚ وَقِيلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡاْ قَٰتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَوِ ٱدۡفَعُواْۖ قَالُواْ لَوۡ نَعۡلَمُ قِتَالٗا لَّٱتَّبَعۡنَٰكُمۡۗ هُمۡ لِلۡكُفۡرِ يَوۡمَئِذٍ أَقۡرَبُ مِنۡهُمۡ لِلۡإِيمَٰنِۚ يَقُولُونَ بِأَفۡوَٰهِهِم مَّا لَيۡسَ فِي قُلُوبِهِمۡۚ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا يَكۡتُمُونَ ﴿١٦٧﴾ آل عمران

او د دې لپاره چې هغه کسان هم معلوم کړي چې منافقت ئې کاوو او چې ورته وویل شو: راشئ یا د الله په لار کې وجنګېږئ یا دفاع وکړئ! وئې ویل: که د کوم جنګ پوهه مو وی حتماً مو ستاسو متابعت کاوو!! دوی په دغه ورځ کفر ته ډېر ورنژدې وو؛ تر هغه واټن چې له ایمان ئې درلودو؛ په خوله ئې هغه څه ویل چې په زړونو کې ئې نه وو او الله په هغه څه ډېر ښه پوه دئ چې دوی ئې پټوي.

یعني د احد د ماتې او په هغې کې د مؤمنانو د تلفاتو پرېکړه الله کړې وه او اسباب ئې دوی پخپله برابر کړي وو؛ هر څه د الله د سننو مطابق واقع کېږي؛ الله غوښتل چې په دې سترې ابتلاء سره د واقعي مؤمنانو او منافقینو تر منځ تفکیك وشي، هغه منافقین راښکاره شي چې نه د الله په لار کې جنګ ته تیار وو او نه له مدینې دفاع ته؛ د دوی پېژندنه ضروري وه؛ د دې لپاره چې په راتلونکي کې نه د الله په لار کې د جنګ په اړه پر دوی حساب وکړئ او نه له مدینې د دفاع په اړه؛ تاسو په خپلو سترګو ولیدل چې د جهاد او دفاع په اړه د منافقینو ځواب څه وو؟ انکار؛ خو دا انکار په داسې الفاظو سره چې د دوی په څېر دوه مخي دي، په ظاهر کې ئې معنی یو څه او په حقیقت کې ئې معنی بل څه؛ په ظاهر کې د دوی د وینا معنی دا ده: که پوهېدی چې جنګ واقع کېږي نو حتماً مو ستاسو په څنګ کې برخه اخیسته؛ د دې الفاظو یوه بله توجیه هم شوې خو مخکینۍ ترې غوره او دقیقه ده او هغه دا چې:

که موږ په جنگ پوهېدی نو زموږ مشورو ته به مو اعتناء کړې وه او د مدینې له داخله به مو د دښمن مقابله کړې وه او که داسي شوي وی موږ به هم ستاسو په څنګ کي وو.

د دوی د الفاظو ظاهر ښه برېښي او ساده لوح کسان پرې غولولی شي؛ خو الله تعالی ته د دوی د زړونو هغه نفاق څرګند دئ چي دوی ئې پټوي.

دې ته مو هم باید پام وي چي دلته په جګړې کي د دغو منافقینو دا برخه نه اخیستل داسي ګڼل شوي چي دوی په دې کار سره کفر ته تر ایمان ډېر ورنږدې وو او دې ته مو هم پام وي چي په اصل کي دغو منافقینو له دې پرته بل کار نه وو کړی چي د مسلمانانو د شوری له پرېکړې ئې مخالفت کړی وو. که څه هم دا پرېکړه د پیغمبر علیه السلام د خپلي رأیي خلاف پرېکړه وه!! له دې په اسلام کي د شوری اهمیت معلومولی شئ.

قرآن د جالوت د مجهز فوځ په خلاف د طالوت د مؤمنو ملګرو قصه داسي انځور کړې:

.... فَلَمَّا جَاوَزَهُۥ هُوَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ قَالُواْ لَا طَاقَةَ لَنَا ٱلۡيَوۡمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦۚ قَالَ ٱلَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَٰقُواْ ٱللَّهِ كَم مِّن فِئَةٖ قَلِيلَةٍ غَلَبَتۡ فِئَةٗ كَثِيرَةَۢ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴿٢٤٩﴾ وَلَمَّا بَرَزُواْ لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦ قَالُواْ رَبَّنَآ أَفۡرِغۡ عَلَيۡنَا صَبۡرٗا وَثَبِّتۡ أَقۡدَامَنَا وَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٢٥٠﴾ فَهَزَمُوهُم بِإِذۡنِ ٱللَّهِ وَقَتَلَ دَاوُۥدُ جَالُوتَ وَءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ ٱلۡمُلۡكَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَعَلَّمَهُۥ مِمَّا يَشَآءُۗ وَلَوۡلَا دَفۡعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعۡضَهُم بِبَعۡضٖ لَّفَسَدَتِ ٱلۡأَرۡضُ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ ذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٢٥١﴾ البقرة

.... نو کله چي دی (طالوت) او د ده مؤمن ملګري ترې واوښتل؛ وئې ویل: نن خو موږ د جـالوت او د ده د لښکرو (د مقابلې) توان نه لرو؛ خو هغو چي په دې ئې باور وو له الله سره مخامخ کېدونکي دي؛ وویل: څومره لږکي ټولګي د الله په اذن سره په ډېرکیو ټولګیو غالب شوي؛ الله

خو له صابرانو سره دئ. [۲۵۰]- او کله چې جالوت او لښکرو ته ئې راڅرګند شول؛ وئې ویل: اې زموږ ربه! پر موږ صبر نازل کړه او ګامونه مو مضبوط کړه او پر دې کافر قوم بری را، [۲۵۱]- نو د الله په حکم سره ئې دوی ته ماته ورکړه او داؤد جالوت وواژو او الله پاچايي او حکمت ورپه برخه کړ او چې څه ئې غوښتل هغه ئې وروښودل او که د الله دا د خلکو ځيني په ځينو نورو دفع کول نه وی؛ نو زمکه به تباه شوې وه؛ خو الله پر نړۍوالو د فضل خاوند دئ.

د طالوت له لوی لښکر يو وړوکی ټولګی په دې آزموينې کې بريالی وختلو او همدغو ته الله پر هغه مغرور او ظالم دښمن بری ورکړ. يعنې چې بری د صابرانو په برخه کېږي، هغه چې پر الله ئې باور وي، د هغه نصرت ته سترګې په لار وي، له الله په سنګر کې او د دښمن په وړاندې د صبر او استقامت غوښتنه کوي؛ نه د هغه چا په برخه چې د جنګياليو شمېر ئې زيات وي. دا په وار وار ليدل شوې چې الله تعالی يوه وړوکې ټولګې ته پر لوی لښکر فتح او بری ورکړی؛ دا ځکه چې الله د صابرانو مل دئ.

په دې نښتې کې د دښمن د فوځ سالار د داؤد عليه السلام په لاس ووژل شو او د همدغه زړه وري اتلولۍ په وجه الله تعالی داؤد عليه السلام ته د دغه ملك پاچايي او اقتدار وسپارو، علم او حکمت ئې ورکړ او د پيغمبرۍ مقام ته ئې ورساوو، د الله تعالی سنت دا دئ او په دې راضي کېږي چې د مؤمنانو قيادت د دغسې مجاهدو مشرانو په لاس کې وي.

له دې آيت څو خبرې په ډېر وضاحت سره معلومېږي: له تباهۍ د زمکې د مصون ساتلو يوازينۍ لار دا ده چې د مؤمنانو د صالح ډلې په لاس د کافرانو د مفسدې ډلې مخنيوی وشي، الله تعالی د دوی په ذريعه د هغوی شر دفع کوي او په دې سره زمکه له تباهۍ ژغوري. د دغه الهي سنت مطابق به تل د مؤمنانو يوه مجاهده ډله راپيدا کېږي، د مفسدو ځواکونو مقابله به کوي او الله تعالی به هغوی ته د شر او فساد

پر ځواکونو غلبه ورکوي.

قرآن په همدې ارتباط د موسى عليه السلام د ملگرو دوه ډلې او په جنگ کې د بريا د عواملو په اړه د هغوی معيارونه زموږ مخې ته داسې انځور کړي:

قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّ فِيهَا قَوۡمٗا جَبَّارِينَ وَإِنَّا لَن نَّدۡخُلَهَا حَتَّىٰ يَخۡرُجُواْ مِنۡهَا فَإِن يَخۡرُجُواْ مِنۡهَا فَإِنَّا دَٰخِلُونَ۝٢٢ قَالَ رَجُلَانِ مِنَ ٱلَّذِينَ يَخَافُونَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمَا ٱدۡخُلُواْ عَلَيۡهِمُ ٱلۡبَابَ فَإِذَا دَخَلۡتُمُوهُ فَإِنَّكُمۡ غَٰلِبُونَۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَتَوَكَّلُوٓاْ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ۝٢٣ قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّا لَن نَّدۡخُلَهَآ أَبَدٗا مَّا دَامُواْ فِيهَا فَٱذۡهَبۡ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَٰتِلَآ إِنَّا هَٰهُنَا قَٰعِدُونَ۝٢٤ المائدة

٢٢- وئې ويل: اې موسى! په دې کې خو يو پياوړی قوم دئ او موږ به تر هغه هيڅکله ورداخل نه شو چې دوی ترې ووځي؛ که ترې ووتل بيا به ورننوتونکي شو. ٢٣- له دغو چې وېرېدل؛ دوو سړيو ئې چې الله پرې پېرزوينه کړې وه؛ وويل: له دروازې پرې ورننوځئ؛ نو کله هم چې ورننوتئ تاسو به بريالي وئ او که مؤمنان وئ نو پر الله بايد توکل وکړئ. ٢٤- وئې ويل: اې موسى! تر هغه چې دوی په کې وي موږ به هيڅکله ورداخل نه شو، نو ته او رب دې لاړ شئ او وجنگېږئ، موږ به همدلته ناست يو!

په دغو آيتونو کې بني اسرائيلو ته هغه ورځې ورپه ياد شوې چې موسى عليه السلام دوی جهاد ته وبلل، ترې وئې غوښتل چې فلسطين ته ننوځئ، له عمالقه وو ئې ونيسئ، دا ستاسو پلرنی ټاټوبی دئ، الله تعالی درسره وعده کوي چې دا سيمه به بېرته تاسو ته سپاري، که له جهاد ډډه وکړئ؛ زيان کوئ او له سپکاوي او ذلت سره مخامخ کېږئ؛ دوی د نه ځواب ورکړ. موسى عليه السلام د سيمې او د دښمن د وضعيت څېړنې لپاره يو پلاوی ولېږو، پلاوی له سيمې بېرته راوگرځېد، له دوو پرته نورو د جنگ مخالفت وکړ او وئې ويل چې دښمن ډېر ځواکمن دئ، موږ ئې

له مقابلې عاجز یو، ته ئې د ایستلو چاره وکړه، له خپل رب وغواړه چې دوی وباسي، د دوی له وتلو وروسته به سیمې ته ننوځو. د پلاوي دوو چې وېره ئې له الله تعالی وه، نه د دښمن له زور او ځواك؛ وویل: که د دښمن ظاهر ځواکمن برېښي؛ په حقیقت کې ډېر بې همته او ډارن دئ، ستاسو له برید سره سم به تښتي او سیمه به پرېږدي، د ایمان مقتضی او غوښتنه خو دا ده چې پر خپل رب توکل وکړو. قوم په ځواب کې وویل: اې موسی! په دې پوه شه چې موږ تر هغه دې سیمې ته هیڅکله نه ننوځو چې دښمن ترې وتلی نه وي، ته دي له خپل رب سره ولاړ شه او وجنګېږئ. موسی علیه السلام له خپل بې همته او جبون قوم خپل رب ته په داسې الفاظو شکایت وکړ چې ترې معلومېږي له خپل قوم سخت مأیوس شوی، پر ځای ئې د بل باهمت او توریالي قوم د ملګرتیا هیله لري او دا شکایت او هیله په دې الفاظو بیانوي: زما ربه! له ځان او خپل ورور پرته بل څوك راسره نه شته؛ ته مو له دې فاسق قوم بېل کړې!

الله تعالی د دوی په اړه پرېکړه وکړه چې تر څلوېښتو کلونو به په صحراء کې لالهانده ګرځي، د ټېکي ډاډمن ځای به نه مومي. موسی علیه السلام ته ئې وفرمایل: اې موسی! دا د دوی د فسق او له جهاد د انکار سزا ده؛ ته ئې پر دردناك حالت تأسف مه کوه.

دا قصه بني اسرائیلو ته هم او د قرآن هر مخاطب ته هم دا حقیقت په ګوته کوي چې الله تعالی ولې د بني اسرائیلو پر ځای په بل قوم کې پیغمبر مبعوث کړ؟ وجه ئې دا وه چې نور نو دا قوم د دې وړ نه وو، دوی په سختو شپو ورځو کې خپل ناجي لاربښود او پیغمبر موسی علیه السلام یوازې پرېښود، دوی د پیغمبرانو د ملګرتیا وړ نه دي، په دوی کې د جهاد او د الله تعالی په لار کې د قربانۍ جذبه مړه شوې، په کورنیو شخړو کې ډېر تکړه دي، یو د بلویني ته تږی خو د حق په لار کې جهاد ته ئې ملا ماته ده، پر خپل آخري پیغمبر عیسی علیه السلام ئې له ایمان راوړلو ډډه وکړه او غوښتل ئې د رومیانو په لاس ئې ووژني.

څوك چې د غزې مجاهدينو په اړه غلط تبليغات کوي؛ د دې آيتونو په رڼا کې خپل تبليغات څنګه ارزوي؟

همدا راز قرآن د دښمن له زور او ځواك عدم وېره؛ د مؤمن صفت او ځانګړتيا ګڼي او وېره د هغه چا خصلت چې د شيطان ملګرتيا پالي او د شيطاني القاءاتو تر اغېز لاندي وي:

ٱلَّذِينَ قَالَ لَهُمُ ٱلنَّاسُ إِنَّ ٱلنَّاسَ قَدْ جَمَعُواْ لَكُمْ فَٱخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَٰنًا وَقَالُواْ حَسْبُنَا ٱللَّهُ وَنِعْمَ ٱلْوَكِيلُ ﴿١٧٣﴾ فَٱنقَلَبُواْ بِنِعْمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضْلٍ لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوٓءٌ وَٱتَّبَعُواْ رِضْوَٰنَ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَظِيمٍ ﴿١٧٤﴾ إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ يُخَوِّفُ أَوْلِيَآءَهُۥ فَلَا تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٧٥﴾ آل عمران

[١٧٣]- هغه چې خلكو ورته وويل: "د دښمنانو" ډېر وګړي درته راغونډ شوي؛ له دوی باید ووېرېږئ؛ نو دې خبري د دوی ايمان مزيد زيات کړ او ويل به ئې: الله موږ ته کافي دئ؛ څومره غوره پالونکی. [١٧٤]- نو د الله له نعمتونو او پېرزوينو سره بېرته راوګرځېدل؛ په داسي حال کې چې هيڅ تاوان ورونه رسېدو او د الله په رضاء پسي ولاړل او الله د لوی فضل خاوند دئ. [١٧٥]- دا خو فقط شيطان وو چې له خپلو دوستانو ئې (خلك) وېرول؛ نو له هغوی مه وېرېږئ؛ له ما ووېرېږئ که مؤمنان يئ.

په دې مبارکو آيتونو کې لاندي مهم مهم درسونه راکړی شوي:

- د رښتينو مؤمنانو يو صفت دا دئ چې د دښمن له زياتوالي او کثرت نه وېرېږي، کله چې هغوی ته وويل شي: دښمن په لوی شمېر کې ستاسو په ضد راغونډ شوی؛ هومره چې له دوی وېره په کار ده؛ دا خبري د دې پر ځای چې په دوی کې وېره راولاړه کړي، نه؛ د دوی ايمان مزيد مضبوط کړي او وايي: الله موږ ته کافي دئ او هغه تر ټولو غوره مولا او وکيل دئ.

- د دغسي دريځ او وينا له امله هغوی په الهي امتحان کې بريالي وګڼل شول، د الله رضاء ئې په برخه شوه، له زحمت او تکليف پرته ئې يوه وړيا فتح، د الله نعمتونه او پېرزويني په برخه شوې.
- څوك چي مسلمانان د دښمن له ځواکونو وېروي؛ د قرآن له نظره هغه (شيطان) دئ، چي له خپلو دوستانو مؤمنان وېروي؛ او يا په خپلو وېره اچوونکو تبليغاتو سره هغه ويروي چي له ده سره اړيکي او دوستي پالي؛ تبليغات ئې يوازي پر دوی اغېز کوي؛ پر هغو هيڅ اثر نه کوي چي له شيطان سره ئې خپلي اړيکي قطع کړې وي.
- د الله حکم او په الله د ايمان مقتضی دا ده چي د دښمن له زور ځواك ونه وېرېږو او وېره مو يوازي له يوه الله وي.

خلاصه دا چي څوك د قرآن په وړاندي له صاف، شفاف او د غلطو افکارو او عزائمو له غبار منزه زړه سره او د حقيقت موندلو په موخه کښېني؛ څوك چي د رسول الله صلى الله عليه و سلم عملي ژوند په همدې روحيې او ذهنيت سره وڅېړي، د اجتماعي او تاريخي انقلابونو د ماتې او بريا عوامل په سمه او حقيقي توګه له نظره تېر کړي؛ نو له شك پرته به ئې د پيل او پای او د بريا او ماتې د عواملو په اړه رأی همغه وي چي قرآن ويلي؛ او د پيغمبرانو عليهم السلام په قصو کې ئې انځور کړې، او خلاصه ئې دا ده: (كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةًۢ بِإِذْنِ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ مَعَ ٱلصَّٰبِرِينَ: څومره لږکي ټولګي د الله په اذن سره په ډېرکيو ټولګيو غالب شوي؛ الله خو له صابرانو سره دئ). او دا به شيطاني تلقين ګڼي چي وايي: (إِنَّ ٱلنَّاسَ قَدْ جَمَعُواْ لَكُمْ فَٱخْشَوْهُمْ: يقيناً چي خلك ستاسو خلاف راغونډ شوي نو ترې ووېرېږئ)؛ د دې تلقين په ځواب کې به د مؤمن انسان غبرګون دا وي: (فَزَادَهُمْ إِيمَٰنًا وَقَالُواْ حَسْبُنَا ٱللَّهُ وَنِعْمَ ٱلْوَكِيلُ: نو دې خبري د دوی ايمان مزيد زيات کړ او ويل به ئې: الله موږ ته کافي دئ؛ څومره غوره پالونکی).

د قرآن لارښوونه او د رسول الله صلى الله عليه و سلم سنت دا دئ چي لومړی ايمان او هجرت دئ او بيا جهاد:

وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱلَّذِينَ ءَاوَواْ وَّنَصَرُوٓاْ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ حَقّٗاۚ لَّهُم مَّغۡفِرَةٞ وَرِزۡقٞ كَرِيمٞ﴿٧٤﴾ الأنفال

او هغه چې ایمان ئې راوړی، هجرت ئې کړی، د الله په لار کې ئې جهاد کړی؛ او هغه چې (مهاجر ته ئې) پناه ورکړې او (د مجاهد) مرسته او ملگرتیا ئې کړې، دوی حقیقي مؤمنان دي، دوی ته بخښنه او غوره رزق دئ.

رسول الله صلی الله علیه و سلم هغه مهال جهاد پیل کړ چې د مدینې په څېر مهجر او پناځی ئې وموندو او د مهاجرینو او انصارو په څېر ملگري؛ تر هغه ئې انتظار نه دئ کړی چې د مجاهدینو شمېر او د جنگي تجهیزاتو مقدار ئې د دښمن په اندازه شي.

## د غزې په جنگ کې د امریکا ونډه

د غزې روان جنگ د امریکا جنگ دئ؛ د امریکا په وینا او تر مدیریت لاندي پیل شوی؛ ټرامپ به دا پرېکړه کوي چې نتنیاهو تر کله جگړې ته دوام ورکړي او کله ئې ختمه کړي؛ دا اوس چې امریکا د صهیونستي رژیم او په غزه کې د نتنیاهو د بې ساري جنایاتو او نسل وژنې په اړه کومه تگلاره غوره کړې او په بلا قید او شرط ډول ئې له هر څه ملاتړ کوي؛ که پر لبنان برید کوي، که پر ایران، سوریه، دمشق، یمن او دوحه؛ امریکا عملاً ورسره ده او په گډه عملیات کوي. د همدې تاریخي جنایاتو په دوران کې؛ سپینه ماڼۍ او د کانگریس ځیني غړي نتنیاهو ته په مکرره توگه بلنه ورکوي چې امریکا ته سفر وکړي، هم سپینه ماڼۍ ورته هرکلی وایي او هم د کانگریس غړي؛ جمهور رئیس د ټولي غزې د نیولو عملیات تأییدوي او نتنیاهو ته سپین چك ورکوي او وایي: دا په بشپړ ډول په اسرائیل پوري تړلی کار دئ؛ له نړۍوالو د شرم او حیاء لپاره دا ضرورت هم نه احساسوي چې ووایي: امریکا پر ښارونو او بې وسلې خلکو بریدونه غندي او ورسره مخالفه ده. د ملل متحد په

امنيت شورى کې امريکا هره هغه پرېکړه ويټو کوي چې د اسرائيل خلاف وي؛ دا ځکه چې دا په اصل کې د امريکا جنگ دئ، هم ئې منصوبه د دوى ده، هم ئې تمويل او تجهيز؛ صهيونستان فقط کرايي جنگيالي او د منصوبې پلي کوونکي دي. په دوحه کې د حماس د مذکراتي هيئت يو ځايي وژلو ناکامي هڅې وښوده چې د صهيونستانو ټول جنگي پلانونه له پنتاگون او سپيني ماڼۍ ورته ديکته کېږي؛ د دوى دنده فقط دا ده چې د امريکايي راکټونو او بمونو بټني کښېکاږي.

## په دوحه کې د حماس مشرانو د وژلو توطئه افشاء شوه

اسرائيل د شرارت او جنگي جنون له ټولو پولو اوښتى؛ کار ئې هغه حد ته رسېدلى چې وايي: د خپلو مخالفينو په وژلو کې هيڅ سره کرښه نه منو، په هر ځاى کې چې وي پرې بريد کوو؛ په لنډې مودې کې د پنځو هېوادونو پر پلازمېنو؛ دمشق، بيروت، صنعاء، تهران او دوحه ئې بريدونه وکړل؛ پر تهران د بريد لپاره ئې د اردن او عراق فضايي حريم نقض کړ او پر دوحه د بريد لپاره ئې د اردن او سعودي فضايي حريم؛ د فلسطين مشر هنيئه ئې په تهران کې ترور کړ، د حزب الله مشر حسن نصر الله ئې په بيروت کې، د دمشق پر جمهوري رياست ئې په داسې حال کې بمونه وورول چې احمد الشرع له دوى سره په جنگ کې ښکېل نه وو؛ پر صنعاء ئې بمونه وورول، او دا دئ پر دوحه ئې په داسې حال کې ناڅاپي او د ټولو نړۍوالو او انساني ارزښتونو او اصولو خلاف بريد وکړ چې د حماس هيئت ته د امريکا له لوري او د ټرمپ له خوا د سولې پر نوې طرحې د مذاکراتو لپاره بلنه ورکړى شوې وه، داسې ښودل شوې وه چې امريکا غواړي جگړه پاى ته ورسېږي، د حماس هيئت ته ويل شوي وو چې په طرحې کې د دوى ټول مهم شرائط منل شوي؛ بايد لوړ پوړى هيئت ئې په مذاکراتو کې حاضر وي؛ دا بريد قطعاً د تل ابيب مستقل او يوازې خپل هنر او کار نه دئ؛ د سپيني ماڼۍ په مستقيم مشارکت تر سره شوى؛ دا به ډېر سفاهت وي چې څوك ئې د امريکا له

موافقې او عملي مشارکت پرته وګڼي؛ څرګند دلائل ئې دا دي:

- دا برید د امریکایي العدید ستري او مجهزي اډې خوا ته په ۳۰ کیلومټري کې شوی؛ په داسي حال کې چي د دې اډې له اجازې پرته هیڅ الوتکه او توغندی د قطر فضاء ته نه شي ننوتلی.
- قطر پخپله مجهز او مډرن هوایي دفاعي سیستمونه لري؛ تر ۱۹ ملیارد ډالر زیات مصارف ئې پرې کړي؛ په یقین سره ویلی شو چي دا سیستمونه هم د برید په ورځ د امریکا په مرسته شنډ کړی شوي.
- دا فوق العاده ناسته د امریکا له لوري تنظیم شوې وه؛ د ټرامپ پر نوې طرحي د بحث لپاره؛ مدیریت ئې د ټرمپ خاص استازي سټیو ویټکوف کولو؛ د ټرمپ د سولې نوې طرحه د ده له لوري وړاندي شوې وه.
- ولي د دې ناستي لپاره د معمول خلاف؛ د هوټل په عوض بل ځای غوره شوی؟ چا د دې نوي ځای معلومات اسرائیل ته ورکړي؟ امریکایي هیئت ولي دلته نه دئ حاضر شوی؟

له دې ټولو دلائلو په واضح ډول معلومېږي چي د حماس د مشرانو ترور؛ د امریکا او اسرائیل ګډ پلان وو؛ اسرائیل یوازي توغندي توغولی؛ نور هر څه امریکا کړي!!

عجیبه به وي که عربي هېوادونه له دې وروسته بیا هم پر امریکا اعتماد کوي؛ سره له دې ګمان کوي چي امریکایي اډې به د دوی امنیت وساتي!! دا اډې به له هر یوه سره همدغه څه کوي چي له قطر سره ئې وکړل.

په دې کې هیڅ شك نه شته چي دې پېښي د امریکا اعتبار او حیثیت ته په نړۍ‌واله کچه سخت زیان رسولی؛ له دې وروسته به یا یوازي ډېر مجبور او بې واکه واکمن پر امریکا اعتماد کوي او یا ډېر ناپوه او سفیه انسان.

دا اسرار اوس افشاء شوي او ډېرو څېړونکو ته په لاس ورغلي چي

په دوحه کې د حماس د مهمو مشرانو د یو ځایي وژلو پلان د نتنیاهو له لوري ټرمپ ته وړاندې شوی؛ هغه زړه نازړه وو؛ نتنیاهو د ټوني بلییر او جارد کوشنر (د ټرامپ نازولې زوم) له لارې هڅه کړې هغه قانع کړي؛ توافق شوی؛ حماس ته د ټرمپ له لوري داسې طرح وړاندې شوې چې هغوی ته د منلو وړ وه؛ د مذاکراتو د ناستې لپاره هغه ورځ ټاکل شوې چې اسرائیلي جهازونه به د ناستې محل په نښه کوي؛ د ناستې لپاره د معمول خلاف د هوټل پر ځای بل ځای ټاکل شوی؛ د حماس هیئت هلته تللی، د ناستې لپاره ټاکل شوې تالار ته بېول شوې؛ ویل کېږي هلته له لږ ځنډ وروسته د لمانځه لپاره بلې خونې ته تللي؛ خو مبایلونه ئې همدلته پرېښي؛ د برید پلان داسې تنظیم شوي وو چې د هدف موقعیت به د (نړیوال موقعیت ټاکونکی سیستم) GPS له مخې معلوموي؛ دا سیستم په مبایلونو کې نصب وي؛ همداسې وشول؛ جهازونه هغه مهال دې سیمې ته نژدې شوې او خپل توغندي ئې توغولې چې د هیئت غړي د ناستې تالار ته رسېدلي او کښېنستلي؛ خو ویل کېږي د لمانځه لپاره بلې خونې ته تللي او خپل مبایلونه ئې په تالار کې پرېیښي؛ اسرائیلي جهازونو هغه ځای په نښه کړی چې مبایلونه په کې پرېښودل شوي وو؛ هلته پنځه تنه (څلور فلسطینیان او یو قطري) وژل شوي او هیئت ته زیان نه دئ رسېدلی؛ صهیونستي رسمي کړۍ خپله ناکامي داسې توجیه کوي چې د محل شاوخوا عام ولس ته د زیان نه رسولو په موخه ئې داسې توغندي کارولې چې یوازې د ناستې محل تخریب شي او خوا ته ئې کورونو ته زیان ونه رسېږي!!

هغه څېړونکي چې ټوني بلییر او جارد کوشنر ته دا وساطت منسوبوي پر دې استناد کوي چې دواړه د صهیونستانو کلك حامیان او د نتنیاهو معتمدې څېرې دي؛ دواړو تر دې پېښې یولس ورځې وړاندې د اګست په ۲۷، ۲۰۲۵ نېټه، له ټرمپ سره د غزې په ارتباط تفصیلي غونډه درلوده؛ ظاهري اجندا ئې بل څه خو اصلي موضوع د نتنیاهو له وړاندیز سره د ټرمپ توافق تر لاسه کول وو. دا دئ عملاً د دې غونډې پایلې

راڅرګندي شوې!!

ټوني بلییر له کلونو کلونو راهیسې د اسرائیل په ملاتړ کې ډېر ښکاره دریځونه لرلي او د فلسطیني قضیې په تړاو د "منځګړیتوب" تر نامه لاندې ئې تل د صهیونیستانو د ګټو مدافع وکیل پاته شوی. او جارد کوشنر د ټرمپ زوم دئ؛ له نتنیاهو سره نژدې شخصي او سیاسي اړیکې لري او د هغه کورنۍ له اوږدې مودې د اسرائیل د ښې اړخو د مالي ملاتړ کوونکو له ډلې شمېرل کېږي. پر دې سربېره؛ نتنیاهو څو ځله په ښکاره او پټه؛ د حماس د مشرانو د حذفولو غوښتنه کړې؛ آخرې هڅه ئې دا وه چې د ټرمپ زوم او ټوني بلییر د هغه د قانع کولو لپاره واسطه کړي؛ دا د هغه د راضي کولو تر ټولو اغېزمنه وسیله وه؛ د دوحې عملیات ښيي چې په ګډه تر سره شوي؛ له برید وروسته د ټرمپ له بیان په بشپړ وضاحت سره معلومېږي چې نه یوازې د نتنیاهو له وړاندیز سره ئې موافقه کړې بلکې هر څه ئې د ده په امر تر سره شوي؛ او العدید اډې ته هم د ده له لوري امر شوی چې په برید کې برخه واخلي او لازم تسهیلات مهیا کړي؛ په خپل رسمي بیان کې ئې هم برید ونه غندلو، بلکې د حماس مشرانو وژل ئې مهم هدف وګڼلو!!؛ دا ئې هم وویل چې له برید خبر شوی خو د مخنیوي لپاره ئې کافي وخت نه درلود؛ چې یقیناً قبیح درواغ دي؛ د قاطع تأیید پر ځای ئې د برید په اړه دوه خبري کړې؛ بې انتهاء نرمي خبري: غیر ضروري اقدام ئې ګڼلی او دا چې د امریکا او اسرائیل اهدافو مخکې بېولو سره مرسته نه کوي!! او دا هم هغه مهال چې برید ناکام شوی!!

## امریکا په کوم لوري روانه ده؛ په ځوړ که په لوړ؟

نړۍ‌وال وضعیت ښيي چې له مخکیني یوه قطبي حالت د وتلو او د ګڼ قطبي کېدو په لوري په ګړندیو ګامونو روانه ده؛ امریکا په ټولو هغو جګړو کې له ماتې سره مخ شوه چې د یوویشتمې پېړۍ په لومړۍ ربع کې ئې پیل کړې؛ شروع ئې له افغانستان وه؛ عراق، سورېې، یمن،

لیبیا، سودان، سومال، لبنان، ایران او ... ته ئې وغزوله؛ اوکراین او غزه ئې وروستي پړاوونه دي؛ نن په داسي موقعیت کې ده چي له وړې غزې پرته په بل هیڅ ځای کې د کومي مهمي لاسته راوړني انتظار او هیله نه لري. غزه هم په ستوني کې ورته نښتی هډوکی دئ. په دوو کلونو وحشیانه او بې رحمانه وژنو او ورانولو او په لسگونو زره ټُنه باروتو ورولو سره ونه توانېدل مقاومت وځپي او پر اوضاع مسلط شي؛ نن له سخت شرم، سپکاوي او رسوایۍ سره مخ دي؛ دې وضعیت هم د کور دننه جدي سیاسي لانجې او مخالفتونه تشدید کړي او هم په ټولۍ نړۍ کې د خپل اعتبار او حیثیت د سریع زوال ستونزه ورته زېږولې. چین، روسیه، هند، اروپا، کانادا، برازیل، وینزویلا، د عرب لیگ غړي ... هغه هېوادونه دي چي یا د امریکا خلاف د بېل سیال قطب جوړولو په درشل کې دي؛ یا د وینزویلا په څېر د برید تر گواښ لاندي، یا د هند په څېر چي تر نن وړاندي د چین خلاف د امریکا سټراټیژیك متحد وو خو نن د امریکا په پرتله چین او روسیې ته ترجیح ورکوي، اروپا دې نتیجې ته رسېدلې چي له امریکا سره د ملگرتیا مزي وشلوي او پر خپل ذاتي توان او امکاناتو بسنه وکړي؛ عربان احساس کوي چي امریکا د لوی اسرائیل جوړولو په لټه کې دئ، د غزې جگړه یوازي د اسرائیل او فلسطینیانو جگړه نه ده؛ بلکي د لوی اسرائیل جوړولو گډه جگړه ده چي مهندسي، مدیریت، تجهیز او تمویل ئې د امریکا له لوري دئ؛ له غزې پیل شوې او د نورو وار به ورپسې وي؛ هر یوه سره به ئې چلن داسي لکه له قطر سره!!

۱۱ سپتمبر چي د امریکا په تاریخ کې خپل خاص او نه هېرېدونکی مقام لري؛ سږ کال د دې تاریخي ورځي رارسېدا له ځینو داسي پېښو سره توأم وه چي د ډېرو راتلونکو بدو پېښو غمازي کوي:

۱- د سپتمبر په لسمه د چارلي کرك ترور؛ د ټرمپ لپاره ډېر بد خبر وو؛ هغه د ټرمپ گوند د ځوانانو څانگي ډېر فعال او اغېزمن مشر او د ( Turning Point USA: د امریکا د بدلون پیل) خوځښت مؤسس وو؛ د صهیونستانو ډېر سرسپارلی حامي او مبلغ وو؛ د همدې ۲۰۲۵م کال سپتمبر په۱۰ مه؛ د

(یوتا پوهنتون Utah Valley University) په یوې غونډې کې د وینا په حال کې له لرې واټن څخه وویشتلو او ووژل شو؛ غونډه متلاشي او ګڼون کوونکې چې شمېر ئې شاوخوا ۳,۰۰۰ وو وتښتېدل او خواره شول. پر هغه له سنایپر ټوپك یوازې یو ډز شوی. د (تایلر رابینسون) په نامه یو ځوان نیول شوی چې ویل کېږي له افراطي چپي افکارو شدیداً متأثر او د چارلي کرك د نظریاتو مخالف وو؛ ټرامپ ویلي چې د کورنۍ یوه غړي ئې په پېژندني او نیوني کې مرسته کړې او باید اعدام شي.

ګرانه ده چې ټرمپ او ګوند ئې د ده تشه په آساني ډکه کړي؛ ځیني په دې باور دي چې که په تېرو انتخاباتو کې د کرك په څېر شخصیتونه د ده په څنګ کې نه وی؛ بریا ئې شونې نه وه.

دې پېښې وښوده چې: ۱- امریکا د ټرامپ د ادعاء خلاف نه یوازې خوندي نه ده؛ بلکې ناامني ئې تر پخوا ډېره زیاته شوې؛ ۲- په امریکا کې د سپیني ماڼۍ له صهیونست پلو سیاستونو سره ولسي مخالفت اوج ته رسېدلی؛ چارلي کرك د صهیونستانو په حمایت کې د افراط له کبله وژل شوی؛ تایلر رابینسون چې د پوهنتون یو ممتاز محصل او په لوړو نمرو پوهنتون ته بریالی شوی وو؛ د چارلي کرك د ترور لپاره یوازې یوه هڅوونکې درلوده؛ د صهیونیزم په حمایت کې د هغه افراطي نظریه.

حقیقت دا دئ چې په غزه کې چې د صهیونستانو وحشیانه جنایات، د فلسطینیانو پراخه نسل وژنه، د ښځو، ماشومانو او بې وسلې وګړو په شمول؛ له استثناء او توپیر پرته پر هر کور، جومات، روغتون، د مهاجرینو پنډغالو، ښوونځیو، مارکیټونو او ... ستر ستر ماڼونه ورول، د غزې۹۰٪ په لویو لویو ماڼونو او راکټونو ورانونه؛ او هغه څه چې د انسانیت له ټولو پولو اوښتنه ګڼل کېږي؛ په ټولې نړۍ کې ئې د دوی خلاف سخته او ژوره کرکه پارولې؛ په امریکا کې دا کرکه تر نورو سیمو او هېوادو ډېره زیاته ده؛ د چارلي کرك ترور ئې یوه خو ډېر بارزه نښه او بېلګه ده؛ په همدې ورځ؛ د سپیني ماڼۍ خوا ته په یوه رسټورانټ کې ټرامپ او ملګري ئې د امریکایانو له همدې کرکې او نفرت سره مخامخ

شول او څو نجونو او هلکانو؛ د ده په وړاندې خپل غبرګون وښود او ټرامپ ئې د امریکا هټلر ونومولو؛ تفصیل ئې لږ وروسته وړاندې کوم.

په اطمئنان سره ویلی شو چې د (چارلي کرک) د ترور تر شا د دغې کرکې او نفرت خپله ونډه ده؛ ښایي داسي وخت راورسېږي چې هیڅ صهیونست او د هغه حامي به د نړۍ په هیڅ ګوټ کې خوندي نه وي؛ همغسي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي: پر یهودانو به د دوی د ظلمونو او شرارتونو له کبله داسي وخت راشي چې که د ډبرې تر شا پټ وي نو هغه به وايي: راشئ یهودي زما تر شا پټ دئ وئې وژنئ!! که څه هم دا روایت د سند له پلوه غریب دئ او په معروفو کتابونو کې له مسلم او بخاري پرته په بل کتاب کې نه دئ راغلی:

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ؛ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يُقَاتِلَ الْمُسْلِمُونَ الْيَهُودَ؛ فَيَقْتُلُهُمُ الْمُسْلِمُونَ حَتَّى يَخْتَبِئَ الْيَهُودِيُّ مِنْ وَرَاءِ الْحَجَرِ وَالشَّجَرِ؛ فَيَقُولُ الْحَجَرُ أَوِ الشَّجَرُ: يَا مُسْلِمُ، يَا عَبْدَ اللهِ! هَذَا يَهُودِيٌّ خَلْفِي فَتَعَالَ فَاقْتُلْهُ.... رواه مسلم**

کرک په خپلو غونډو او رسنیو کې څو څو ځله ویلي چې امریکا باید د اسرائیل ترڅنګ ودرېږي، دی د ټرمپ MAGA خوځښت کې فعاله او مخکښه څېره وه؛ MAGA د (Make America Great Again: امریکا بیا ستره کړئ) مخفف دئ؛ او دا د ډونلډ ټرمپ د ۲۰۱۶م کال د ولسمشرۍ انتخاباتو کې د کمپاین اصلي شعار او نښه وه؛ چې وروسته د هغه د پلویانو د سیاسي او ټولنیز خوځښت د نوم په توګه وکارول شو؛ د کرک په ترور سره په دې خوځښت کې لویه تشه رامنځته شوه او د ځوانانو په لیکو کې ئې یوه کلیدي څېره له لاسه ورکړه. دې پېښې د ټرامپ د تکراري ادعاء اعتبار هم له منځه یووړ؛ او ټولو ته ئې وښوده چې د امریکا امنیتي وضعیت تر وړاندې لا زیات خراب شوی؛ نړۍ ته ئې هم د امریکا ضعف او د امنیتي تدابیرو کمزورتیا جوته کړه.

ټرمپ د ناامنيو زياتېدو مخنيوي تر شعار لاندې په ځينو سيمو کې د واشنګټن ډي سي په شمول د ملي ګارډ (National Guard) پرسونل مستقر کړل؛ که څه هم د دغو سيمو محلي مسئولينو له دې پرېکړې سره مخالفت کړی؛ او عام ولس هم عکس العملونه وښودل، د سپټمبر په ۶مه زرګونو مظاهره کوونکي په واشنګټن کي سړکونو ته راووتل؛ دا شعارونه ورکول: "End the D.C. Occupation: واشنګټن آزاد کړئ" د خلکو اعتراض پر دې وو چې ولې د ښار امنيتي چارې د مخکينيو محلي پوليسو پر ځای فيډرل پوليسو ته سپارل شوې. خو دوی نه يوازې ناامني مهار نه کړی شوه بلکې لمن ئې لا زياته پراخه شوه او خبره د مهمو څېرو ترور او د سپيني ماڼۍ خوا ته رسټورانټ کې د جمهور رئيس تر سپکاوي پوره ورسېده.

## له ټرامپ سره په رسټورانټ کې څه وشول؟

ډونالډ ټرمپ د سپتمبر په نهمه د شپې له لوري په ناڅاپي او بې مخينې توګه؛ د خپل ټيم له مهمو غړو؛ مرستيال، د جګړې (دفاع) وزير او د بهرنيو چارو وزير سره يو ځای د واشنګټن ډي سي يوه پنځه ستوريز رسټورانټ ته چې سپيني ماڼۍ ته نژدې پروت دئ؛ د ډوډۍ لپاره ولاړ؛ دلته خبريالان هم راغوښتل شوي وو او د ټرمپ يو شمېر پلويان هم؛ خبريالانو ته ئې وويل: زه د حکومت له ځينو غړو سره په داسي حال کې د واشنګټن ډي سي په منځ کې؛ دې هوټل ته د ډوډۍ لپاره راغلي يو چې په تېر يوه کال کې دا سيمه ډېره ناامنه وه؛ داسي کار مو درې څلور مياشتي مخکې نه شو کولی؛ په دې سره ئې غوښتل ثابته کړي چې دا امنيت د ده د هغه تصميم په برکت رامنځته شوی چې شاوخوا يوه مياشت وړاندې ئې د اګست په ۱۱مه، د ملي ګارډ ځواکونه په واشنګټن ښار او ځينو نورو سيمو کې مستقر کړل؛ هغوی د پلټني پوستې جوړې کړې او د هغو نيول ئې پيل کړل چې په ناامنيو کې په لاس درلودو تورن وو او يا د ناقانونه کډوالو شک پرې کېدو؛ او ګواکې په همدې سره د

ناامنیو او جرمونو مخنیوی شوی. خو چې خبرې ئې پای ته ورسېدې؛ تالار ته تر ننوتلو وړاندې؛ د خپل انتظار خلاف؛ د معترضینو له توندو شعارونو سره مخ شو. څو نجونې ئې مخې ته راووتلې؛ په داسې حال کې چې د فلسطین بیرغونه ئې په لاس کې رپول او په لوړ غږ ئې دا شعارونه ورکول:

**Free D.C, Free Palestine, Trump is Hitler of our time**

واشنګټن آزاد کړئ، فلسطین آزاد کړئ، ټرمپ زموږ د عصر هیټلر دئ

په خپره شویو ویډیوګانو کې ښکاري چې ټرمپ په پیل کې حیران وو څه وکړي، ناچار ئې د معترضینو شعارونو ته غوږ نیولی وو، وروسته ئې حوصله پای ته ورسېده او په غوصې سره ئې خپلو ساتونکو ته امر وکړ چې معترضین د ده له مخې لرې کړي. د معترضینو له ډلې یو کس په ډېر لوړ او له احساساتو ډک غږ د ټرامپ پلویانو ته وویل: «تاسو باید پر دې وشرمېږئ چې ټرمپ ته هرکلی وایئ!» هغه یو بل هیټلر دئ؛ د امریکا جمهور رئیس د ټولو هغو ویرجنو پېښو مسئول دئ چې په «پورټو ریکو، فیلیپین، وینزویلا او فلسطین» کې رامنځته شوې.

دا غونډه په دې موخه ترتیب شوې وه چې ټرمپ امریکایانو ته وښیي؛ د واشنګټن په شمول په ځینو ښارونو کې د محلي امنیتي ځواکونو په عوض د ملي ګارډ ځای پر ځای کول یو ضروري او مؤثر اقدام وو چې ګواکې له کبله ئې مخکینۍ ناامني او بد نظمي پای ته رسېدلې؛ په داسې حال کې چې مخالفین ئې وایي: دا غیر قانوني او د امریکایي نظام د اساسي اصولو خلاف اقدام او د ټرمپ هغه هڅه ده چې غواړي له دې لارې محلي حکومتونه تضعیف؛ صلاحیتونه ئې غصب او د خپلې دیکتاتورۍ مزې مضبوط کړي. د یوې نظرپوښتنې له مخې د واشنګټن ډې سې نژدې ۸۰ سلنه اوسېدونکې؛ د دې اقدام مخالفت کوي؛ نه غواړي په ښارونو کې فیدرالي ځواکونه او ملي ګارډ ځای پر ځای شي. دا د امریکا د قانون او فیدرالي سیستم د اصولو خلاف عمل ګڼي. دا پلان په نورو ښارونو کې هم له ورته محلي مخالفت سره مخ شوی.

حقیقت دا دئ چې د ټرامپ وروستیو کورنیو او بهرنیو سیاستونو؛ مخصوصاً د صهیونستانو په حمایت کې له ټولو انساني او اخلاقي پولو اوښتل او د حماس د سولې په مذاکراتي هیئت د امریکا او اسرائیل ګډ هوايي برید؛ د دې هېواد خلاف په داخل او خارج کې د نفرت او کرکې کچه انتهاء ته رسولې؛ نور هغه هم پرې اعتماد نه شي کولی چې د امریکا نږدې دوستان وو؛ د قطر لومړی وزیر د حماس پر هیئت د برید په ارتباط وایي: "له موږ سره خیانت وشو"؛ واضح ده چې هدف ئې له امریکا پرته بل هیڅ لوری نه شي کېدی؛ هر څوك پوهېږي چې دا برید د امریکا په مرسته تر سره شوی؛ اسرائیل برید کړی او امریکا خیانت. د امریکا له مرستې او موافقې پرته اسرائیل قطعاً دا برید نه شو کولی.

## تتمه

## د فلسطینیانو د آزادۍ او ژغورنې بدیلونه

د صهیونستانو له ظلمونو او وحشیانه بریدونو د فلسطینیانو د ژغورنې دوه محتمل او ممکن بدیلونه شته:

الف: له دوی سره همغسې کار وشي چې په بوسنیا کې له یرغلګرو صربانو سره وشو؛ د ناټو له لوري پر یرغلګرو صربانو پراخ هوايي بریدونه؛ دومره چې هغوی ئې اړ کړل له بوسنیا ووځي او مستقل دولت ئې ومني. خو دلته په فلسطین کې نه ناټو دا کار کوي، نه امریکا د دې اجازه ورکوي، نه بل داسې نړۍوال مستقل ځواك شته چې داسې کار وکړی شي او نه په اسلامي او عربي هېوادونو کې د دې همت او جرأت لیدل کېږي. کاش امت د غزې مؤمن، مقاوم او مېړني مجاهدین یوازې نه وی پرېښي او د رښتینو انصارو په څېر ئې د دوی مرسته کړې وی؛ د اسلامي امت د تېر مجد او عظمت د اعادې لپاره همدا دوی کافي ول؛ خو له بده مرغه له دوی سره جفا او خیانت وشو؛ نو ځکه نن د اسلامي

هېوادو پلازمېني هم د دښمن له بریدونو او ګواښونو خوندي نه دي. او دا د الله تعالی ثابت او دائمي سنت دئ؛ چا چي د مظلوم خلاف د ظالم ملګرتیا وکړه؛ د همدې ظالم په لاس به سزا ورکوي؛ چا چي خپل مسلمان ورور په سختو ورځو کې یوازې پرېښود؛ داسي ورځ به پرې راولي چي د بل مرستي ته به اړ وي خو نه به آسمان کې مرستندوی مومي او نه په زمکې کې.


ب: د حماس د برید په څېر برید له دریو لوریو: بیروت، سوریه او د فلسطین له دواړو برخو (د غزې ترانګه او د اردن سیند غربي غاړه). سوریه او لبنان تر نورو وړاندي او د سیمي نور هېوادونه؛ د ترکیې په شمول ورپسې؛ باید دا درك کړي چي په غزه کې د اسرائیل او امریکا بریا به له شك پرته دوی ته ډېري بدي پایلي ولري؛ ښایي همغه څه به ورسره وشي چي له غزې او بیا لبنان او ایران سره وشول؛ په ټول ډاډ او اطمئنان سره ویلې شو چي د غزې مقاومت د دوی، د ټولي سیمي او د ټولي اسلامي نړۍ جنګ دئ او د اسلامي امت برخلیك ورپوري تړلی.

اسرائیلي مقامات وایي: د حماس پر مشرانو د برید منصوبه په سر کې داسي جوړه شوې وه چي برید به په ترکیه کې تر سره کېږي؛ خو وروسته د ترکیې پر ځای قطر غوره شو!!

قطر په خاص ډول او عربي هېوادونه او ټول هغه چي صهیونیزم ئې ګواښي؛ په عام ډول؛ د خپل حیثیت د جبران لپاره فقط یو اغېزمن کار کولی شي او هغه دا چي متحد شي، ګډ دریځ غوره کړي، پر ځان بسیا شي، خپل امنیت پخپله وساتي او ټولي امریکایي اډې له سیمي وباسي؛ یوازي همدا ئې زیانمن شوی حیثیت هم جبرانوي او له راتلونکو ورته پېښو ئې هم خوندي کوي.

د مجاهدو فلسطینیانو د نژدې او ډاډمني بریا په هیله
او د اسلامي امت د تېر مجد او عظمت د احیاء په طمع

د فلسطین په حمایت کې د سترو سترو تظاهراتو څو انځورونه
















STOP
GENOCIDE
NO
JUSTICE
NO
PEACE
FREEDOM
PALESTINE
الحرية
لفلسطين


AL-AWDA
NY
العودة
THE PALESTINE RIGHT TO
RETURN COALITION




ATUREM EL GENOCIDI A PALESTINA
PROU COMERÇ D'ARMES AMB ISRAEL



پر غزې د پراخو بم ورونو او ورانیو څو دردناک انځورونه



















د میثاق ایثار نشراتي اداره
کابل - دارالامان
Tel: ۰۷۷۰۴۰۱۰۱۷